# تیر ایان او ژبه یې



Ketabton.com

ذکریا ملاتړ

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پيل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهير کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترځ کې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريك په ياده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهير کې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ کړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دى د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير کې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا کړې او دا فرهنګي بهير يې بريالى کړى، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (تیرایان او ژبه یې) اثر په اړه

## دلاربښوداستاد په توګه نظر:

د ژبپوهنې په پراخه ورشو کې یوازې ژوندۍ ژبې نه څېړل کیږي، بلکې مړې او له منځه تللې ژبې هم تر څېړنو او پلټنو لاندې نیول کیږي. زمونږ پیاوړي استاد څېړندوی زکریا ملاتړ همداسې یوې ډېرې درنې چارې ته اوږه ورکړې ده. د خپل علمي کار د بشپړولو د پاره یې د پوهانو نظرونه او څرګندونې له پامه نه دي غورځولې او تر ټولو مهمه یې دا ده، چې ځان یې ستړی کړی دی او په دې برخه کې یې ساحوي څېړنه هم کړې ده. ساحوي څېړنه د یوې موضوع د سپیناوي په مورد کې د خپل ځان سره پخې پایلې لري او د یوه پاخه سند په سترګه ورته کتل کیدای شي.

د اثر لیکوال د کتاب په لومړي څپرکي کې د موضوع په اړه د پوهانو څرګندونې راوړې دي، چې په رښتیا هم د تیرایي ژبې په باره کې ډېر ګټور مواد په کې تر سترګو کیږي.

د کتاب په دویم څپرکي کې لیکوال د تیرایي ژبې او تیرایانو په اړه غږیدلی دی او د تاریخ د پوهانو د څېړنو پر مټ یې ددې قوم سلسله جوته کړې او د ښه وضاحت په موخه یې په جدولونو کې ښودلې ده. دا ډول کړنه د موضوع پیل او پای معلوموي او نورو څېړنو ته هم لار هواروي، د همدې څپرکي په لړکې د تیرایانو پخواني (لومړني) میشتځایونه ښودل شوي او هغه لاملونه هم په ګوته شوي دي، چې تیرایان یې د خپلو سیمو پرېښودلو ته اړ کړي دي زما په فکر دا هغه معلومات دي چې په تاریخي څېړنو کې هم د یوه څړیونکي سره پوره مرسته کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داثر په دریم څپرکي کې د تیریانو او ددوي د ژبې په باره کې د پوهانو نظرونه راوړل شوي او په دووبرخو ویشل شوي دي، چې په پیل کې د کورنیو پوهانو او څېړونکو او تر هغو وروسته د بهرنیو پوهانو نظریات راوړل شوي دي. د کورنیو پوهانو په نظریاتو کې د تیرایانو په باره کې د نورو معلوماتو تر څنګ دا دوه ټکي ډیر مهم دي یو دا چې تیرایان په پخواکې بت پرستان وو او د سلطان شهاب الدین غوري له خوا په (۲۰۰-۲۰۱ هـ) کالونو کې مسلمانان کړی شول، دویم دا چې ددوی ژبه د سانسکریټ څخه راوتلې ژبه ګڼل شوې ده. دایادونه پوهانو ته ددې امکان ورکوي چې د تیرایي ژبې د پاتې شویو (لاس ته راغلیو) توکو پر بنسټ په دې برخه کې څیړنې وکړي او دا ښکاره کړي چې دا نظر تر کومې اندازې پورې د منلو یا رد وړ دی.

لکه چې یادونه وشوه د تیرایي ژبې په اړه په ترتیب سره د بهرنیو پوهانو نظرونه هم راوړل شوي دي دلته زه یوازې د ګریرسن د نظر یادونه کوم تر څو د تیرایي ژبې لوړې ښه څرګند او ښکاره شي.تیرایي ژبه د (داردیک) له نورو څانګو لکه (کالاشا)، (ګوارباتي)، (پشه یي)، د ګلګیټ (شینا)، د اندوس (کوهستاني) او (کشمیري) سره نیږدې تړاو لري لکه د مثال په ډول د تیرایي (مالا) مانا(پلار) د شینا (مالو) او د (وت) لفظ مانا (ولاړ) په کشمیري کې د (ووت) سره یوه رېښه لري.

دا څرګندونې دا ښیې چې پورتنۍ ژبې د خپلوۍ پخه تنسته لري او اصل یې یو دی.

په همدې څپرکي کې دا ویل، چې د تیرایي ژبې یو شمیر اصطلاحات د سانسکریټ پخوانۍ ژبې د لغاتو سره نیږدې دي اساس به یې جعرافیوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

موقیعت وي. په هر صورت دا او دې ته ورته نور ټکي چې په دې علمي اثر کې تر سترګو کیږي پوهانو ته د اوږدو څیړنو امکانات برابروي.

په همدې څپرکي کې د تیرایی ژبو د غږ پوهنې ستونزې هم په ګوته شوي دي او دا ویل شوي دي چې په دې ژبه کې دار ټیکل ځرګند ټکی نشته په همدې ډول دا هم ویل شوي دي، چې په دې ژبه کې داسې کافي مواد نه لرو چې د مذکرو اسمونو څخه د ښځینه نومونو په جوړولو کی د فرمول په ډول کار ورکړي خو ډیر ښځینه نومونه په دی(ې) پای ته رسیږي. د همدې څپرکي په اوږدو کې د تیرایی ژبې په ګرامري جوړښت باندی اوږدې خبرې شوي او د توان او امکان د اندازې پورې یې ټول اړخونه څیرل شوي دي او د لزوم په صورت کې جدولونه هم راوړل شوي دي.

د دې اثر په څلورم څپرکي کې د اندو اروپايي ژبو په ډله کې د تیرایي ژبې موقیعت ( دريځ ) باندې خبرې شوي دي چې داردي ژبې د اریایي ژبو په ډله کی شمیرل کیږي. په دې څپرکي کې داردي ژبې په دریو څانګو ویشل شوي دي.

۱- لویدیځې داردي ژبې

۲- مرکزي داردي ژبې

۳- ختیځې داردي ژبې.

په دې برخه کې چې په هره څانګه پورې کومې ژبې تړلي دي په دې څپرکي کې ډیر په زړه پورې روانه تشریحې یادونه شوې ده.

هغه څانګه چې تیرایي ژبه ورته منسوبه ده د مرکزي داردي ژبو د څانګې په نوم یاد شوې ده او دا ترې ځرګندیږي چې د دې څانګې اړوندې ژبې د نورو په پرتله ډیرې سره نیږدې دي، دا هم جوته شوې ده چې تیرایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه د دې څانګې په جنوبي اړخ پورې تړلې ده. چې (پشه يي ،شوماشتي، نګلامي، وټه پوري ، ګواري ، کلشي، خواري ) په کې شاملې دي. دا ويش د څېړنې د پاره ځکه ارزښت لري ، چې د ژبو تر منځ ډېره نېږدې خپلوي زباتوی.

په دې څپرکې د يادونې بل ټکې دا دي چې د پښتو ژبې سره د تيرايي ژبې اړيکه يوازې د ګاونډيتوب په نوم ياد شوی او ويل شوي دي چې په همدې علت يې ډيرې پښتو کلمې خپلې کړې او عربي کلمات هم د پښتو له لارې دغې ژبې ته ورننوتي دي. د دې ژبې د ټولې فونيميکي الفباد د پاره د کلمود پيدا کولو د نشتوالي علت هم ښودل شوې او هغه دا دې، چې دا ژبه له يوې مخې مړه او متروکه ده. دلته دا ويل شوي دي چې د رسالې د متن تيرايي کلمات د ژبې د الفبا مثالونه تر يو حد پورې بشپړولې شي.

ليکوال دا خبره په متن کې راوړې جدول کې سپينه کړې ده. په دې څپرکي کې د داردي ژبو سره د تيرايي الفبا ډير لږ توپير ته هم نغوته شوی ده. دا يادونه دا څرګندوي، چې محترم ليکوال په څېړنې کې د پوره دقت، پاملرنې او توجه څخه کار اخيستې دی ، او د تيرايي ژبې الفبا جدول يې هم راوړې دی. ليکوال په همدې څپرکې کې د همګروپ ژبو سره د تيرايي ژبې په پرتلنه هم غړيدلې دی او هغه خصوصيات يې ښودلي دي چې د ژبو په منځ کې په نيږدې بڼه او يا هم په متفاوت ډول تر سترګو کيږي.

د اثر ليکوال د داردي ژبو ځينې مورفولوژيکې ځانګړتياوې هم له پامه تير کړې دي او په دې ټکي باندې په تفصيل سره غړيدلي. په دې ژبو کې دايروګاتيف سيستم ته متوجه شوې او ويلی دي چې دا سيستم د فعل په برخه کې د پښتو په شان دی. مګر دا سيستم په ټولو داردي ژبو کې يو شان نه دی او د ګرامري حالت په وجه يو د بل څخه توپير لري. د ليکوال د

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرګندونو څخه ښکاري چې دا ډول مشخصات دا ژبې د نورو اريايي ژبو په څنګ کې دروي.

د همدې څېرکي په اوږدو کې د تيرايي ژبې په ګرامري جوړښت او ځانګړنو باندې خبرې شوې دي. د ذات اسم په برخه کې راغلي دي چې تيرايي ژبه د جنس شمير (مفرد او جمع) او نور ګرامري حالتونه لري. په دې ژبه کې د جنس توپير لږ ليدل کيږي او د کونټکسټ يا قرينې څخه پيژندل کيږي. په تيرايي ژبه کې د مفرد او جمعي صيغې په ګرامري حالتونو سره افاده کيږي او دوه ګرامري حالتونه لري. د جمعې علامه يې يان ښودله شوې لکهmada (وګړى )adamian(وګړي ). د مفرد مونث نومونو په اړه ويل شوي چې کله کله په واول تمام شوي نومونه د جمعې جوړولو د پاره څرګند واو (U) اخلي لکهdi، لور zaāSp(خور) چې جمع يې dun او zunāSpراځي. صفت هم د جنس له پاره بيله بڼه غوره کوي لکه Sura (وړوکى) Suri (وړوکې) عدد هم د جنس له مخې توپير کوي لکهnaāk (غټ)، niāk(لويه، غټه). صفت په کې تر موصوف د مخه راځي.

په همدې برخه کې د تيرايي ژبې ضميرونو باندې هم رڼا اچول شوې، په فعل، فعلي تعريفونو او نورو برخو باندې ډيرې ژورې خبرې شوې اوځانګړني يې ښودل شوې دي. په دې څپرکي کې د تيرايي ژبې جملې راوړل شوې په پښتو ترجمه شوې او وروسته انالیزشوې دي او د هغه ګرامري برخې ښودلې شوې دي، چې جملې يې جوړې کړې دي. دا کار مونږ د تيرايي ژبې د نحويې سره اشنايي ته رابولي.

ددې اهميت لرونکي علمي – څېړنيز اثر د څلورم څپرکي په وروستيو کې د تيرايي ژبې د ورکيدلو او متروک کيدلو لاملونه ښودل شوي دي. په رښتيا هم دا ډول اودې ورته لاملونه په نړيواله کچه د يو شمير

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبو د ورکیدو سبب ګرځیدلي دي چې نه په علمي لحاظ او نه هم په حقوقي لحاظ د یوه رواعمل په توګه د زغم او تحمل وړ دي. لیکوال په دې برخه کې ډیره لوړه څېړنه کړې او سړی کولای شي وو ایي ،چې په حق باندې یې سترګې نه دي پټې کړې او د علمي موازینو خیال یې ساتلی دی.

په پنځم څپرکي کې د تیرایي ژبې لاس ته راغلي ویپونه او جملې ښودلې شوې دي. تیرایي ویپونه د پښتو ویپونو تر څنګ ایښودل شوي او د هر پښتو ویي په خوا کې د تیرایي ژبې ویي هم راغلي او د تلفظ د پېژندلو په غرض یې د ترانسکرپشن بڼه هم له پامه نه ده غورځول شوې. یو شمیر جملې په پښتو ژبه هم اړول شوې دي او ګرامري خواوې یې هم ښودلې شوې دي. دا مواد که څه هم د حجم له مخې لږ ښکاري، خو د ارزښت له مخې د ډیر قدر وړ دي ځکه کولای شي چې د هغه څېړونکو سره پوره مرسته وکړي چې د تیرایي ژبې مختلفو اړخونو په اړه څېړنې او پلټنې کوي.

ددې اثرد محتوی اهمیت په دې کې نغښتی دی ، چې لیکوال یوازې ماخذونو ته مخ نه دی وراړولی، بلکې د معتبرو ماخذونو په خوا کې یې ساحوي څېړنه هم کړې او لازم مواد یې په ډیر دقیق ډول تر لاسه کړي دي او د هغوی رښتیني ماخذونه یې هم په امانت دارۍ سره ښودلي دي.زما په نظر لیکوال د علمي اصولو پخه پیروي کړې ده.

د اثر لیکوال د کتاب په وروستنۍ برخه کې د (ضمیمې) تر سرلیک لاندې یو شمیر نومونې،اثار، سیمې او د پښتون د ستر ولس ځینې خیلونه په ډیره خوږه ژبه شرحه کړې دي. دې معلوماتو ته په کتو سره سړی ددې توان پیدا کوي، چې په ښه توګه د متن یا د هغه د یوې برخې په مفهوم باندې وپوهیږي او هغه څه خپل کړي، چې په لټون پسې یې ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې کتاب په پای کې د تیرایی ژبې په باره کې د ګریرسن لیکنه چې کافي مواد لري په هیڅ وجه د هېرولو نه ده، ځکه چې هغه ددې علمي اثر ارزښت نوره هم لوړ کړی او داېې ښودلې ده چې لیکوال د څېړنې په اهمیت ډیر ښه پوهیږي.

که د اوږدو خبرو څخه تېرشو، نو زه په لنډډول داوایم، چې:

- لیکوال د اثر په چمتو کولو کې زیات زحمت ایستلی او د باوري سرچینو څخه یې ګټه اخیستې ده.

- د اثر محتوی ډیره لوړه او علمي ده.

- د کتاب ژبه په رښتیا هم ډېره خوږه ، روانه او سلیسه ده.

- دا کتاب په ځانګړي ډول د تیرایې ژبې په باره کې لومړنی یوازینې اثر دی او څیړنکو ته ډیر مواد په لاس ورکولای شي.

زه د دې علمي اثر د چاپ هیله کوم، او د لوی خدای له دربار څخه خپل ګران ورور استاد څیړندوی زکریا ملاتړ ته د نورو بریاوو هیله کوم.

په پښتني مینه !

څیړنوال مولاجان تنیوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقریظ:

## دلوی او مهربان خدای (ج) په نامه

تیرایـان او ژبـه یـې، د هغـه نـوي او تانـد علمـي اثـر نـوم دی، چـې د علوموا کـادمۍ، د بشـري علومـو معاونیـت، د ژبـو او ادبیـاتو مرکـز د ژبپوهنې ځانګې، درانه او عزیز استاد څېړندوی زکریا ملاتړ د هغې علمي مینې او علاقې له مخې، چې د ګران هیواد له او سینو خوږو ژبو او په تېره د آریـا یـې پخوانیـو ژبـو د تحقیـق او پیژنـدنې سره یـې لـري، پـه علمـي مینـه کښلی دی.

لـه ښـه مرغـه ملاتـړ اسـتاد د لـومړي ځل لـه پـاره (تیرایـان او ژبـه یـې) ترعنوان لاندې، په درندې ښې ژبنۍ موضوع باندې په پوره هڅې، هانـد او زیار سره، د ډېر رانه تحقیق په لړکې زیـات علمـي کـار سـره تـه رسـولی دی، چې ایېره، ثمره او حاصل یې د دغې لرغونې ورکـې، او لـه منځـه تللـې ژبـې د بیا راژوندي کولو ډېر لغتونا کلمې، او زیاتې جملې راټولې کړي او د نورو داردي ژبو سره یې د پرتلې او مقایسـې لـه مخـې د کورنیـو او بهرنیـو سـترو ژبپوهانو د علمي اثارو او نظریو له مخې په پوره غور او څېړنې سره کښـلی او د غې مړې ژبې تـه یـې بیـا یـو ځـه د نـوي ژونـد سـاه پـکې پـو کلې اودغـې ورکې او متروکې ژبې ته یې نوی روح ورکړی، چې دراتلونکو څېړنو د پـاره یې په دغه څېړنیز باب د نوې دروازې تمبه خلاصه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر هال ، ما د استاد ملاتړ په دازړه پورې ژبنی کمپوز شوی اثر د خپل وس او توان له مخې تول په ځير سره ولوست، چې د لوست په رڼا کې يې په خپلې کمې پوهې سره دومره ويلی شم:

دغه ژبنې تحقيقي اثر په سريزې برسېره، پنځولويو فصلونو او د ليکوال په ژبه په پنځوڅپرکو کې، ددوو اويا(۷۲) څنګيزو او بغلي وړوعنوانو، پايلې، وړانديزونو او ضميمې کې راغوړېدلې او رغول شوی دی، چې منځپانګه يې په ژبنې متن او موادو ښه غني شتمنه او بډايه ده، چې دهرلوستونکي توجه ځانته وراړوي.

ددغه تحقيقي اثر، په سريزه کې ليکوال د آريايي لرغونو او معاصرو ژبو په پيژندنې باندې لنډې او پخې څرګندونې کړې او هم يې د نورو داردي ژبو په اړه لنډې اشارې کړې، چې د خپلې موضوع غوره والی يې پکې ښه راڅرګند کړی دی، چې مبرميت يې ترې راجوتېږي.

ددغه اثر لومړی څپرکی ليکوال، د موضوع شاليد او پس منظر ته ځانګړی کړی، چې پکې يې د تيرايې ژبې ځنډن موجوديت، بيا يې د دغې ژبې د ورکيدو عوامل، د کورنيو او بهرنيو پوهانو د مستندو نظريو او ماخذونو په ښو دلو سره خپل تحقيق ته د موضوغ په اړه بشپړه څرګندونه کړې. ددغې ژبې سره يې د نورو هم ګروپ ژبو يادونه او ورته والی هم څيړلی. لکه چې جوته ده په دغه ياده موضوع باندې داسې پوره او هر اړخيز کار تر مخه نه دی شوی. په شاليد کې د تيرايانو عام قتل او اوتاراج، چې د روښان پير له خوا سرته رسيدلی يادونه شوې په داردي ژبو کې يې د تيرايي ژبې رنګينی ته هم اشاره کړې او دريغ يې روښانه کړی دی.

ددغه اثر، په دوهم څپرکي کې، د تيرايانو نسب او شجره په پوره رنګ او ښه دداخلي او خارجي پوهانو د هر اړخيزو څرګندونو او نظريو له مخې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د باوري سرچينو، منابعو او ماخذونو په رڼا کې په پوره تفصيل سره رایاد او څرګند شوې دی او د اثر د ښاغلي ليکوال د زړه پورې تحقيق، د څېړنو د اصولو سر سم راځليدلې دی، چې د شجرې له مخې یې تيرايان په کرلاڼی لويې قبيلې پورې اړوند بللي، وايي ددوی ژبه په داردي ګروپ کې پوره روښتيا او موجوديت لري. دلې یې د تيرايانو استوګنځایونه په غور سره د ماخذونو په رڼا کې په ښه رنګ بیان او ښودلي دي، د ليکوال د اثر دا برخه ډېره په زړه پورې ځکه ده، چې د تيرايانو نسب او ژبه باندې یې پوره علمي څېړنه تر سره کړې ده. دلته یې د تيرايانو او روښانيانو تر منځ اړيکي هم په ځانګړې رنګينۍ جوتې کړي او د بايزيد روښان او رمړ د ظلم يادونه یې چې په تيرايانو یې کړی او د له يوې مخې یې په چل او دوکې سره وژلي او ځپلي په ښه رنګ کړې ده.

ددغه څېړنيز اثر دريم څپرکی، د تيرايانو ژبې ته ځانګړی شوی، چې ددغې ژبې د څېړنې په برخه کې یې، د کورنيو او بهرنيو لويو پوهانو او ژب څېړنکو دراندہ نظريات او ليکنې په کره ډول راوړې دي. د اثر ليکوال استاد ملاتړ په دغه څپرکي کې د تيرايي ژبې په غږ پوهنې،

ارتيکلونو، ښځينه او نرينه نومونو، د تيرايي ژبې په ګرامري جوړښت، په فاعلي او مفعولي حالت د جمعې او مفرد په حالت، اضافي حالت، مفعول منه، مفعول له، د صفتونو په حالت د شميرنې په اعداد، ضميرونو او په نورو ګرامري ارزښتونو باندې، د کورنيو او بهرنيو ژبپوهانو د نظريو په رڼا کې ښه په خوند او ټس سره پوره څېړنه کړې ده. چې موضوع یې ښه بشپړه راځلولې او څرګنده کړې ده.

ددغه زړه پورې ښه دراندہ ژبنې اثر څلورم څپرکی یې، داندو اريايې ژبو په ډله کې د تيرايي ژبې دريځ ته ځانګړی کړی دی. په دغه پاخه او کره

(c) ketabton.com: The Digital Library

بحث کې داردي ژبې چې د اریایي ژبو په لویه لړۍ کې دي؛ په ټولو باندې پوره څرګند ونه او پېژندنه شوې، ددغو داردي ژبو په رڼا کې یې بیا په تیرایي ژبه باندې، چې د نورو داردي ژبو سره ورته والی او شباهت لري. د کورنیو او بهرنیو پوهانو د مستندو نظریو او علمي منابعو له مخې څېړلې او مقایسه کړې ده. دلې یې د تیرایي ژبې فونیمیکه الفبا د مثالونو سره په ښه شان راوړې. د تیرایي ژبې ټولې خوایې د پرتلې له مخې د نورو ژبو سره، چې په یوه ګروپ پورې تړلې دي په مثالو څرګندې کړې دي. په دغه برخه کې یې داثر منځپانګه په ټوله ژبني بڼه سره ښه روڼا څېړلې، ډېر زیارېې ایستلی دی، د سیمه ییز ریسرچ مالګه یې هم په ګډه کړې، چې ددغه اثر د موادو په زیاتولو او ټولو کې یې خوند لا ډېر زیات شوی دی. د لې یې د داردي ژبو مور فولوژیکي ځانګړتیاوې هم په ښه شان سره په ګوته کړې او د تیرایي ژبې رنګیني او موجودیت یې پکې ښه بیان کړی دی، چې ددغو داردي ژبو په ګروپ کې یې غوره رنګ او مقام درلود. دلته یې د تیرایي ژبې ټول ګرامري جوړښت او ځانګړنې په ښه ټس او خرپ سره په ښه نیتا څېړلې دي.

چې ددغه ژبني اثر رغښت او ارزښت یې یو په لسه زیات کړی، په دغه برخه کې د استاد ملاتړ زیار د زیاتې یادونې وړ دی، چې خورا علمي خواري او هڅه یې په مینه سرته رسولې ده.

د اثر لیکوال دلته د غې موضوع ته هم پوره پاملرنه کړې ده، چې د تیرایي ژبې دورکیدو او له منځه تلو عوامل یې په پوره توګه څېړلې دي. د زیاتې رڼا او وضاحت د پاره یې دداخلي او خارجي سترو ژبپوهانو نظریې هم ورسره د شاهد په توګه راوړې او څېړلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغه محکم او غوره تحقیقي ژبني اثر په پنځم څپرکي کې یې په ډېر ګڼ شمېر د تیرایي ژبې تر لاسه شوي لغتونو او ګڼو جملو ته ځای ورکړی دی، دا دده د ریسرچ او زحمت حاصل دی، چې ټول لغتونو او جملو یې د معنا سره راجوتې کړې، په پښتو یې ترجمه کړی دي چې لوستونکو ته یې پوره اسانتیا رامنځ ته کړې چې دا د نوموړي د علمي کار بله ارزښتمنه ځانګړتیا او غوره والی دی. دده د دغه ژبني کار حاصل او میوه ډېره قیمیتی او د پوره ارزښت نه ځکه ډکه ده، چې د دغې ژبې لغتونه او جملې یې د پښتو، پشه یي او نورو داردي ژبو سره چې پخواني جرړې، ریښې او معناوې هم لري خیرلي دي.

د اثر لیکوال د تیرایي ژبې یو نظم هم د خپل ریسرچ او پلټنې په زیار کې پیدا کړی، هغه یې هم دلې راوړی. دده دغه کار د دغې مړې ژبې په راژوندي کولو کې پوره هڅه ګڼلی شو. دا نظم، د تیرایي ژبې لغتونه او جملې د پوره سموالي او درستوالي د پاره چې د نیمګړتیا څخه بچ او خوندي وي. په فونیمیک الفبا سره هم کښلي دي، چې د لو ستونکو د پاره یې کار ډېر اسان کړی او په دې سره د لغتونو، جملو او نظم کې د غلطیو مخه هم نیول شوې ده... استاد ملاتړ د مورګنستېرن راپور او ګریرسن انګلیسي بشپړ متن د دغې ژبې په اړه راوړی دی، چې اثر ته یې پوره ارزښت ته غوره والی او سترتوب ورکړی دی...

څېړندوی استاد زکریا ملاتړ، د لیکنې د عمومي دود سره، دا ژبنی په زړه پورې اثر په یوې درندې پایلې (نتیجې) ختم کړی، چې د سپار ښتنو او نتیجې وروسته یې، هغه ماخذونه او سرچینې هم کښلې، چې د دغه اثر د تحقیق په برخه کې یې ورڅخه استفاده او ګټه اخیستې ده، ماخذونه یې د لیکنې د منل شوې لارې سره سم څرګند او ښودلي دي. ده په خپله دغه پخه ژبنې څېړنه او لیکنه کې لیک نښې په پوره دقت سره مراعات کړې. لیکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې په خپله برخه کې روانه، عام فهمه او په ډيره خوږه ساده پښتو يې ليکلې ده، په ليکنه کې تنافر، ځنډ او ځنډ والی نه ليدل کيږي، دروانو اوبو په شان رواني لري، د هر چا د پاره يې لوستنه او مطالعه ډيره اسانه او زړه پورې ده. ما يې په لوستلو کې هيڅ ډول ستونزه احساس نه کړه او په زړه پورې راته وايسيده، په مينه مې ټول اثر مطالعه کړ، د هر چا د پاره يې د تيرايانو او تيرايي ژبې په پيژندنه کې ګټه ډيره ده...

په پای کې د دغه ټکي يادونه کوم، که چېرې د استاد ملاتړ دا ژبنۍ اثر د چاپ او خپرونې په ګاڼه ښکلي شي، ګټه به يې د علم په دنيا کې عامه او زياته شي.

زه دده دغه علمي زيار ستايم، په علمي چارواکي يې د لاډيرو برياليتوبونو هيله او غوښتنه کوم. د اثر د چاپ په برخه کې مې نظر مثبت دی، ځکه موږ دده په دغه اثر سره د دغې ورکې ژبې ترخاورو لاندې لعلونو راسپړلو او لاس ته راوړلو د پاره هڅوي. ملاتړ استاد ته د الله(ج) له دربار او مهربانۍ نه ورته دروغتيا، عزت او پوره خوشاله عمر هيله او دعا کوم.

په درنښت

**خيرنپوه علی محمد منګل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقریظ:

افغانستان یو لرغونی او تاریخي هیواد دی، چې له زمانو راهسې د پیړیو به پوړو کې بېلا بېل قومونه او توکمونه د اسیا لویې و چې په دې جغرافیوي ساحه او قلمرو کې میشت او د همدغو بېلا بېلو ژبو ویونکوورونو قومونو د افغان ملت په نوم یو واحد ملت جوړ کړی دی.

د لوی او تاریخي افغانستان په مېشتو قومونوکې یو هم تیرایان دي. چې د استوګنې لرغونې سیمه او ټاټوبی یې په پښتونخوا کې ((تیرا)) نومې سیمه وه.خو څوپیړۍ د مخه د قومي او قبیلوي شخړو او جګړو له امله له هغه ځایه ننګرهار او د پښتونخوا پیښور ځینو برخو ته کوچیدلي او هورې میشت شوی دي.

د تیرا خلکو د تیراهي به نوم ځانکړی ژبه درلوده او د یو قوم به توګه پخپله سیمه کې او سیدل د تذکره الابرار والاشرار د مؤلف( اخوند درویزه ) له قوله بایزید روښان په لسمه هجري پیړۍ کې دوی له دې سیمې په زور شړلي او پر ځای یې دغلته خپل مریدان (اورکزي او اپریدی پښتانه ) استوګن کړي دي. تیراوال چې په دغه جبری کوچېدنه کې افغانستان او پښتونخوا نورو برخو ته تللي، د قومي لږکیو (اقلیتونو )په توګه به ځینو پښتنو قبیلو ورګډ شوي، دوخت په تیریدو یې خپله ژبه له لاسه ورکړې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښتانه شوي دي. ځینو مؤرخینو لکه د حیات افغاني مؤلف حیات محمد خان، پښتانه د تاریخ په رڼا کې مؤلف ظفر کاکا خیل،د پښتنو قبیلو شجرې لیکوال میرا جان سیال او نورو ددوی د نسب لړۍ په کرلاڼو پښتنو ورګډوي او له پښتنې قبایلو څخه یې ګڼي.

خو واقیعت دادی چې دوی یو ځانګړی قوم دی چې پخوایې خپله ژبه او کلتور درلود ، خو اوس یې هغه له لاسه ورکړی او ژبه یې په مړو ژبو کې شمیر ده.

ځینـــو بهرنیـــو ختیځپوهـــانو لکـــه مارګنســـټرین، ګریرســـیون، کانکوفسکي او نورو ددوی د ژبې او قوم په اړه څېړنې کړي، د تیراهي ژبې ځنـې ویپونـه او عبارتونـه یـې ثبـت کـړي، چـې ورڅخـه ددې ژبـې پـوره ځانګړتوب جوتیږي.

زمـا دمعلومـاتو لـه مخـې معاصـرو افغاني لیکوالـو کـې بـه سـر محقـق دوست شـینواری لـومړنی لیکـوال وي چـې د افغانسـتان ژبـې او توکمونـه نومي اثر کې یې د نـورو ژبـو او قومونـود پیژندنې پـه لړ کـې پـه پښـتو ژبـه ددوی یا دونه هم کړی او تیراهي ژبې ځینې ګرامري ځانګړنې یې ښودلی او ځینـې لغتونـه او عبارتونـه یـی هـم ثبـت کـړي دي. او بیـا ددی اثـر لیکـوال ښاعلي زکریا ملاتړد ۱۳۵۷ لمریز کـال د زیـري کـالنۍ د تیرایـان او تیراهـي ژبه تر سرلیک لاندې یوه مفصله مقالـه لیکلی او پـه کـالنۍ کـې خپـره شـوې وه.

کلونو کلونه وروسته چې نوموړی د هجرت له تاتوبي (پښـتونخوا ) څخـه هیواد ته راستون شو ، او د علومو اکاډمی د ژبو او ادبیاتو مرکز پښتو ژبې او ادبیاتو دانستیتوت په علمـي غړیتوب ومنـل شو. نـو د علمـي څېړنیـزې پروژې په توګه یې همدغـه موضـوع د څیړنـدوی علمـي پوړتـه د لوړیـدو لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاره و ټاکله، سره له دې چې د موضوع شالیدته په کتنه په دې باب ډیرې لږې څېړنې شوې، نو ددې مړې ژبې او مخ په ورکیدونکی قوم په اړه څېړنې ډیرې ستونزې لرلې خو نوموړی، د ډیرو ستونزو په ګالللو له مفرداتو سره په سمون کې په دې اړه پراخه څېړنې وکړې او د هغو پر بنسټ یې دا لیکنه تر ممکنې کچې په دې لاندې پنځو څپرکو کې په دې ترتیب سر ته ورسوله:

په لومړي څپرکي کې د معمول سره سم د هغو څېړنو ځرنګوالي ته کره کتنه شوې چې پر دې باب د مخه تر سره شوي دي. په دویم څپرکي یې د تیرایانو د نسب لړۍ او شجره ، د تیرایانو میشت ځایونه او په ضمني توګه له روښانیانو سره ددوی په مخالفتونو بحثونه راغلي، چې لوستونکو ته دغه قوم ورپیژني.

په دریم څپرکي کې د تیرایانو د ټبر او د هغوی د ژبې په اړه د ځینو کورنیو او بهرنیو پوهانو نظریات په ډیر لنډیز سره راوړل شوي، چې دا هم ددې قوم د پیژندنې به اړه له لوستونکو سره مرسته کولی شي.

څلورم څپرکي مود اندو اروپایي ژبو په ډله کې د تیرایي ژبې له دریځ او موقف څخه خبروي. لیکوال تربیلا بیلو سرلیکنو لاندې له نورو هم ګروپ ژبو سره د تیرایي ژبې پر تلنه کړې، ددې ژبې به ګرامري جوړښت او نورو ځانګړنو یې په زړه پورې بحثونه کړي او په پای کې یې ددې ژبې د مړه کیدو او له منځه تلو اصلي لاملونه هم په منطقي ډول ښودلي دي. په وروستي (پنځم) څپرکي کې ددغه مړې شوې ژبې ځینې تر لاسه شوي و بیونه ،جملې بیلا بیل عبارتونه او یو نیمګړی شعر هم خوندی کړی دی.

زه د لیکوال د هم مسلکي او په یوه فرهنګي اداره کې د نږدې همکاره په توګه ددې شاهد یم چې نوموړې ددې څېړنې په بهیر کې د موادو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلوماتو د نه شتون له امله د ځومره ستونزو او کړاوونو سره مخامخ و، ځکه چې هغه د يوې مړې ژبې او ځانګړي قوم( تيرايانو ) په اړه خيړنه کوله، د داسې قوم په اړه څېړنه د معلوماتو پلټنه او راټولو نه، چې اوس په پښتني قبليو کې ورګډ شوی دي خپله ژبه يې هيره کړې، ورکه کړې او بالاخره مړه شوې ده. رښتيا چې ډير ستونزمن کار دی، خو ښاغلي ملاتړ صاحب چې د ډيرو نه سترې کيدونکو هلو ځلو په نتيجه کې د تيرايي ژبې او قوم په اړه دامواد او معلومات راټول کړي، زه يې ډير ارزښمن پوره او غنيمت بولم ستاينه يې کوم او په دې باوري يم د هغه چا له پاره چې په دې اړه نورې خيړنې کوي ښه ګټور معلومات په لاس ورکوي.

په پای کې ليکوال ته ددې اثر د چاپ او خپراوي له امله مبارکي وايم، د لوی څښتن تعالی په دربار کې ورته د روغتيا او د نورو غوره فرهنګي خدمتونو د تر سره کولو له پاره د برياليتوبونو هيله او دعا کوم.

په درنښت

خيړنپوه سيد محی الدين هاشمي

د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

زموږ هېواد چې دلرغونو او معاصرو آريايي ژبو اصلي ټاټوبی او زانګو ده. دآريايانو دلېږد له مخې ورسره يو شمېر ژبې ختيځ او يو شمير نورې يې لويديځ لور ته تللي دي او هم يو شمير آريايي قومونه په خپل اصلي ټاټوبي کې پاتې شول او دبېلابېلو عواملو پر بنسټ يې يو او بل لوري ته لېږد وکړ.

دوخت په تېرېدو سره دمختلفو عواملو له مخې يو شمېر ژبې يا کمزورې شوي او يا هم له منځه ولاړې، تيرايي ژبه زموږ دهېواد هغه لرغونې ژبه وه، چې په خپل اصلي ټاټوبي کې زېږېدلې او دځينو لاملونو له مخې له منځه تللې ده.

د وخت په تېرېدو سره د مختلفو عواملو له مخې يې يو شمېر ژبې يا کمزورې شوې او يا هم له منځه لاړې. تيرايي ژبه زموږ د هېواد هغه لرغونې ژبه وه، چې په خپل اصلي ټاټوبي کې زېږېدلې او د ځينو لاملونو له مخې له منځه تللې ده.

کله چې زه د سيمې په کليوالي ښوونځي کې شامل شوم او په ليک لوست يو څه وپوهېدم، نو خپله تذکره مې چې پلار راته په کوچنيوالي کې جوړه کړې وه، وليده، دقوم په خانه کې يې تيرايي ليکل شوي وو، ما هغه وخت دخپل پلار څخه پوښتنه وکړه، چې موږ په قوم باندې څوک يو؟ هغه راته وويل چې موږ په قوم باندې مومند يو، نو ماورته وويل چې زموږ په تذکرو کې خو تيرايي ليکل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار مې راته وویل دا دهغه وخت دکاتبانو او میرزایانو دناخبرۍ او ناپوهې له امله شوی کار دی، اوس دا سې لیکل شوي، تیرا یې په مومند اړول کړاو غواړي.

اروانباد پوهاند صدیق الله رښتین (دننګرهارننداره) نومې سفر نامه کې هم دا شان ورته موضوع ته اشاره کړې ده، چې په رښتیا سره دا هم یوه لویه تېروتنه ده.

دشیرشاهي (حصار شاهي) په سفر کې لیکي: ((...ددې ځای اکثره خلک دناخبرۍ او یا په دفترونو کې دمیرزایانو دلیکنې له امله دخپل نوم سره تاجیک لیکي، مګر دا خبره بالکل غلطه او بې اساسه ده، ځکه چې ددې ځای اوسېدونکي په پنځو خېلونو وېشل شوي دي.

علي محمد خېل، ګاسي خیل، ښادي خیل، حسن خېل، نته خېل، چې دادخېلونو وېش او تقسیمات بې له پښتنو نه په بل چا کې نشته، دشیرشاهي لوستي او پوه کسان دې تاریخي غلطۍ ته متوجه شوي دي او ځانونه په لویه پښه کې مومند بولي. ))[1]

همدا شان دکوټ درې خلک هم درواخله، په کوټ او بټیکوټ کې اکثره لوی کلي هم په خېلونو مشهور او یادیږي، چې دلته دیو څو کلیو نومونو ته دمثال په ډول اشاره کوو، چې دکوټ او بټیکوټ خلک یې اکثره دنومونو سره بلد دي.

لکه: طاووس خېل، باره خېل، انارخېل، شاش خېل، هیبت خېل، حیدر خېل، عمر خېل، نصرت خېل، جاني خېل، سیداحمد خېل، عمراخېل، فروخشاه خېل، شمه خېل، سدوخېل اونور.

---

[1] پوهاند صدیق الله رښتین ، دننګرهار ننداره ، یونیورستي بک ایجنسي ،پېښور ، ۱۳۷۴ل کال ، ۲۲مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداشان په کوټ کې د داسې ځایونه نومونه هم شته، چې په احتمالي ډول د اسلام د مقدس دین څخه وړاندې دورو سره تړاو لري،لکه مطراني، چوغاني، میتیاني، چنګړ، ګیزواني، ختواني، ډواني، کټیاني، بنډوک چې اوس هم په دې نامه یادیږي.

کوټ او بټیکوټ چې د ننګرهار ولایت په اداري تشکیل کې دوه ولسوالۍ دي، د دې سیمې د اوسېدونکو په اړه د دې خبرې سپیناوی په ضرور کار دی، چې دوی له یوې مخې تیرایان دي او که څو محدودې کورنۍ ورته مهاجرې شوي دي.

اخوند درویزه ننګرهاری او نور څېړونکي په دې نظردي، چې تیرایان د پیرروښان د ظلم له امله له تیرا څخه وایستل شول او ځینې کورنۍ یې ننګرهار ته په کډه راغلې.

خو د سیمې خلک بیا داسې وایي، چې په پخوا وختونو کې د شینوارو او اپریدو له خوا په کوټ باندې حمله شوې وه، د میر خوش پر مشرۍ د کوټوالو یوه درنه جرګه د غره مومندو ته لاړه د مومندو له خوا دا حمله پر شا وتمبول شوه، چې د دې حملې د پر شا تمبولو څخه وروسته دمومند قام څو کورنۍ د کوټ په تنګي هم کې مېشتې شوي دي، له هغه وخته داتنګی دمومندو یوه تاڼه یا(څوکۍ) ده او دتنګي مومند ورته وایي.

داسې معلومیږي، چې له هماغه وخت نه د کوټ د خلکو او مومندو ترمنځ دعزیزولۍ داړیکو دساتلو ، سلسله ښه ټینګه موجوده وه؛ پر دې اساس د کوټ او بټي کوټ خلک ځانونه په مومندو کې شمېري.

تیرایي( تیراي) ژبه چې له نوم څخه یې ښکاري خرګندیږي، دنسبتي (ي) پر اساس تیرا ته منسوبیږي، تیرا دننګرهار ولایت دشینوارو جنوب شرق

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواتـه یـوه پراخـه لـوړه غرنۍ یخـه او پـه ځنګلـو پټـه سـیمه ده، چـې دپښتونخوا په خیبر ایجنسۍ پورې مربوطه ده.

په اوس وخت کې تیرایي ژبه دافغانستان دمړو او متروکو ژبو پـه ډلـه کې حسابیږي، پـه دې معنا چې تیرایي ژبه ویونکي نه لري او تیرایان پـه پښتو ژبه خبرې کوي.

ما په دې رساله کې زیات کوښښ کړی، چې کومې کلمې،نومونه، پـوره او نیمګړې جملې، چې دځینو سیمو دخلکو په یاد کې پاتې وې، راټولې او هم هغه څېړنې، چې دبهرنیو او کورنیو پوهانو او څېړونکو لـه خوا پـه دې ژبه کې ترسره شوي په دې رساله کې یې خوندي کړم.

دا رسـاله ټـول پنځـه څپرکـي لـري او پـه پـای کـې پایلـه، وړاندیزونـه، دماخذونو فهرست، ضـمیمې او دځینـو ځـایونو او نومونـو پـه برخـه کـې هم معلومات وړاندې شوي دي. ددې خبرې یادونه هم ضروري ده، چې په تیرایـي ژبه کې دپښتو، دري، هندوکو او نورو داردي ژبو نومونـه دګاونډیتوب پر اساس ډېر راګډ شوي دي، پـه دې معنا چې کله دا ژبـه ژونـدۍ وه نو دنورو ګاونډیو ژبو تر اغېزې لاندې وه، ځکه ددې ژبې ویونکو دیـوه کوچني اقلیت په توګه دپښتو ژبې ویونکو سیمو په منځ کې ژوند کـاوه، چې کـرار کـرار یـې خپله ژبه له لاسه ورکړه او پښتو ژبـه یـې خپلـه کـړه، یعنې اوس تیرایي ټبر لـه څېرمې پـه پښتو ژبه خبرې کوي.

څرنګه چې تیرایي ژبه دمرکزي داردي ژبو پـه ډله کـې راځـي نـو پـه ټـولیز ډول ویـلای شـو، چـې ددې رسـالې یـوه برخـه داردي ژبـو سـره د پرتلیـز او تشریحي میتود پر اساس او بله برخه یې دساحوي ریسرچ پـر اسـاس څېـړل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې زه د خپل لارښود استاد څېړنپوه د کتور اورمړ څخه د زړه له کومې مننه کوم چې ما سره يې د دې رسالې په بشپړولو کې ډېر زيار ګاللې دی او د ښاغلي څېړندوی عبدالظاهر شکيب ښاغلي څېړندوی وجيه الله شپون او ښاغلي محمد عارف ملاتړ څخه هم منندوی يم چې د رسالې په کمپوز ،سپارښتنو او ترجمې کی يې راسره په خلاص مټ مرسته کړې ده.

په درنښت

زکريا ملاتړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړۍ څپرکی

## دموضوع شالید یا پس منظر

تقریباً څولسیزې وړاندې د تیرایي ژبې څرک په هغو سیمو کې لګېده، چې تیرایان په کې پخوا او سیدل او د نو موړې ژبې څه ناڅه کلمې یا نیمګړې جملې د ځینو سپین ږیرو خلکو یا سپین سرو ښځو په یاد کې پاتې وې، مګر اوس په مکمله توګه له یوې مخې دا ژبه له منځه تللې او بیخي ویونکي نه لري او پر ځای یې پښتو ژبه ویل کیږي، په دې معنا چې دا ژبه مړه او متروکه شوې ده.

څرنګه، چې دا ژبه اوس له استعمال څخه غورځېدلې او د مړو او متروکو ژبو په کتار کې راځي، نو دا به یو څه ګران کار وي، چې د دې ژبې ټول اړخونه او ګرامري ځانګړنې لکه د نورو ژوندیو ژبو په شان وڅېړل شي.

د تیرایي ژبې په اړه اروابناد دوست محمد دوست (د افغانستان ژبې او توکمونه) نومې اثر کې چې په ۱۳۵۴ل کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی، د مرکزي داردي ژبو په ډله کې د خارجي ماخذونو په حواله ښه څېړنه کړې او د تیرایانو په باره کې معلومات یې د اخوند درویزه ننګرهاري د مخزن الاسلام او تذکرة الابرار والاشرار له آثارو څخه راخیستي دي او ځینې خبرې یې د خپلو څېړنو او علمي پوهې په اړه هم راوړې دي. پته دې پاتې نه وي چې اروابناد دوست د افغانستان ژبې او توکمونه نومې اثر په

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴۳۴ - ۴۴۰** مخونو کې د تیرایي ژبې پر گرامري جوړښت پوره رڼا اچولې، چې تفصیل یې د دې رسالې په متن کې ځای په ځای راغلی دی.

د بهرنیو پوهانو او ختیځ پېژندونکوله خوا د تیرایي ژبې او نورو همگروپ (داردي ژبو ) په اړه گڼې څېړنې هم ترسره شوي دي.

تر اوسه پورې په تیرایي ژبه مستقل اثر په پښتو ژبه کې نه دی لیکلی شوی.یوازې د افغانستان ژبې او توکمونه نومې اثر کې د داردي ژبو په گروپ کې یې یادونه او څه ناڅه څېړنه راغلې ده، د بهرنیو ماخذونو په حواله د گریرسن یادښتونه او څېړنه، چې پوره تفصیل یې د دې رسالې په متن کې راغلی د موضوع په بشپړلو کې پوره مرسته کړې ده. زه هم د دې ژبې دنومونو ، کلمو او جملو راټولولو پسې ، کلي په کلي او سیمه په سیمه گرځېدلی یم دخیبر پښتونخوا په تیرا او ټوله خیبر ایجنسۍ او دننگرهار ځینې ولسوالۍ مې ورپسې چاڼ کړې دي ، تر څو هغه وییونه او جملې، چې دخلکو په یاد کې پاتې وې راټولې کړم او له بلې خوا داهم معلومه کړم، چې تیرایي ولس په کومو کومو ځایونو کې مېشتې دی.

لکه څنگه، چې د دې رسالې عنوان په دوو برخو مشتمل دی، چې یوه برخه یې (تیرایان) او بله برخه یې (تیرایي ژبه )ده.

په دې دواړو برخو کې ما دخپل توان په اندازه کوښښ کړی دی، چې په خپله څېړنه کې دټولو موجودو ماخذونو څخه استفاده وکړم.

تر هر څه دمخه پکار ده، چې لومړی په تیرایانو باندې څېړنه او تحقیق وشي او وروسته یې بیا په ژبه باندې خبرې وشي.

دتیرایانو دنسب په برخه کې چې کوم ماخذونه او نظریات موجود دي، یوه نظریه په کې دمحمد حیات خان (حیات افغاني ) دویم ټوک دوهم چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۷۰ کال ۱۲۰ مخ کې راغلې ده او بله نظریه د سید بهادر شاه ظفر کاکاخېل ده (پښتانه د تاریخ په رڼا کې، کرلاڼي قبایل ۲۲مخ )کې ذکر شوی، دریمه نظریه د میراجان سیال مومند "د پښتنو قبیلو شجرې" یونیورستي بک ایجنسي، پېښور ۱۳۶۵ل "۲۱۰-۲۱۱ "مخونو کې یادونه شوې ده، چې د تاریخ له پلوه دوی دریو اړو خېړونکو د تیرایانو شجره او نسب کرلاڼي قبایلو ته منسوب کړی دی، چې یادونه یې وروسته د رسالې د دویم څپرکي په یو جدول کې ښودل شوې ده. بله مهمه نظریه د تیرا څخه د تیرایانو د ویستلو موضوع ده.

چې په دې برخه کې اخوند درویزه ننگرهاري په ( تذکرة الابرار والاشرار )په ۱۵۴مخ کې په واضح ډول داسې لیکلي دي: ((....مبلغ سیصد و بیست کس را از قلعه بدر کرده وکشته وبدوزخ فرستاد . چه اهل ایمان نبودند کل اهل هوا وتابع هوا بودند.

بعد از آن تمام اولس تیرای را بقتل وتاراج رسانیده، مگر اندکی از آن خلاص شدند وبه جانب ننگرهار بدر رفت.... ))[1]

دې ته ورته نظر د اخوند درویزه په بل مشهور تالیف مخزن الاسلام ۱۹۲۹ م کال چاپ د سید تقویم الحق کاکاخیل مقدمه کې د تیرایانو موضوع ته داسې اشاره شوې ده، چې (( بایزید د دې جنگ نه پس تیرا ته لاړ او داپریدو په مدد یې تیرایان لرې کړل او په علاقه قابض شو. )) په دې اړه د تاریخ مرصع دلیکوال افضل خان ختک او دوست محمد (دوست) نظریات سره ورته دي. اروابناد دوست دافغانستان ژبې او توکمونه ۱۳۵۴کال چاپ په ۳۲۳ مخ کې لیکي: ((... بایزید چې کله تیرا ته راغی تیرایان که څه هم په ظاهره دده مریدان وو، خو په باطن یې د مغولو سره

---

[1] اخوند درویزه ننگرهاری تذکرة الابرار والاشرار، چاپ اداره اشاعت سرحد ، پیشاور ، ۱۵۴مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه درلوده، پیر روښان ددوی په دغه نیت پوه شو دوی یې وغلول او ورته یې وویل، که ما راضي کوئ خپل لاسونه وتړئ او زما خدمت ته حاضر شئ، کله چې زما په حکم ستاسې لاسونه پرانیستل شي، هغه وخت به زه له تاسو خوښ شم، تیرایانو همداسې وکړل او په دغه صورت کې روښان درې سوه کسه ووژل... ))[1]

مگر د اروابښاد استاد قیام الدین خادم نظریه د(بایزید روښان) نومې اثر په (۲۴) مخ کې د پورتنیو لیکوالو د نظریو څخه توپیر لري.اروابښاد خادم د درې سوه کسانو په ځای ۱۳۰۰ کسان ښودلي دي.

اوس به راشو تیرایي ژبې ته. کومه ژبه چې تیرایانو پرې خبرې کولې د تیرایي ژبې په نوم یادیږي.

څرنگه چې تیرایي ژبه د داردي ژبو گروپ په مرکزي څانگې پورې اړه لري، اروابښاد دوست شینواري د افغانستان ژبې او توکمونو اثر ۴۰۳ او ۴۰۴ مخونو کې په عمومي ډول د داردي ژبو په اړه داسې لیکي:

((د داردي ژبو څېړنه عملاً د ۱۹ پېړۍ په د برشمو کلونو کې شروع شوه، چې په اتفاقي ډول د داردي ژبو په باب د سیاحینو له خوا او همدارنگه د عیسوي مبلغینو خپرونو (چې په ۱۹ پېړۍ په لومړیو شلو کلونو کې د انجیل یوه برخه په کشمیري ژبه لومړی په نگاري الفباء او بیا د(۱۹۸۰-۱۹۹۰) کلونو په عربي الفباء کې د داردي ژبو لومړي شواهد چاپ شول، په دې باب لومړي آثار ډېر بسیط وو، لنډ لنډ گرامري معلومات او د هغو ژبو جغرافیوي ساحې ښودل کېدې، د دغې دورې آثار اوس یوازې تاریخي ارزښت لري، ځکه چې هغه وخت د ژبو علمي بریدونه نه وو درول شوي او

[1] څېړنمل دوست محمد دوست . دافغانستان ژبې او توکمونه ، پښتو ټولنه ، دولتي مطبعه ، ۱۳۵۴ل کال ، ۳۳۳مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اساسي څېړنې نه وې پیل شوې او د برې ژبې لا نه وې څرګندې شوې او د یو شمیر ژبو دیالیکتونه لا د ځانګړو ژبو په حیث پېژندل کېدل.))

د تیرایي ژبې په اړه ګریرسن هم په زړه پورې کار کړی دی.

نوموړی داسې لیکي:

تیرایي ژبه یو له داردیک ژبو څخه ده، چې تر اوسه یې د پوره پېژندنې په اړه یو لړ ستونزې موجودې دي په دې اړه چې کوم لومړني مواد خپاره شوي دي، هغه دلیچ د لغاتو مختصره مجموعه ده، چې په ۱۸۳۸ م کال تالیف شوې ده.

دلیچ د څرګندونو له مخې د تیرایي ژبې ویونکي یو وخت د تیرا په وادۍ کې مېشت وو او بیا له هغه ځایه ننګرهار ته تللي، چې اوس هم هلته ژوند کوي. اوس په تیرا کې داپریدو او اورکزیو پښتنو دوه قومونه آباد دي. ګریرسن وایي: دیوې پېړۍ د څلورمې زیات وخت مې کوښښ وکړ چې د تیرایي ژبې په اړه یو څه معلومات ترلاسه کړم، مګر د دغې ژبې ویونکي په هغه ځای کې اوسیدل، چې د برتانوي هند له واکه بهر وه. په دې اړه زما هڅې بې پایلې پاتې شوې.

په ۱۹۲۱ م کال سر اوریل ستهین په پېښور کې وتوانید چې د تیرایي ژبې دوه کسه ویونکي پیدا کړي او د هغوی په مرسته مې د دغه ژبې د یو شمیر لغاتو لست ترتیب کړ، د دغه نویو معلوماتو او دلیچ قاموس په مرسته مې وکړای شول، چې په دې اړه ښه جزئیات برابر کړم، چې د ژبپوهنې د سروې په اړه اهمیت لري». [1]

---

[1] George Grierson, On the tirahi language , Source journal of the Royal Asiatic Society great Britain and Ireland , no ۳ (dul , ۱۹۲۵ , pp ۵۰۵- ۴ ) ٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۹۲۴م کال کې ناروېژي نامتو عالم مارګن ستېرن افغانستان ته راغلی و، چې دژبو دمطالعې په اړه دنوموړي محقق آثار دنورو څېړونکو لپاره ډېر ګټور ثابت شوي دي. مارګن ستېرن د( داردي ) ژبو بشپړه طبقه بندي کړې ده.

په پای کې د پورتنيو ليکنو په رڼا کې وايو، چې د تيراياانو په برخه کې داخوند درويزه نظريات که څه هم د پيررو ښان په اړه بې بنيااده او افراطي اړخ لري، خو دتيراياانو په اړه زموږ د موضوع سره ډېره مرسته کوي، ځکه وروستيو څېړونکو هم د اخوند درويزه دنظرياتو پلوي او ورڅخه استفاده کړې ده دا خبره بايد له ياده ونه باسو چې داخوند درويزه نظريات د تيراياانو په برخه کې دلومړي لاس منابع تشکيلوي. په ننګرهار ولايت کې دتيراياانو په اړه دخلکو نظريات ډېر متفاوت دي، په دې رساله کې کوښښ شوی، چې د هر چا نظر بې د څه لاسوهنې کټ مټ راوړل شي.


چې په دې کار سره به له يوې خوا دتيراياانو دپخوانيو او اوسنيو داستوګنځايونو په باره کې پوره او کره معلومات وړاندې او له بلې خوا به څه ناڅه دتيرايي ژبې په باره کې هم څېړنه تر سره شي يعنې په لنډه توګه دا ويلای شو، چې د موضوع په اړه به خواره واره نظريات په يو اثر کې راټول کړی شي. ترڅو ددې موضوع مينه وال او راتلونکي څېړونکي ورڅخه په اسانۍ ګټه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## تیرایانو نسب او شجره


که له یوې خوا تیرایي ژبه د(داردي ) ژبو په مرکزي ګروپ پورې اړه لري نو تیرایان هم په داردي اقوامو کې شمېرل کیږي، څرنګه چې تیرایان ځانګړې ژبه لري او ځانګړی قوم، خو د تاریخ نومیالي مؤرخ او څېړونکي محمد حیات خان د(حیات افغاني) په (۱۲۰) مخ کې د تیرایانو د نسب سلسله په لاندې جدول کې اتمان ابن برهان ابن ککي ته رسولې ده، چې داټول بیا په کرلاڼي قبایلو پورې اړه لري او پښتانه بلل شوي دي.




(۱) محمد حیات خان. حیات افغاني،دویم ټوک، دویم چاپ، ۱۳۷۰ ل کال، ۱۲۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا شان مشهور مؤرخ سيد بهادر شاه ظفر كاكاخېل په خپل اثر (پښتانه د تاريخ په رڼا كې) هم د تيرايانو د شجرې او نسب په اړه يادونه كړې ده او تيراوي يا تيرايي ولس يې په كرلاڼي قبايلو كې شمېرلی دی، د دې خبرې د پوره وضاحت لپاره د تيرايانو د شجرې او نسب د جدول ضرورت ځكه ليدل كيږي، تر څو دا موضوع پوره روښانه شي، البته د دې درې واړو جدولونو په ځينو نومونو كې لږ توپير ليدل كيږي، خو په مجموع كې د تيرايانو د نسب په اړه درې واړه څېړونكي په يو نظر دي.





(۱) سيد بهادر شاه ظفر كاكا خېل، پښتانه د تاريخ په رڼا كې، كرلاڼي قبايل، ۱۳۲۲مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي میراجان سیال مومند (د پښتنو قبیلو شجرې )نومې اثر کې هم
د تیراوي قبیلې یادونه په یو جدول کې داسې راوړې ده.

یادونه:

د تیرایانو د نسب د ساسلی په باب جدول، چې د پرتنیو پوهانو له خوا
وړاندې شوې یو څه د غور وړهم دی. (د اثر لیکوال).




(۱) میراجان سیال مومند. د پښتنو قبیلو شجرې، یونیورستي بک ایجنسي، پېښور، **۱۳۶۵**ل کال، ۲۱۰ – ۲۱۱ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تیرایانو مېشتځایونه

الف: پخواني مېشتځایونه:

د تیرایانو پخوانی مېشتځای د تیرا سیمه ده.

تیرا د ګڼو غرونو او شنو ځنګلونو په منځ کې یوه پراخه شنه سیمه ده، خلک یې په خپلواکۍ مین دي، هوارې او میداني سیمې لري هوا یې ډېره سړه ده، په تیرا باندې اوس اته قامونه او ټپې اپریدي پراته دي.

داپریدو څخه وړاندې په دې سیمه باندې تیرایان او سیدل، داخوند درويزه دوينا له مخې د پيررو ښان دزور زياتي له کبله اکثره تيرايان ووژل شول، کورونه او مالونه يې لوټ او تاراج شول، يو څه يې ژوندي پاتې شول، چې هغه لويديځ پلو ته يعني ننګرهار ته او څه يې نورو ځايونو ته په کډه لاړل.د دې موضوع پوره متن د دې رسالې په درېيم څپرکي کې راغلی دی.

څرنګه چې تيرايانو د پښتنو سره ديو کوچني اقليت په توګه ژوند کاوه نو کرار کرار يې خپله تيرايي ژبه له لاسه ورکړه، چې اوس تيرايي ژبه بالکل مړه او متروکه ده او خلک يې په پښتو ژبه خبرې کوي.

ب: د تيرايانو اوسني مېشتځايونه:

لومړی: تيرايي پايان او تيرايي بالا (کوز تيرايي او بر تيرايي )

د پېښور سره څېرمه د پچګۍ او اصحاب بابا ته په غځېدلي سړک، لويديځ اړخ ته د تيرايي پايان او تيرايي بالا په نوم دوه لوی کلي پراته دي، دبُدنۍ لويه وياله ددې کليو په لويديځ اړخ کې تېره شوې ده، دا وياله د خليلو ځمکې د تيرايانو له ځمکو څخه جلا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په خپله دې کلي ته تللی وم او د کلي د مشرانو سره مې خبرې کړي دي، دوی وايي چې موږ د دې ځای اصلي او سېدونکي نه يو، پخوا مو غورنيکو نه له افغانستان څخه دلته راغلي او مېشت شوي دي د پنځه سوه په شاوخوا کې کورنۍ دلته مېشته دي او د زرو جرېبو څخه زياته ځمکه په واک کې لري، خو زياتره خلک يې د پېښور په ښار کې کاروبار کوي په دې کلي کې يو څه هندکيان هم اوسيږي.[1]

ديادونې وړ خبره داده، چې د دې کلي خلک دا نه وايي چې موږ له تيرا نه راغلي يو، بلکې دا وايي، چې موږ له افغانستان څخه دلته راغلي يو.

کېدای شي چې داخوند درويزه دوينا مطابق هغه خلک چې د پير روښان دزور او زياتي له امله ننگرهار ته په کډه تللي او بيا وروسته دوی له ننگرهاره پېښور ته هجرت کړی وي.

دويم: بل ځای چې د تيرايانو هستوگنه په کې شوې کوټ او بټي کوټ ولسوالۍ دي، دا خبره حقيقت لري چې په لږ شمير کې تيرايان په (کوټ اوبټيکوټ) کې پخوا هستوگن وو، خو دا خبره د غور وړ ده، چې ټول د کوټ او بټيکوټ خلک تيرايان وبلل شي، بلکې دوی ټول ځانونه په مومندو گڼوي، دا ځکه د تيرايانو له مهاجرت څخه دمخه خو دا سيمې (کوټ او بټي کوټ )بالکل د خلکو څخه خالي نه وې، پټه دې پاتې نه وي، چې کوټ په ننگرهار ولايت کې ډېره اباده دره ده او د بود ايي دور ښې ښانې هم په کې يو څه موندل شوي دي.

---

[1] حاجي تاج محمد دخير محمد خان زوی او سيف الرحمن درحيم گل خان زوی دتيرايي پايان له اوسپدونکو سره مې دمرکې له مخې پورته مطلب تيار کړی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# روښانیان او تیرایان

د پورته سرلیک لاندې د تیرایانو په باب که له یوې خوا د پیرروښان زور زیاتی بیان شوی نو له بلې خوا په خپله داخوند درویزه نظریاتو ته هم په کې اشاره شوې ده.

مخزن الاسلام، چې داخوند درویزه مهم تصنیف دی، د تیرایانو په اړه داسې لیکي:

((... بایزید چې خبر شو نو میرزا حکیم ته یې یو سفارشي خط ولیکه، میرزا حکیم د پیښاور حاکم معصوم خان ته خبر واستاوه، چې دی هم ووژنه، پاینده خان د معصوم خان په دربار کې خبر شو او بایزید ته یې خبر واستولو، بایزید سره د خپلو ملګرو د یوسفزو علاقې ته واوړېدو او د یو غر په سر یې ټیکاو وشو، د معصوم خان سړي ورپسې راغلل، ترمنځ یې جنګ وشو، جنګ بایزید وګټلو او داسې د هغه او مغلو مصاف پیدا شو، بایزید د دې ځای نوم آغاز پور کېښودو او دلته یې د برې مضبوطې کړې.

دا ځای د کلپانۍ شاوخوا او اندازتاً د شهباز ګړۍ سره نږدې و، بایزید د دې جنګ نه پس تیرا ته لاړ، داپریدو په مدد یې تیرایان لرې کړل او په علاقه قابض شو. ))[1]

اخوند دروزه په مخزن الاسلام کې بل ځای داسې لیکي:

[1] اخوند درویزه، مخزن الاسلام، پښتو اکاډمي، پېښور، ۱۹۶۹ م کال، د مقدمه کج مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((... جمله غله یې وبله ټول کړه په (ټوټې) کې مېشته کړه، مسافر به یې وژلنه، له حرامو یې توبه کړه. دغه پس نیت وشو او تیرا وته روان شو. کل تیرا یې مریدان شو.

ولې زیات وو تیراي له عقله پلي، چې تاریک یې ننویست په لور د کلي، لکه نبي وو دا ویلي، هر چې ځای وگمراهانو وبدعت ته ورکوینه، خدای به خوار هغه ولس کا، هم لعنت به پرې وریږي تر پاینه.

ځکه خدای (ج) هم دا تاریک تیراي ته ولېږنه له زحمته، تیراي وبله غوخ کړ، دوی ویست له مملکته، دی هاله له ځانه خوښ شه، چې مهدي شوم، دمهدي چارې به کړمه، بنیادي هندوستان به ونیسمه، اوازې یې کړې گډې، هر چې آس لري راځئ، اس په ما پورې باسئ، داکبر پادشاه ټنگې واړه زما دي، دوه کونه به درکومه، دغه ښادئ.

داکبر په مال یې واخیسته اسونه، دی ووت له ننگرهاره په میدانونه، له هغه درسته ننگرهاره دغه یو پړو یې وسو په اورونه.

ده هم ژر په ببرته فیر وغر ته وکړ په قراره، ولې محسن خان غازي ورپسې راغی، یک جلب تېزولی بې اختیاره، دا میدان دتور راغه و، چې تاریک، محسن خان ورغله وبله، لښکرې غوخ کړ، په میدان کې تاریک وپلې کړې پر غونډۍ و ورختلی، ده اوبه نه وې موندلې، ځکه دی و جل وهلی لکه دا له یې لړمون وسه، هم وعده یې دروغژنه شوه یک لخته، دغه پس اشنغر لره روان شه، په دې نږدې شپې کې، دی ولوېده له تختته، په ظاهر کې گورستان یې اشنغر شو، په معنا کې یې سقر شو.

دغه پسه شیخ عمر واخسته توره، په یارانو خبر شه، چې راځئ میا مړ نه دی حیات دی، پر هغه ځای شیخ عمر دی کښېنولی، کل جهان به هغه نیسي چې سر وي وعمر ته سپارلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه یو کال یې وتېزلې دلحد دگورستان ډېرې خوارۍ. دغه پسه شیخ عمر حکم پرې وکړ، چې میاله گورستانه وکاږئ، دا لازم دي پر یارانو چې میا دې په صندوق کې گرځوینه، لکه لوی مهم پربوځي پر یارانو، دا میا به په هغه ساعت پاځینه، دا جاهل عالم و، ډېر له عقله پلي هم په کفر کښېنولي دتاریک وسپین هډونه، دوی یې گوښې گوښې هډونه له لحده راوکښلي، په صندوق کې خوندي کړي، په تندي یې گرځوینه، ولې دا عقل یې نه کړ، چې دی مړ دی مړ چا کله پاځونه». [1]

د پورتنیو ځرگندونو په رڼا کې موږ دا خبره په یقین سره کوو، چې دتیرایانو په اړه دلومړي لاس ماخذونه داخوند درویزه دتالیفاتو ځخه عبارت دي، همدارنگه داخوند دروېزه په یوه بل اثر تذکرة الابرار والاشرار کې دروښانیانو او تیرایانو په اړه هم دې ته ورته موضوعات شته، چې دبېلگې په ډول دا لاندې متن گورو:

((... بعد از مدتی این لعین بکوه تیرا توجه نمود و چون این مردم تیرای نیز کول ولی صلاح بودند جماعةاز ایشان بل اکثر ایشان مرید آن لعین امدند.

اما افغانان کوه بتمام هم مرید امدند وکافر شدند چه از دین محمدي ودر ایشان جز رسمی نبود واند وشرایع محمدی خبر رسمی نبود، او آن را نیز بگفته این لعین از دست دادند و مرتد شدند، اخرالامر اتفاق افاغنین به این لعین چنان افتاد که مردم تیرای را بقتل وتاراج برده و از تیرا بدر

[1] اخوند دروېزه، مخزن الاسلام، پښتو اکاډمي، پېښوریونیورسټي، ۱۹۶۹م کال، ۱۳۳– ۱۳۴مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رساند چه بواسطه ایشان مردم مغل در تیرا درمی ایند تا این مملکت از حکام اسلام خالی گردد... ))[1]

اوس هم د ننګرهار په ځینو سیمو کې دا خبره شته، چې کله د شېخ عمر له خوا د پیر روښان هډوکي په تابوت کې واچول شول مریدانو به یې دا تابوت په اوږو باندې ګرځولو.

دا متل له هغه وخت نه مشهور شوی "تیرا یې له عقله پلې+ پیر روښان به یې ګرځاوه ولي په ولي ".

د استاد سرمحقق عبدالله بختاني له خولې دا خبره کوم، چې پیر روښان په ننګرهار کې ډېر مریدان لرل او د دې مریدانو پر اساس یې ننګرهار د مقاومت قوي سنګر ګرځولی و، د ده په مریدانو کې ښځې هم شاملې وې. د ننګرهار د غازي آباد په سیمه کې یوه ښځه د ګاګا په نوم وه، چې د پیر روښان په مریدانو کې شمېرل کېده.

د پیرروښان مخالفینو ورپسې دا شعر جوړ کړی و، چې یو بیت یې دا دی:

چې مریده یې ګاګاه ده

لایقه د ګنګا ده

---

[1] اخوند درویزه ننګرهاری، تذکرة الابرار والاشرار، اداره اشاعت سرحد، پیشاور، ۹۴۰، ۱۰۴۸ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریيم څپرکی

## دتیرایانو اوژبې په برخه کې یې د پوهانو نظریات

الف: د کورنیو پوهانو او څېړونکو نظریات:

لومړی:

اخوند درویزه دمخزن الاسلام په یوه برخه کې د تیرایانو په اړه داسې وایي:

((... بایزید ددې جنگ نه پس تیرا ته لاړ، داپریدو په مدد یې تیرایان لرې کړل او په علاقه قابض شو، محسن خان ورپسې د کابل نه هېڅه وکړه او ویې تښتولو.

بایزید وهلی ځپلی کلپانۍ (شهباز گړی) ته واپس راغی او د سر درد یا جل په مرض هلته مړ او ښخ شو، دا اندازتاً د کال ۹۸۱هـ ق - ۱۵۷۳م کال یا ۹۸۲هـ ق_۱۵۷۴م کال واقعه ده. ))[1]

اخوند درویزه په خپل یو بل اثر تذکرة الابرار والاشرار کې د تیرایانو په باب وایي:

---

[1] اخوند درویزه ، مخزن الاسلام ، پښتو اکاډیمي پېښور یونیورستي ، دسید تقویم الحق کاکاخیل مقدمه ، ۱۹۶۹ م کال .

(c) ketabton.com: The Digital Library

((...چون مردمی تیرای از ین حادثه وازین مصلحت اگاه شدند بتماماً مهم مسعد جنگ امدند ، تا بعد ازآن این لعین مکر ، وتلبیس نمودند و خودرا پیروپښوا ساخته، بمردم تیرای نوشته ودعوت نمودند که شما برجانب خود تبلیغ کشیده اید وپیر خود را به بیدیانتی منسوب کرده اید این از شما گناه عظیم واقع شده، شاید وباید توبه بجا ارید وشرط توبه این است که دستها بسته بقد مبوس پیر خود برسد وپس از آن جا که مردم به سفاهت وحماقت مشهور اند ودرتحت گلیم شقاوت، بدعت وضلالت مستود اند ، اجابت نموده وانقیاد فرموده، مبلغ سیصدو بیست کس را از قلعه بدر کرده وکشته وبدوزخ فرستاد ، چه اهل ایمان نبودند کل اهل هوا وتابع هوا بودند ، بعد از آن تمام ولس تیرای را بقتل وتاراج رسانیده، مگر اندکی از ایشان خلاص شد وبجانب ننگرهار بدررفت.

واز آن زمان بازتابه این مملکت تیرا به دست اولاد این لعین وبدست افغانان آن کوه مانده. ))[1]

**دویم:**

**دمحمد حیات خان نظر:**

محمد حیات خان، دحیات افغاني په دویم ټوک، دویم چاپ (۲۷۱) مخ کې لیکي:

((.... په شپږمه هجري پیړۍ کې دتیرا قوم ډېر مشهور او دتیرا په سیمه یې پوره تسلط درلود ، دوی بت پرسته وو او دمسلمانانو سره یې سخته دښمني درلوده، په (۶۰۰_۶۰۱) هجري کلونو کې سلطان شهاب الدین غوري په دغه قوم یرغل وکړ، یو څه یې مړه شول او هغه چې له مرګه وژغورل شول په زور یې مسلمانان کړل، دا دخدای شان دی، چې دهغه لوی قوم څخه

[1] اخوند درویزه ننګرهاری ، تذکرة الابرار والاشرار ، چاپ اداره اشاعت سرحد ، پیشاور ، ۱۵۴مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس لږ شمیر تیرایي مسلمانان د شینوارو په ملک کې او سیږي او یوازې په دې سبب د ذکر وړ دي، چې دوی ځانته بېله ژبه لري او له دغې ژبې څخه ځرگندیږي، چې د سانسکریت له ژبې څخه به راوتلي وي، خو د پښتو ژبې ډېرې کلمې ورسره یو ځای شوي دي. ))[1]

همدغه پورته نظر ملا فیض کاتب داسې رانقل کړی دی: ((این فرقه در ابتداء بت پرست بود، درحمله سلطان شهاب الدین غوري مشرف به دین اسلام شدن، اکنون عدهٔ دربین قوم شینوار متمکن وبه زبان خلاف زبان افغاني که از سنسکریت جدا وبا الفاظ زیاد از پشتو شامل وداخل شده متکلمند ))[2]

## دریم:

## دافضل خان ختک نظر:

کله چې پیر روښان د(چورې) جنگ د چورې په کلکو درمو، چې نېږې یې ورڅخه جوړې کړې وې وگاټه یعنې مغل په دې جنگ کې مات شول. تیرایانو په دې جنگ کې هم برخه اخیستې وه له دې جنگ وروسته پیرروښان تیرا ته ولاړ او هلته په تیرایانو بدگومانه شو، افضل خان ختک دا پېښه داسې بیانوي:

((... تیراي عالم په ظاهره دده سره و، او په باطن کې یې دمغولو سره رویه درسته وه، هغو ته یې وویل: چې تاسو په باطن دمغولو سره یاست،

---

[1] محمد حیات خان، حیات افغاني ،دویم چاپ، دویم ټوک، ۱۳۷۰ ل کال، ۲۷۰ مخ.
[2] ملافیض محمد کاتب، نژادنامه افغان، فرقه تیرایي، ......۱۱۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دما د طریقې مردود الطریقه شوي یاست، اوس دوا ړه لاسونه پخپله وتړئ، چې ستاسو توبه همدغه ده.

هغو له اعتقاده چې په ده یې لرلو او یا له وېرې تیرسو (درې سوو) کسو لاسونه وتړل، ورلره راغلل، تیرسوه یې جدا جدا مړه کړل، یو دبل نه خبر نه شول، هغه باقي یې تاراج کړل، تیرا یې له تیرای خالي کړ.))[1]

**ځلورم:**

**داروابناد استاد قیام الدین خادم نظر:**

اروابناد استاد خادم په خپل کتاب (بایزید روښان) په (۲۳-۲۵) مخونو کې د تیرایانو په اړه لیکي:

((... تیرای عالم شاید په ښکاره دده سره و، او په باطن کې دمغولو سره وو، ده هغوی ته وویل، چې تاسو په باطن دمغولو سره یاست، زما له طریقې مردود شوی، اوس بویه واړه خپل لاسونه پخپله وتړئ، راشئ ستاسو توبه همدغه ده. هغوی له اعتقاده، یا له وېرې دیارلس سو کسو لاسونه وتړل ورله راغلل.*

[1] افضل خان ختټک، تاریخ مرصع، مقابله وتصحیح او نوټونه، دوست محمد خان کامل مومند، یونیورستي بک ایجنسي، پېښور، ۲۳۹ مخ.

*داروابناد خادم صیب دیارلس سو کسو تیرایانو وژل کېدل او بل ځای دتذکرې په حواله دوه سوه شل کسانو وژل کېدل، دغور او فکر خبره برېښي، ددې خبرې سپیناوی پکار دی، چې ایا دا املایي تېروتنه ده او که درست نظر دی، خو دا خبره دنورو ټولو لیکوالانو او څېړونکو له نظریاتو سره توپیر لري، ځکه دنورو لیکوالانو په نظر تیرایان ددرې سوه او درې سوه شل کسانو څخه زیات نه دي وژل شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي چې ټول يې جدا جدا ووژل او تيرا يې له تيرايي خالي کړ او دغره پښتنو ته يې ورکړ. اپريدي او اورکزي يې ټول مرديان کړل. ))

اروابناد استاد قيام الدين خادم دياد شوي کتاب په (۲۴) مخ کې دتذکرې په حواله ليکي:

هر کله چې پيرروښان دچورې په جنگ کې مغول مات کړل او تيرا ته ولاړ په اخره کې دده دطرفدارانو پښتنو اتفاق په دې وشو، چې تيرايي خلک ووژني او يا يې له تيرا څخه خارج کاندي، ځکه چې ددوی په واسطه مغول تيرا ته راځي، وايي چې په دغه خبره تيرايي خلک ددوی سره مخالف شول، ده وويل ځو لاس تړلي رانه شئ، عفوه به مو نه کړم، دغسې يې وکړه او دوه سوه شل کسه ورته راغلل، ده هغه ووژل او لږ څه يې خلاص شول، ننگرهار ته وتښتېدل او په دغه سبب تيرا له تيراي څخه خالي شو.[1]

**پنځم:**

**داروابناد دوست محمد دوست نظر:**

((... بايزيد چې کله بيا تيرا ته راغی، تيرايان که څه هم په ظاهره دده مريدان وو، خو په باطن کې يې دمغولو سره مينه لرله.

پيرروښان ددوی په دغه نيت پوه شو، دوی يې وغوښتل او ورته يې وويل: که ما راضي کوئ، خپل لاسونه وتړئ او زما خدمت ته حاضر شئ، کله چې زما په حکم ستاسو لاسونه پرانستل شي، هغه وخت به زه له تاسو خوښ شم، تيرايانو همداسې وکړل او په دغه صورت روښانيانو درې سوه تيرايان ووژل، کورونه او مالونه يې ددوي لوټ کړل، تيرا يې له دوی څخه

[1] قيام الدين خادم، بايزيد روښان، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۲۳ل کال، ۲۳ – ۲۴مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خالي کړ او پاتي تیرا یان له تیرا څخه په کوچ شول، چې د کوټ درې ته راغلل.

او له دوی څخه څوک په تیرا کې پاتې نه دي او ځایونه یې پښتنو ونیول، داخوند دروېزه له وینا څخه دا حقیقت لاسته راځي، چې تیرایان د پیرروښان له خوا د لسمې هجري پېړۍ په دویمه نیمایي کې له تیرا څخه د کوټ درې ته راغلي دي.

چې په دغو روایاتو باندې هم داخلي او هم خارجي څېړونکو او مؤرخینو لکه، مارګن سټېرن، ګریرسون، ګانکو فسکي، او نورو استناد کړی دی.[1]

## شپږم:

## دعلي محمد مخلص کندهاري نظر:

علي محمد مخلص کندهاری د حالنامه حضرت میا روښان په **۳۵۴** مخ کې د مغولو سره په جنګ کې د تیرایانو ګډون داسې بیانوي: ((...بعد پیر دستګیر فرصت یافته و از آن جا برآمده به جانب تیرا وخیبر رفت، چند ګاه درملک تیرا تشریف داشت، چون پیر دستګیر درتیرا بود در آن روزها میرزا سلیمان برای دیدن اکبر پادشاه روان شده بود ، چون به نزدیک خیبر رسید ، مردم اپریدي سر راه ګرفته، میرزا به لشکر بدررفت. اردو مردم افریدي تاراج نمود ، چون پیر دستګیر از این واقعه واقف شد ، آن طایفه را بسیار سرزنش کردند ، اما کار از دست رفته بود.

---

[1] څېړنمل دوست محمد دوست ، دافغانستان ژبې او توکمونه ، پښتو ټولنه ،دولتي مطبعه ، ۱۳۵۴ل کال ، ۴۳۳مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بعد از چند گاه حاکم پیشاور لشکر جمع کرد و افغانان را پیش کرده در ملک تیرا در آمد و مردم ورکزي و آفریدي و تیراي سر راه گرفتند و جنگ ها واقع شد و اخر لشکر مغل پیش امده نتوانست باز گشت. عداوت بر عداوت زیاد شد.

بعد پیر دستگیر فرمود که این سرزمین به مردم مغل نزدیک است درمیان ما و ایشان جنگ واقع میشوند بهتر آن است که این ملک را گذاشته به جانب ملک یوسفزي بروم که آن ملک از مردم مغل گوشه است.))[1]

**اووم:**

**د پوهاند عبدالحی حبیبي نظر:**

پوهاند حبیبي د پښتو ادبیاتو تاریخ دویم ټوک کې د تیرا کشمکش تر عنوان لاندې د تیرا یانو په برخه کې لیکي: د۹۹۰هـ ق حدودو په شاوخوا کې پیر روښان خپل سیاسي او حربي مرکز په تیرا کې ونیو اپریدي او ورکزي یې په خپل سرفروشو مریدانو کې داخل کړل، دلته داتمان خېلو ځینې خلک هم دده په تابعانو کې شامل شول او دده نفوذ دونې په پښتنو کې خپور شو، چې له تیرا یې د ېر خلک نفی بلد کړل، د تیرا په چوره کې دمغولو لښکر په ده پسې راغلل، دغرو خلکو وسله نه درلوده، دچورې دورمې ډېرې کلکې وې، پیرروښان خپلو مریدانو ته وویل، چې دا دورمې

[1] علي محمد مخلص کندهاری. حالنامه میاروښان، چاپ وزارت اطلاعات وفرهنگ، ۱۳۸۸ش، ۳۵۴مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرې کړئ، دا ستاسې وسله ده، روښانیانو په دغه جنګ کې ددورمو په ذریعه مغول مات کړل او دنېزو کار یې ځنې واخیست.

په تیرا کې ځینې خلک وو، چې په باطن دمغولو سره ملګري وو او دوی دپښتنو دلستوني ماران وو. روښان دوی ته وویل، باید په خپله خپل لاسونه وتړئ او راشئ ستاسې توبه همدغه ده، نو د اعتقاده یا له ببرې ۱۳۰۰ تنه لاس تړلي راغلل، روښان ددوی ګنهکاران ووژل او ځینې یې له تیرا څخه وشړل، په دې ډول افریدي او ورکزي ټول دده فرمانبرداره شول.

اخوند درویزه لیکي: چې دچورې په جنګ کې روښان دمغولو لښکر تارومار کړل، نو مغولو او پښتنو اتفاق وکړ، چې ځینې تیرایي خلک دمغولو سره مله دي او ددوی په واسطه مغول تیرا ته راځي، له دې جهته باید دوی دملي خاینانو په ډول له دې ازادو غرو څخه ورک شي، ځکه چې دازادۍ لپاره دغه داخلي خاینان هر وخت مضر دي، په دې ډول (۲۲۰) تنه دمغولو طرفداران ده ووژل او نور چې پاتې وو، ننګرهار ته وتښتېدل او تیرا دمغولو دطرفدارانو څخه خالي شو. ))[1]

یادونه: همدغه پورته مطلب دتیرایانو په اړه کتې مټ اروانښاد قیام الدین خادم هم دبایزید روښان نومې اثر په ۲۴ مخ کې رانقل کړی دی.

---

[1] عبدالحی حبیبي ، دپښتو ادبیاتو تاریخ ، دویم ټوک ، پښتو ټولنه ، دولتي مطبعه ، ۱۳۴۲ ل کال ، ۲۸۶مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ب: د تیرایانو او ژبې په اړه یې د بهرنیو پوهانو او څېړونکو نظریات:

تر دې ځایه پورې د کورنیو پوهانو نظریات د تیرا یانو او تیرا یي ژبې په اړه وړاندې شول. اوس د بهرنیو پوهانو نظریات، چې په عامه توگه یې د ټولو داردي ژبو په اړه وړاندې کړي او په خاصه توگه یې تیرا یي ژبې ته هم پام اړولی او څه ناڅه معلومات یې د دې ژبې په برخه کې وړاندې کړي دي، د هغو بهرنیو پوهانو له جملې څخه، چې د تیرا یي ژبې په اړه یې څېړنې کړي دي، په لاندې توگه وړاندې کیږي:

اروانباد دوست دافغانستان ژبې او توکمونه نومې اثر په **۴۰۵** او **۴۰۷** مخونو کې د تیرایانو او تیرایي ژبې په اړه د ځینو بهرنیو پوهانو او څېړونکو نظریاتو ته داسې اشاره کوي:

د(رابرت کلی شاو ) په عقیده پامیري او داردي ژبې د هر وخت له نورو اندو آریایي ژبو (هندي، باختري اریاني ) ژبو څخه گوښه وې، نو ځکه یې د نورو ژبو سره دومره رابطه نشته او یو تربله یې په خپلو منځو کې روابط ساتلي دي....

گریرسن په خپلو وروستیو آثارو کې داسې نظریه ښکاره کړې، چې داردي ژبې د ختیځ (هندي ) او لویدیځ (باختري،آریاني ) ژبو ترمنځ یو بېله ځانگړې دربیمه څانگه ده.

د داردي ژبو د بشپړې مطالعې او کتنې په باره کې گریرسن د هر لوی لاس درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده دخپل اثر په اتم ټوک کې دافغانستان په داردي ژبو هم بشپړه رڼا اچولې او دټولو داردي ژبو لغات يې په يو مقايسوي قاموس کې پرتله کړي دي.[1]

دتيرايي ژبې په اړه ګريرسن داسې ليکلي دي:

«مخکې له دې چې دا مواد خپاره شي او (دارديک) ژبې ديو مضمون په توګه محصلينو او مينه والو ته وړاندې شي، زيات وخت تير شو....

تيرايي ژبه د(دارديک) له نورو څانګو سره نېږدې تړاو لري لکه (کالاشا)، (ګوارباتي)، (پشه يي)، دګلګيت(شينا)، داندوس (کوهستاني) او (کشميري) دمثال په ډول دتيرايي (مالا) معنى (پلار) لفظ دشينا (مالو) او د(وت) لفظ معنى (ولاړ) په کشميري کې (ووت) سره يوه ريښه لري.

د(دارديک) دنورو ژبو په څېر دتيرايي ژبې ځينې اصطلاحات دسنسکريټ پخوانۍ ژبې له لغاتو سره هم نېږدې اړيکې لري، لکه (دېن) دسنسکريټ د(دهېنوه) سره مشابهت لري. زياتره پخواني اصطلاحات دلرغوني اريايي ژبې له لغاتو اخيستل شوي، چې (دارديک) ژبې هم له آريايي ژبې سرچينه اخلي. تيرايي ژبه دګرامر او لغاتو له مخې له پښتو ژبې نه مستقله ده، چې دا ځانګړتيا يې موږ بې له لاسوهنې په خپل ځای پرېږدو.

تيرايي ژبه په دې سيمه کې له ځينو ژبو سره اړيکې لري، چې په لاندې ډول دي:

(پشه يي) چې دکونړ په ښکتنۍ برخه او په لغمان کې دکابل سيند په شمالي سيمه کې دمحلي خلکو دخبرو ژبه ده، همدغه ډول تيرايي په

[1] G.A.Grirson , LSOT , Vol ۱ , Calcutta , ۱۹۲۷ , p ۱۵۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننگرهار کې د کابل سیند جنوب خواته دځینو وګړو د تکلم وسیله ده، له دغه ځای لرې په جنوب (وزیرستان) کې (اورمړي) ژبه په ایراني لهجه دځایي خلکو له خوا ویل کیږي، هغه وخت چې (اورمړیان) دغې سیمې ته په کډه شول، نو په دې سیمه کې له هغه خلکو سره اشنا شول، چې د دارديک آر څخه وو او په دې توګه په اورمړي ژبه د دوی اثر وشو. همدغه ډول د تهال (تل) چوتیالي سیمې په خېترانس کې ځینې خلک د (لاهندا) ژبې په بدله لهجه خبرې کوي، چې له دارديک سره مخلوط ښکاري. په (سند) کې ځینې خلک په داسې لهجه خبرې کوي، چې له دارديک اصطلاحاتو سره مشابهت لري. په دې لار کې موږ د دارديک لرغونو ژبو او لهجو آثار وليدل، چې په (دارديستان) کې پرې خبرې کيږي او په دې کې تيرايي ژبه داړيکو له مخې مهم ځای لري. د کابل په شمال کې په هغو دريو ژبو کې د دارديک ژبو لرغوني اثرات او نښې وينو، چې دا با سيند تر خولې رارسيدلي دي. جنوب خواته د دارديک ژبو د پراختيا خبره نوره پر ځای پرېږدو او ګورو چې د هند په مرکزي برخه کې د (بهيل) په ژبو او کله هم د (ماراټهي) په (کونکاني) لهجه د دارديک ژبو محدود مشابهت موجود دی. که دا وروستني څېړنيز معلومات وي، نو پر دې اساس ويلای شو، چې تيرايي ژبه دهغو ژبو په ځنځير کې چې له (هندوکش) څخه تر (ګوا) رارسېدلې مهمه کړۍ ده.

## د تيرايي ژبې غږ پوهنه (فونيټيکس):

بايد په ياد ولرو چې کوم ډول مواد زموږ په لاس کې دي د هغو دوو بې تعليمه کسانو په څرګندونو پورې اړه لري، چې د هغوی له خولې رانقل شوي دي. (سر اوريل ستين) د دغه کسانو د خبرو او لهجې څخه په ښه دقت او زيار د تيرايي ژبې لغات او الفاظ ثبت کړي دي. په هغه صورت کې چې يوه ژبه معياري او سټنډرډ نه وي او عموميت ونه لري، د معياري او مترقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبو پـه پرتله دالفاظو پـه ترتیبولو کې زیـاتې تېروتنې او نیمګړتیـاوې لـري، تر دې چې په دې اړه زیاتره پرمختللې او غني ژبې هم له اشتباهاتو خالي نـه دي او پـه انګلیسي او هندي ژبو کې هم دغه ډول کمې او زیاتی لیدل کیږي، دتیرایي ژبې پـه څېر نالیکل شوې ژبې بیا دغه ډول زیات نواقص او غلطۍ لري، ځکه چې پـه مختلفو سیمو او حالاتو کې ډول ډول غږونـه او تلفظات لـري، دمثـال پـه ډول ځینې خلک پـه تیرایي کې انسان تـه (آدام) او ځینې (ادم) وایي، بعضې (ښه) ته (براډا) او ځینې (برېډا) وایي، ماشوم ته ځینې خلک (بدانا) او ځینې (بدنا) وایي. پـه دې اساس مشکله ده چې دتیرایي پـه شان ژبو لپـاره خاص معیـاري قواعـد وضع شي، پـه دې اړه مـوږ دلازیـاتو معلوماتو دلاس ته راوړلو پـه طمع یو. تیرایي ژبـه د داردیک دنورو ژبو پـه څېر یو شمېر ساکن او متحرک واول حروف لري، چې د ساکنو حروفو پـه اړه باید دوه ډول مهم ټکي په پام کې ونیول شي، پـه یو حالت کې دلـومړي لفظ غږ ددویم لفظ دغږ پر وړاندې تغییر مـومي، لکـه (دېـن) معنـی (غـوا) چې دویم لفظ یې (دهېنوه) دی، پـه بل حالت کې دمرکبو الفاظو دلـومړي لفظ اخرنی حرف چې واول او دویـم لفظ پـه ساکن حرف شروع وي، پـه داسې صورت کې ددویم لفظ اخرنی حرف سره وصل کیږي لکه (نازارا- منزوم) پـه (نـازارام- منزوم) بـدلیږي، چې معنـی یې ده (ستا پـه نظرکې) همدغـه ډول (برېکا- تونا) چې پـه (برېکـات- تونـا) بـدلیږي. معنـی (دونې لانـدې) او لـه (یو- تي) څخه (یوت – تي) جوړیږي، چې معنی یې ده (هغه راغی).

## په تیرایي ژبې کې ارټیکل:

پـه تیرایي ژبـه کې غیـر مشـخص ارټیکـل، چې دجملې دترکیب لپـاره خاص حروف دالفاظو سره اضـافه کیـږي، لکـه پـه فارسي کې (ي آ (یـآ) – ي وحدت) او پـه کشمیري (آ) حروف چې دلفظ پـه اخیـر کې پـر ځـای یـې (ي) اضـافه کیـږي لکـه (خـارآب- بـادان – ي) معنـی (خـراب هلـک) د(بادانـا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوروستني (الف) پر ځای (ي) راغله او د مشخص ارټيکل په صورت کې مناسب ضمير (دا، هغه، دوی، هغوی) استعمالېږي. په تيرايي کې دانګليسي په څېر دارټيکل څرګند ټکي لکه (ا، ان، دی) چې له اسم مخکې راځي نشته.

## په تيرايي ژبه کې ښځينه او نارينه اسمونه:

په تيرايي کې ژبه د ښځينه او نارينه اسمونو د مشخصتيا لپاره کافي مواد نه لرو، چې له مذکر نومونو ښځينه نومونه جوړ شي، زياتره ښځينه اسمونه په (ې) پای مومي، چې په هندي کې په (ي) ختميږي لکه (سترې) معنی ښځه، (اکچې) په کشميري کې (کچ ې) معنی سترګه، (دې) په هندي کې (دهي) معنی (لور).

د تيرايي ژبې ګرامري جوړښت (ډکلېنشن):

په دې اړه دوه عمده حالات په مخکې لرو، چې د مشخصاتو لپاره يې اروپايي ګرامري اصطلاحات په کار اچول کيږي. يو حالت يې فاعلي حالت Nominative او بل عمومي حالت مفعول منه دی. په فاعلي حالت کې د فعل په اړه مفعول مشخص وي، چې همدا حالت د مفعولي حالت Ablative له پاره هم دی. که د فعل لپاره فاعل څرګند او د فعل ماضي دريم شکل استعمال شوی وي همدغه حالت په مفعول منه حالت کې هم ليدل کيږي.

په تيرايي ژبه کې په مفعول منه حالت کې (الف) اضافه کيږي لکه (پاندا - خوم) (نوم-پاند) معنی (د سرک پر سر)، (مولکا – مانزوم) (نوم– ملک) معنی (د مملکت په داخل کيږي، (براډا اداما – مآ) معنی (له يوه ښه سړي څخه) په ځينو حالاتو کې د (الف) پر ځای نور واول حروف لکه (يو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

و ) هم راوړل کيږي. لکه (مالا تارافي – يو ) معنی (هغه د پلار پر خوا راغی ) ، (استو - مانزوم ) (نوم – است ) معنی (په لاس کې ) مګر په عامه توګه (الف ) مروج دی. ځينې وخت د مفعول منه (الف ) له پامه غورځول کيږي او دفاعلي حالت په شان وي چې دواړه په شريک حالت کې داسې وي لکه، (کوزارا داک _ خوم ) معنی (پرزوی ) او معمولاً هغه وخت تکراريږي، چې کله دلغت په اخر کې واول راشي لکه (مالا - مآ ) (نوم – مالا ) معنی له پلار څخه، (غوسا – خوم ) معنی (په غوسه کې ) ، (بادا مآشي – خوم ) معنی ( دبد معاشۍ په حالت کې ) ، (کوي _ ما ) معنی (له کوهي يا ځاه څخه ).

په تيرايي ژبه کې (اس ) زياتره د (اضافي ) حالت Genitive د مشخصتيا لپاره په کار اچول کيږي او د ملکيت اظهار په کې کيږي، همدغه ډول (اسي ) د (مفعول له ) Dative حالت لپاره استعماليږي او د هغه اسم لپاره په کار راځي، چې د فعل مفعول يې غير مستقيم وي او معمولاً د بعضې رابطه حروفو وروسته راوړل کيږي، په بعضې حالاتو کې دواړه يو له بل سره بدلېدای هم شي او په لاندې ډول يې مثالونه وړاندې کيږي:

(اضافي حالت ) – (ليماس شيسي کيمات ) معنی (د هغه ځيز قيمت ) دلته دواړه ډوله حالات (اس ) او (اسي ) د اضافي حالت لپاره استعماليږي لکه (براډا ادا ماس تان ) معنی (د ښه سړي کور يا ځای ) (لې تان مالاس تي ) (نوم – مالا ) معنی (دا د پلار کور دی ) ، (ميانا تروراس پوتار ) معنی (زما د تره زوی ).

(مفعول له ) – (مې تانو مالاسي بازوم ) معنی (زه به خپل پلار ته ځم ) ، (مې لی ادام ديناسي ديتا وا ) معنی ( ما هغه سړی وهلو ته ورکړی و ) ، (لې پاکيراسي يک آنا دې ) معنی (دې فقير ته يوه آنه ورکړه ، ( ميانا دونسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خات یوت – تي ) چې معنی یې (زما دلور له خوا یو خط راغی ) ، (لېما بریجا سي لې بریج کازاتي ) معنی ( دا برج نسبت له هغه برج لوړ دی ).

ځینې وخت اضافي حالت په دې ډول هم تعینیږي لکه ، (لې کیلا پک بانهیا – ما ) معنی ( دکلي له یوه دوکاندار څخه ) ، (کوزارا داک – خوم ) معنی (داس پر شا ) یا داسې (کوزا راس زین ) معنی (داس زین ) ، ( اسمان نازارا - مانزوم ) معنی ( داسمان په لیدو کې ) ، ( دوماّ ماآواز ) معنی ( دیو ډول یا نغارې اواز )

تیرا یي ژبه ځینې وخت او په خاص ډول په (اورمړي ) کې داضافي حالت دمفعول له دحالت په شان وي لکه په لاندې دوو مثالونو کې:

(کانا مالا برېډا باتسا کوختو ) معنی ( زما پلار ښه غوا حلاله کړه ) ، ( سوری پوتار (پوتارا ) تآنو مآل جاما کېری ) معنی ( کشر زوی خپل مال متاع ټوله کړه ).

**دجمعې او مفرد حالت:**

دوه داسې اسمونه ذکر کیږي چې په غیر منظم ډول مفعول منه حالت جوړوي، لکه (دې ) معنی (یو لور ) ، چې مفرد مفعول له (دونسي ) دی او (سپاز ) معنی (یو خور ) چې مفرد مفعول له یې (سپازونسي ) دی.

چې کله اسم په (الف ) او (آ ) پای ومومي هغه وخت مفرد هم دجمعې په شان وي لکه (مالا ) معنی (پلار یا پلرونه ) ، (سانآ ) معنی (سپی یا سپي ) ، ځینې وخت دجمعې حالت لپاره یو (واول ) اضافه کیږي لکه (پک اداماس دوو پوتارا تینا وآنا ) معنی ( هلته له یو سړي دوه زامن وو ) ، (لې اداما خرآب تینا ) معنی (هغه سړي خراب دي ) ، (کانا سآناس دانتې ) مفرد (دانت ) او معنی (ستا دسپي غاښونه ) ، (ترې اداموِ ) معنی (درې سړي ) په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې حالت کې د جمعې لپاره د(ساوا ) لفظ معنی (ټول) او د مفرد جمعې شکل لپاره د(او ساوا ) لفظ معنی (موږ ټول ) استعمالیږي.

د مفعول منه د جمعې حالت په اخر کې (ان ) راځي، لکه(براډا ادمآن تانا ) معنی (د ښه سړیو کورونه یا ځایونه )، (ساوا بریجان – مآ لې بریج کازا تـي ) معنی (له ټولو برجونو هغه برج نسبتاً لوړ دی ). په ځینې حالت کې د جمعې لپاره د پښتو او پارسي ځینې الفاظ هم په کار راځي، چې د لته یې تشریح ته اړتیا نه وینم.

په بعضې حالت کې د اضافي حالت او د مفعول له مفرد الفاظ لکه (اس ) او (اسي ) د مفعول منه جمعې شکل لپاره هم اضافه کیږي، لکه (براډا ادامانسي خابار یوتي ) معنی (له ښه سړیو خبرونه راځي ).

په لاندې ډول د تیرایي ژبې ډ کلښنشن د (ادام ) لفظ په اړه د نمونې په ډول وړاندې کیږي:

| حالت | مفرد | جمع |
|---|---|---|
| فاعلي حالت | ادام | ادام‍ا |
| مفعولي حالت | ادام | ادام‍ا |
| مفعول منه | اداما | ادامان |
| اضافي حالت | اداماس | ادامان |
| مفعول له | اداماسي | ادامانو، ادامانسي |

د مفعول منه په حالت کې د زمان او مکان د نورو اړیکو اصول د اسې ټاکل کیږي: لکه (خوم ) معنی (له پاسه، په داخل کې، دا )، (مآ ) معنی (لـه بله څخه )، (مانزوم ) معنی (دننه یا په داخل کې ) او (ني ) معنی (مقایسوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سامان الات )، (پاتي )معنی (وروسته )، (پتيکانا ) معنی (شاته )، (ساما ) معنی (همراه، سره یو ځای )، (توونا ) او (وازا ) معنی (له یو شي لاندې یا ټيټ ) همدارنګه (کوزاراداکا ) (داک ) خوم )معنی (داس پر شا )، (اوولبما کورسي – ماوتهوم ) معنی (په دغه کرسۍ زه ودرېږم )، (میآنا تآنا – منزوم ) معنی ( زما په کور کې یا زما دکور دننه )، (اوولبما جي ودستا – ني مارآګام ) معنی ( زه دلته له لوړې مړ کیږم )، ( لبما – پاتي مالا – تارافي وو ) معنی ( هغه وروسته دخپل پلار په خوا راغی )، (چانا – پاتي کانا ) معنی (ستا شاته )، ( تانو دوستآنا – ساما ) معنی ( زه له خپلو ملګرو سره ) چې دلته له فارسي دوستان دجمع په شکل ذکر شوي، (بریکات – توونا ) او یا (بریکا- وازا ) معنی (له یو ونې لاندې).

## په تیرایي ژبه کې دصفتونو حالت:

اسم صفت دجنس، تعداد او کیفیت پر اساس یو له بله متفاوت وي، دتیرایي ژبې په اړه لازم مواد نه لرو، چې له مخې یې دصفت لپاره ثابته کړنلاره وټاکل شي، سره ددې بیا هم په عام ډول ویلای شو، چې دصفت جوړونې لپاره د(ې) حرف دښځینه اسم او یا دمذکر جمع اسم په اخر کې اضافه کیږي.

## دشمېرنې اعداد:

تیرایي ژبه هم دنورو ژبو په څېر دشمېرنې اعداد لري، چې په لاندې ډول لیکل کیږي:

۱- یک ۲- دو، ۳ – تری، ۴- څاور، ۵- پانس، ۶ – خوو، ۷- سات، ۸- اخت، ۹- ناب، ۱۰- ده، ۱۱- یکو، ۱۲- بو، ۱۳- ترو، ۱۴- څاوده، ۱۵- پانزي، ۱۶ – خولا، ۱۷ – ساتارا، ۱۸ – اختارا، ۱۹، کونې، ۲۰ بیاو، ۲۱- بیاو یک، او هم داسې نور...۳۰ – بیاو ده، ۳۱- بیاوده یکو، او همداسې نور... ۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

–دوو بیاو ، ۴۱ –دو بیاو یک ، او همداسې نور... ۵۰ –دو بیاو ده ، ۶۰ –تری بیاو ، ۷۰ –تری بیاو ده ، ۸۰ څاور بیاو ، ۹۰ - څاور بیاو ده ، ۱۰۰- پانز بې.

د شمارنې دغه ډول سیستم په شلګون ولاړ دی.

د تیرایي ژبې ضمایر:

| حالت | زه | | ته | |
|---|---|---|---|---|
| | مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| فاعلي حالت | او ، اوو | او ، مېن | تـــو ، توو | تاو |
| مفعـــول منه | مې | او | تي | تا |
| اضـــافي حالت | میانا | میانا | کانا | کانا |
| مفعـــول له | ماسي | ماسي | ؟ | ؟ |

په دې کې د پښتو او نیمه پښتو ضمایر هم استعمال شوي لکه (ما ) څخه (دا – مې ) یا (ماسيـ دا ) په ځینو حالاتو کې جمع او مفرد دواړه یو ډول وي. د تیرایي ژبې ضمیرونه د هماغه دوو بې سېواده کسانو له خوا (سر اوریل ستین ) ته اورول شوي، چې مخکې یې یادونه شوې ده. باید په یاد ولرو چې په دې اړه د فاعلي او مفعول منه د حالتونو ضمایر یو له بله بدلېدای هم شي. چې مثالونه یې په لاندې ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

( اولېما جي ود ستا – ني مارآگام ) معنی ( زه دلته له لوږې مرم ) ، (مې لې ادام دبياناسي دېتاوا ) معنی ( ما هغه سړی وهلو ته ورکړی و ) (لي ميانا پوتار مورآ گآ وآ ) معنی (دا زما زوی مړ شو ) ، (لاماسي دې ) معنی (هغه ماته راکړه ) ، (پاس دبيان – ما اوگېما ) معنی ( له وهلو وروسته لېږې ولاړم ) ، (مېن سامو تری آدامو خاراسي دا – بازم ) معنی (موږ درې واړه سړي بازار ته لاړو ) ، تو هوخيار تيس ) معنی ( ته هوښيار يې ) ، (تې ماسي تسيندار نا دېتا ) معنی ( تا ماته سېرلی رانه کړ ) ، ( کانا برايوت – تي ) معنی ( ستا ورور راغی ) ، ( تاو ساو خاراب تيزا ) معنی ( تاسو ټول خراب ياست ).

هغه ضميرونه چې زيات مروج دي په دې ډول دي: (لې) يا (لا ) معنی ( دا ، هغه او هغه څوک ) ، (دا ) او (هغه ) لپاره جلا لغات نه کارول کيږي، (لي ) ديو لپاره او (لا ) دنورو لپاره استعماليږي، همدغه ډول (لې ) او (لا ) بعضې وخت دمشخص ارټيکل په توگه کارول کيږي، په دې اړه دتيرايي ډيکلېشن منظم دی، مگر غير له هغه حالت څخه چې هلته اساس د(لېما ) لفظ وي او مفعول منه حالت او دجمعې لپاره استعمال شوی وي، په دې ارتباط نور مثالونه په لاندې ډول دي:

(لې برېډا آدام تي ) معنی (دا يو ښه سړی دی ) ، (لا بي گا دور مولکاسي ) معنی (دی لاړ ليرې وطن ته ) ، (لېما استو – منزوم انگور تسيا (ځيا ) ) معنی ( تا په خپل لاس کې بنگړي واچول ) ، (لېماس سپازونسي کازا ) معنی ( هغه دخپلې خور په نسبت لوړ دی ) ، (لېسي بو ارام) معنی (زه به هغه ته ووايم ) ، (لېما بريجاسي لي بريج کازاتي تي ) معنی ( دا برج له هغه برج نه لوړ دی ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

(لي ساوا حاضر وآنا ) معنی ( هغوی ټول حاضر وو ) ، لېما ساوا براډې تینا ) معنی ( هغوی ټول ښه دي ) ، (لې پکیراسي ېک انا دي) معنی ( دې فقیر ته یوه انه ورکړه ) ، (لا گاڼا پوتار غوسه خوم گآ ) معنی ( مشر زوی په غوسه لاړ ).

دارتباطي یا نسبتي ضمایرو لپاره دپارسي (کی ) لفظ استعمالیږي، دپوښتنیز یا سوالیه ضمایرو لپاره (کاما ) چې اضافي حالت یې (کامیک ) دی، استعمالیږي، معنی ( څوک ؟، څه شی؟ ) ، لکه: (لې ادام کاماتي ) معنی ( هغه سړی څوک دی ؟ ) ، ( کآنا پتیکانا کآمیک بادانا دي–و ) معنی ( کوم یو هلک ستا شاته راروان دی؟ ) (لی کی تی ) معنی (داڅه شی دی؟ ).

**دضمیرونو نور اشکال دا دي:**

(کی ) معنی ( هر یو ، بعضې یو ) (کاسا یا کېسا ) (هر ډول یا څرنگه ) ، (لېتیک ) معنی (ډېر زیات (عدد ) ) ، (کاتیس ) معنی ( څومره زیات (پیمانه ) ) ؟(کاتیسي ) معنی ( څومره ډېر (عدد ) ) ؟، (تانو ) معنی ( زما ، ستا ، دهغې، ستاسې، دهغوی ) ، دملکیت ضمیر دی، چې په هندي ژبه کې د( اپنا ) سره مترادف دی.

**په تیرایي کې دفعل دحالت تعیین:**

دفعلونو مختلف حالات په لاندې گروپونو ویشل شوي:

| شماره | مفرد | جمع |
|---|---|---|
| ۱ | (تیم ) | (تیما ) |
| ۲ | (تیس ) | (تیزا ) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۳ | تي(مؤنث ) | (تينا ) |
| ۵ | واما (وام ) معنی(زه وم ) | (واما ) |
| ۶ | (واز، وې ) | واما (وازا ) |
| ۷ | وآ(مؤنث يې وې ) | (وانا ) |

په ماضي زمانه کې (واما ) دمفرد فاعل لپاره او دجمعې مفعول لپاره استعمال شوی، مگر معلومه نه ده، چې صحيح به وي ؟، مثالونه يې په لاندې ډول دي:

(بروک گوناگار تيم ) معنی ( زه لوی گنهگار يم )، (تو هوخيار تيس ) معنی (ته ماهر(هوښيار ) يې. (مونا سيب ناتي ) معنی ( دا معمول يا رواج نه دی)، (او ساوا غريبانا تيزا )، معنی (مونږ ټول غريبانان يو )، (تاو ساوا خرابي تيزا ) معنی (تاسو ټول خراب ياست)، (اک بروکي ستورا تينا ) معنی ( نن هلته زيات ستوري دي ) (مي (او ) سورو واما(وام ) لېما واکتا-خوم ) معنی (په هغه وخت کې زه يو ماشوم وم )، (تو سورو واز جانگو واکتا مانزوم ) معنی ( ته يو ماشوم وې په هغه وخت دجنگ کې )، (خوشالي کاران مونا سيب وا ) معنی ( دا رواج و چې خوشحالي مو کړې وی)، (او ساوا لېما جي واما ) معنی (مونږ ټول هلته وو )، (تا وا ساوا بوغا واما (وازا ) ) معنی (نېږدې وو ، چې تاسې ټول( لويدلی وی)، (بک اداماس دو پوتارا واما ) معنی ( له يو سرې هلته دوه زامن وو ).

اکتيو او ځرگند فعل يو داسې فعلي اسم او يا مصدر لرونکی وي، چې په اخير کې يې داسې حرف راځي لکه(ن ) په (کاران ) کې معنی ( دکارکولو عمل ) په (مفعول له ) حالت کې يو مصدر دعمل په حالت کې ښوول کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه: ( مې لی آدام دبیانسي دیتا وا ) معنی ( ما ورکړی و هغه سړی وهلو ته ).

په امریه جملو کې مفعول (دویم کس ) مفرد وي لکه (دې ) معنی ( دې ته یې ورکړه ) یا (ان ) معنی (ته یې راوړه ) دمفعول (دویم کس ) دجمعې حالت جوړونې لپاره (آ ) اضافه کیږي لکه په (آنا ) معنی ( تاسې یې راوړئ ).

په تیرایي ژبه کې د(داردیک ) او (غالکاه ) دنورو ژبو په څیر (حال – مستقبل ) زمانې لپاره دحال له قاعدې سره ځینې ټکي اضافه کیږي، چې په دې سره او سمهال او یا راتلونکې زمانه مشخص کیږي. که وغواړئ چې حاضر (حال ) زمانه تعیین شي، نو(دې ) یا (دا ) حرف چې د پښتو ژبې له (دا ) سره مقایسه کیږي دمختاړي یا پېشوند په توګه اضافه کیږي، لکه (او دا- بازام ) معنی ( زه لاړم ) ، که وغواړئ چې اینده زمانه تعیین شي، نو څرنګه چې په پښتو کې رواج لري، همدغه ډول د(با ) لفظ دمختاړي په توګه استعمالیږي، لکه (اوبا ـ دېم ) معنی ( زه بۀ ورکړم ) ، چې ځینې وخت د(با ) پرځای (بو ) هم راځي.

دحال قاعده عمومي او څرګنده ده، مګر ما ځینې داسې فعلونه یادابښت کړي، چې د(ز ) په اضافه کېدو یو اساس جوړوي، چې هغه په لاندې ډول دي:

له (کېر ) معنی (وکړ ) دحال قاعده لرو (کېر ) له (بو ) معنی (راغی یا لاړ ) دحال قاعده (باز ـ ) یا (بې ـ ) ده، له (بې ) معنی (کېناستل ) دحال قاعده (بېز ـ ) ده، له (ې ) معنی (راغی ) دحال قاعده (ېز ) یا (ې ) ده له له (دې ) معنی (وهل یا بایلل ) څخه دحال قاعده (دیز، داز، دې ) دی. له (ز ) اصطلاح سره مترادفه اصطلاح موږ په (شینا ) ژبه کې (ج ) ګڼو، لکه (بوجوم ) معنی (زه لاړم).

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ کافي مواد نه لرو ، چې د هغه په ذريعه د غه زمانه په هر اړخيزه توګه مطالعه شي، مګر لاندې مثالونه به پرې يو څه رڼا واچوي. موږ مفرد او جمع شکلونه يې يو ځای د اسې ګروپبندي کړي، چې په ترجمه به يې اختلافي اغېزه ونه لري، معمولاً هغه اشکال چې په (م) پای مومي مفرد او هغه چې په اخير کې يې (ما ) راځي جمع ګڼل کيږي، موږ دلته د دويم مفرد کس (مفعول) او د جمع د ربمګړي چا لپاره مثالي جملې نه شو وړاندې کولی.

لومړنی کس (فاعل): (دا ـ بازام) معنی ( زه لاړم) ، (بو - ارام) معنی ( زه به (شايد ) ووايم) ، (اوتهوم) معنی ( زه ودرېدم ) ، (ببم) معنی ( زه راغلم يا زه لاړم) ، (بازام) معنی ( زه به (شايد ) لاړ شم) ، ( دا – بازام) معنی ( زه لاړم يا موږ لاړو ) ( ببزوم ) معنی ( زه کېناستم) ، (د بم ) معنی ( زه ورکوم يا بايلم) ، (با ـ د بم) معنی ( زه شايد دلاسه ورکړم) ، (دې- کام (خام) ) معنی ( پربېږدئ چې وخورو ) ، ( دا – کېربم) معنی ( زه (کار ) کوم) ، (دې – کاربم) معنی ( پربږدئ چې وکړو ) ، (بما ) معنی ( زه راغلم) ، (د بما ) معنی ( ما ورکړ يا له لاسه ورکړ).

په هغه صورت کې چې د ربمګړی کس مفرد وي: لکه (اووې) معنی ( دی راغی ) (دايې) معنی ( دا سړی راغی ) ، ( ځارو ) معنا ( دا سړی مال څروي).

د ساده حال زمانې لپاره د فعل لومړنی ( حال ) شکل استعمالیږي او حال – مستقبل لپاره د فعل استمراري شکل استعمالیږي لکه ( ځارو – تي ) معنی ( دا سړی لګيا دی مال څروي).

د نورو د ارديک ژبو په څېر په تيرايي ژبه کې د ماضي لپاره د فعل د ريم حالت استعمالیږي لازمي او متعدي فعلونه هر يو د استعمال ځانګړی ځای لري، دلازمي فعلونو په صورت کې د فعل وجه تسميه (پارتيسيپل participle (فاعلي يا مفعولي حالت) د د ربمګړي کس لپاره په کار اچول

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي، په لاندې ډول دلازمي فعل د دریم حالت په اړه دغه دوه یاد اښتونه وړاندې کوو: (یو ) یا (او ) له (ې) معنی (راغی ) څخه دی او په غیر منظم ډول (گا ) له (بو ـ ) معنی ( راغی یا لاړ ) څخه دی، چې د (گا ) په فاعلي او مفعولي دواړو حالاتو کې استعمالیږي.

د (یو ) او (او ) په اړه مثالونه موږ یوازې د دربمگړي مفرد اسم لپاره ذکر کوو چې یوه بېلگه یې داسې ده:

( خاتهاناسي بوغا و گیدان نغارا دوماما اوازیو ) معنی ( کله چې هغه کلي (کور ) ته رانږدې شو ، نو دډول نغارې اواز یې ترغوږ شو ).

د( گا لپاره موږ زیات ډولونه لرو ، په هغه صورت کې چې لومړی کس (فاعل ) مفرد وي د دې لپاره (گام ) یا (گېم ) چې معمولاً صحیح یې (گ ام ) استعمالیږي لکه، (اوماراگام ) معنی ( زه مړ شوم یا زه مړیم ) ، ( او کانا حوکوم –ما باهر نا گیم ) ، معنی ( زه ستا له حکمه بهر نه یم تللی ).

د دربمگړي مفرد کس لپاره مثال په دې ډول دی: (لا بې گا دور مولکاسي ) معنی ( او هغه لیرې وطن ته لاړ ) ، په هغه صوت کې چې فاعل جمع وي لکه ( پاس دبېان –ما او گېما ) معنی ( دهغه له وهلو وروسته موږ لیرې لاړو ).

دمتعدي فعلونو په اړه لکه څرنگه چې په نورو داردیک ژبو کې رواج لري، همدغه ډول په تیرایي ژبه کې هم معمول دي، چې په دغه مثالونو کې دفعل، فاعل او زمان حالت داسې ښودل کیږي:

( کي تانو دوستانا ساما خوشالي کېري ) معنی ( ما چې له خپلو ملگرو سره یو ځای خوشحالي جوړه کړه ) ( تې بربېړه باتسا کوختو ) معنی ( ستا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذریعه ښه غوا حلاله کړی شوه ) (لاسي کي نا دیتا ) معنی ( هغه ته یو هم مه ورکوه ).

په تیرايي ژبه کې د حال بشپړې perfect زماني لپاره فعل په لاندې مثال کې دا سې څرګندیږي:

(میانا دونسي حات یوت – تي) معنی ( زما دلور له خوا یو خط راورسیده ) ، (لې کیلا ښک باڼیا – ما اچیتا – تي) معنی ( دکلي له یو دوکاندار څخه مې دغه شی اخیستی ) دبشپړې ماضي شکل لپاره دفعل ماضي حالت استعمالیږي لکه (لې میانا پوتار مورا ګاوا… لې ګار ګا وا ) معنی ( دا زما زوی مړ شوی دی… دی له منځه تللی دی یا ورک شوی دی ) ، ( او از ګاڼا پاندا – خوم ګا واما ) معنی ( نن ورځ زه په اوږده لار لاړم ).

دغه ډول پورتني یادا ښتونه مو ږ ته په یوه ژبه کې د خبرو د جوړښت په اړه یوه ښه نظریه په لاس راکوي، چې د ژبپوهنې د سروې په اړه زیات مهم دي».

لکه څنګه چې ګریرسن د تیرايي ژبې په اړه ښه څېړنه کړې ده نو پر دې اساس مو د نوموړي نظریات په مفصل ډول را نقل کړل. باید یادونه وکړو، چې د دې نظریاتو فونیټک متن د همدې رسالې په ضمیمه کې راغلی دی.

On the tirahi language
Author: george grierson
Source: journal of the royal asiatic society of great britain and ireland , no.۳ (jul, ۱۹۲۵) pp. ۴۰۵- ۴۱۲.
Published by: cambridge university press
Stable URL: http /www.jstor.org /stable / ۲۵۲۲۰۷۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شلمې پېړۍ په سر کې د دارديژبو يو شمير نورمحققين هم منځ ته راوتلي دي، چې د هغو په ډله کې ستين کونوف، د گريرسن همکار ښه شهرت لري.

په ۱۹۲۴م کال دناروې د کلتوري مقايسوي انستيتوت نامتو ناروېژي محقق مارگن ستېرن افغانستان ته راغی او د(دارديژبو بشپړه مطالعه يې وکړه، دنوموړي محقق آثار ددغو ژبو په باره کې دنورو محقيقينو لپاره گټور او مفيد ثابت شول، نوموړي وکړای شول، چې د(دارديژبو بشپړه طبقه بندي پوره او داندو آريايي ژبو په منځ کې ددوی ځای او مقام داسې تطبيق کړي، چې دمنلو وړ وي.

خصوصاً د پشه يي ژبو په باب دده بشپړه گرامري او فونيټيکي تحليلونه او کامل قاموس ډېر ارزښت وړ دی.[1]

د ۱۹ پېړۍ د(۵۰-۲۰) کلونو په موده کې يو لړ څېړونکو د(دارديژبو په مطالعه پيل وکړ، چې دهغو په ډله کې يو جرمنی عالم (گيوگ بودرومن) ديادونې وړ دی، چې دوته پوري ژبې گرامر او قاموس او داسې نورو څو دارديژبو په باب يې ښه آثار خپاره کړي دي.

په ۱۳۴۰ل کال دکابل پوهنتون دژبو او ادبياتو په پوهنځي کې دافغانستان دژبو او ادبياتو اطلس جوړول پيل شول، چې په هغې کې د دارديژبو بريدونه هم ښودل شوي دي.

همداشان روسي څېړونکي (دوريانکوف) دپشه يي او ديگانو په گروپ کې ښه مطالعه کړې او زيات مواد يې ورکې راټول کړي دي، دنورستاني ژبو په باب د(ا-ل گريون بيرگ) له خوا راټول شوي او خپاره شوي مواد هم ډېر په زړه پورې دي.

---


[1] G Morgan Sterne Report on a Linguistic Mission to afganistan . Oslo , ۱۹۲٦ , p ۵۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د(داردي) ژبو په باب دډېرو څېړونکو له خوا څېړنې شوي او خپرې شوي دي، چې دهغو ټولو داردي ژبو لنډه يادونه په پورته توگه وړاندې شوه.

ددغو ټولو څېړنو لنډيز د(داردي ژبې) په نامه کتاب کې وړاندې شوي، چې مؤلف يې (د. ی، ايديلمن) دی.

دا کتاب ددوريانکوف په مسؤليت دشوروي اتحاد دعلومو اکاډمۍ دآسيايي ولسونو دانستيتوت له خوا په ۱۹۲۵م کال کې په مسکو کې خپور شوی دی.[۱]




---

[۱] څېړنمل دوست محمد دوست ، دافغانستان ژبې او توکمونه ، ۴۰۵ – ۴۰۷مخونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شلورم څپرکی

## داندو اریایي ژبو په ډله کې دتیرایي ژبې دریځ

څرنگه چې داردي ژبې دآریایي ژبو په ډله کې شمېرل کیږي، داردي ژبې دیو لړ داسې ژبو مخصوص گروپ دی، چې مخصوص تاریخي فونیټیک او مورفولوژیک گډ خصوصیات لري.

اوس داسې گڼل کیږي، چې دداردي ژبو د هغه دیالیکټ پر اساس انکشاف کړی دی، چې ویونکي یې لرغوني آریایان او په خپله همدغه معاصره سیمه کې مېشته وو.

ددې لپاره چې د تیرایي ژبې دریځ پوره روښانه شي، بې ځایه به نه وي، چې دټولو داردي ژبو لنډه پېژندنه هم وړاندې شي.

داردي ژبې په دریو څانگو ویشل کیږي:

الف: لویدیځې داردي ژبې

ب: مرکزي داردي ژبې

ج: ختیځې داردي ژبې:

ختیځې داردي ژبې هم په دریو څانگو ویشل کیږي.[1]

---

[1] څېړنمل دوست محمد دوست ، دافغانستان ژبې او توکمونه ، ۳۹۹- ۴۰۰مخونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی څانګه يې دهغه داردي ژبو څخه عبارت دي، چې دپنجکوړې او اباسين سيند په غرنيو برخو کې، چې په کوهستان سره شهرت لري ژوندۍ دي.

ددغې څانګې اساسي ژبې دادي:

بشکاريک ژبه: دغه ژبه ددير په کوهستان دپنجکوړې دسيند په پاسنۍ برخه کې موجوده ده.

کاروي ژبه: داژبه دسوات سيند په غرنيو سيمو کې موجوده ده او دبشکاريک ژبې سره ډېر نږدې والی لري او دژوند ساحه يې دبشکاريک په لويديځ کې واقع ده.

توروالي ژبه: ددې ژبې دژوند ساحه دسوات او پنجکوړې دسيندونو په غرنيو برخو کې دګاروي په لاندينۍ سيمه کې پرته ده.

مايانی ژبه: ددې ژبې ساحه داباسين سيند په غرنيو برخو کې او داباسين او سوات سيند ترمنځ له يوې خوا او له بلې خوا داباسين او جهلم دبهلتون نه تر يوځای کېدو، په دغه سيمه کې دا ژبه ژوندۍ ده، دا ژبه په کوهستاني ژبه هم شهرت لري.

شيني ژبه: دا ژبه ديو لړ ډياليکتونو مجموعه ده، چې يو تر بله جلا شوي او دژوند ساحه يې اساساً په کشمير کې دګلګيت، تانکير، چيلاس او څو نور ځايونه دي.

پهالوري (پالولي) ژبه: دغه ژبه دچترال په ختيځ کې په څو وړو وړو کليو کې ژوندۍ ده، دژبني خصوصيت له مخې دغه ژبه شينۍ (شينا) ژبې ته ډېره نږدې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کشمیري ژبه: ددې ژبې دژوند ساحه کشمیر دی، چې دزیاتو وګړو ژبه ده.

ددا ردي ژبو دویونکو شمیر په یقیني ډول نه دی څرګند ، خو داټکل له مخې یې شمیر درې میلیونه خلکو ته رسیږي، چې دوه میلیونه یې یوازې په کشمیري ژبه خبرې کوي.

هغه داردي ژبې، چې دژوند ساحه دافغانستان دنورستان خاوره ده، ددې ګروپ مشهورې ژبې دادي:

ـ کاتي (کتایي): ددغې ژبې دژوند ساحه دکتایي دره ده، چې دټولو دیالیکتونو اصلي ټاټوبی او زانګو ده.

درامګل او کولوم دسیندونو دمنځ برخه هم په کې راځي، چې داسیمې په لویدیځ دیالیکټ پورې اړه لري او ختیځ دیالیکټ یې دباشګل په دره کې ویل کیږي.

ـ وایګلي: ګریرسون وایي، چې ددغې ژبې دموجودیت سیمه دوایګل دره ده، دپیچ په ځینو وړو وړو سیمو کې هم ددغې ژبې څرک لیدل کیږي.

ـ اشکوني: ددغې ژبې دموجودیت سیمه دالینګار او پیچ سیندونو ترمنځ ساحه ده.

ـ پراسوني یا پاروني ژبه: ددغې ژبې دموجودیت ساحه دپارون دره ده.

ـ داملي ژبه: دغه ژبه دنورستاني او داردي مرکزي ژبو ترمنځ دوصل دکړۍ حیثیت لري او کېداى شي دځینو زیاتو خصوصیاتو له مخې په مرکزي داردي ګروپ کې شامله وګڼل شي.[1]

[1] څېړنمل دوست محمد دوست، دافغانستان ژبې او توکمونه ، ۳۹۱ – ۳۹۳ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مرکزي داردي ژبې:

دداردي ژبو په دغه ډله کې بېلابېلې ژبې شاملې دي او دمورفولوژيکي ځانګړنو پر اساس په دوو، يعنې شمالي او جنوبي ځانګو ويشل شوي دي.

چې تيرايي ژبه يې په جنوبي ځانګې پورې اړه لري.

په جنوبي ځانګه کې دغه لاندې ژبې شاملې دي:

پشه يي، شوماشتي، ننګلامي، وټه پوري، ګواري، کلشي، خواري او تيرايي.

### پشه يي ژبه:

پشه يي ژبه د داردي ژبو يوه ځانګه ده، چې دنورستان په جنوبي برخو، داليشنګ او الينګار دسيندونو په لاندينيو برخو، په دره نور، دمزار درې کيڼ اړخ او دکونړ سيند په ځينو غاړو، دکاپيسا ولايت په السايي او ځينو نورو وړو وړو سيمو کې ورباندې خلک غږيږي.

### شوماشتي ژبه:

دغه ژبه دشوماشت ددرې په پاسنۍ برخه، دمزار درې په کيڼ اړخ او دکونړ سيند په ځينو غاړو کې مروجه ده، دشوماشت درې په لاندينۍ برخه کې پشه يي ژبه ويل کيږي.

### ننګلامي ژبه:

ددغې ژبې دياليکتونه، چې اوس مړه دي او دشوماشتي ژبې سره يې نسبي خپلوي لرله او دننګلام او سپېدونکو پرې خبرې کولې او دپيچ او وايګل ديو ځای کېدو په سيمه کې ورباندې خبرې کېدلې، داسې ښکاري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د کوړنګلي ژبې ورسره ګډ خصوصیات لرل، کوړنګل د پیچ د سیند په ښۍ اړخ کې، چې وایګل سیند ورسره یو ځای کیږي، پروت دی.

## وټه پوري:

دا ژبه په وټه پور او کټار کې یعنې د کونړ په سیند د پیچ د سیند د توئیدلو د ځای نه لږ څه پاس دغه ژبه ژوندۍ ده.

## ګواري ژبه:

ډېر مؤرخین دغه ژبه د ګورباتي په نامه هم یادوي، مګر په خپله ګواریان ورته ګواري ژبه وایي. دا ژبه د نورستاني ژبې په نوم هم یادیږي، دغه ژبه د چترال په سیمه کې د باشګل د سیند په کښتنۍ برخه کې ویل کیږي.

## کلشي ژبه:

دغه ژبه د چترال او باشګل د سیندونو دیو ځای کېدلو په سیمه کې د( بومبوریت ) (ګلشګوم) او (بیرار) د چترال په جنوب کې ژوندۍ ده.

## خواري ژبه:

دغه ژبه چې چتراري (چترالی ) او همدارنګه د( ارنیه ) په نومونو یادیږي، د چترال درې په پاسنۍ برخه کې ژوندۍ ده، د دغې ژبې یو شمیر ویونکي د تاجکستان د بدخشان په برخه کې هم موجود دي.

## تیرایي ژبه:

تیرایي ژبه چې د دې پروژې اصلي برخه تشکیلوي او د مرکزي داردي ژبو په جنوبي څانګې پورې اړه لري څو کاله وړاندې د ننګرهار او کوټ درې په ځینو سیمو کې د پښتو ژبو وګړو ترمنځ څه ناڅه ژوندۍ وه، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس دا ژبه مړه او یوازې منفرد لغات یې دځینو خلکو په یاد کې پاتې وو، چې هغه خلک هم اوس وفات شوي دي.

ددې ژبې ویونکو دکونړ ولایت داکثریت (داردي ژبو) په شان په دوو ژبو خبرې کولې، چې دویمه ژبه یې پښتو وه.[1]

ځرنګه چې دمخه وویل شول، تیرایي ژبه دپښتو ژبې سره یوازې دګاونډیتوب اړیکې لري او دپښتوژبې ډېرې کلمې په تیرایي ژبه کې په مستعار ډول راننوتي دي، ځکه چې تیرایانو دیو کوچني اقلیت په توګه له پښتنو سره ګډ ژوند درلود. نو خامخا تیرایي ژبه دپښتو ژبې تر اغېز لاندې راغلې ده او ټول پښتو غږونه یې خپل کړي دي، په دې مانا چې کوم غږونه په پښتو کې موجود دي هماغه غږونه په تیرایي ژبه کې هم شته ناشته. دعربي ژبې ځینې کلمې چې پښتو ژبې ته په مستعارډول راغلي دي، ګمان کېږي چې تیرایي ژبې ته به هم دپښتو ژبې له لیارې راننوتي وي، لکه په تیرایي ژبه کې عورته، طرف او نورې کلمې. ځرنګه چې تیرایي ژبه اوس وخت له یوې مخې مړه او متروکه ده، نو دا به ګران کار وي، چې دتیرایي ژبې ټولې فونیمیکي الفباء لپاره کلمې پیدا کړو، که څه هم ددې رسالې په متن کې دتیرایي ژبې داسې کلمات راغلي، چې دنومړې ژبې دالفباء مثالونه تریو حده پورې بشپړولی شي، دپورتنیو خبرو په رڼا کې موږ کوښښ کړی، چې دتیرایي ژبې دفونیمیکي الفباء دغږونو او تورو لپاره جدول جوړ کړو، داخبره دیادولو وړ بریښي، چې تیرایي ژبه ددا ردي ژبو په ګروپ پورې اړه لري، خو الفباء یې لږ څه له داردي ژبو څخه توپیر لري، دبېلګې په ډول د(ث) غږ چې په پشه یي ژبه کې د(ل) او (ث) ترمنځ اداء

---

[1] ځېړنمل دوست محمد دوست ، دافغانستان ژبې او توکمونه ، پښتو ټولنه ، ۱۳۵۴ل کال ، ۳۹۸مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي، خو په تیرایي ژبه کې د پښه یي ژبې (ث) غږ په (ت) اداء کیږي، دمثال په توګه په تیرایي ژبه کې (پوتر) یعنې زوی او په پښه یي ژبه کې پوتر ته (پوثل) وایي، خو په نورو غږونو کې توپیر نه تر سترګو کیږي.

## د تیرایي ژبې فونیمیکي الفباء:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | آ | ā | مالا(پلار) | mālā |
| ۲ | ا | a | ادم(سړی) | adam |
| ۳ | ب | b | بیاو(شل) | byaw |
| ۴ | پ | p | پوتر(زوی) | potar |
| ۵ | ت | t | تان(کور) | tān |
| ۶ | ټ | ṭ | اختاره(۱۸) | axṭāra |
| ۷ | ث | ɵ | | |
| ۸ | ج | j | جرغات(مستې) | jorgat |
| ۹ | چ | č | چانه(ستا) | ćāna |
| ۱۰ | ځ | ĵ | ځپالی(روټه) | ĵapālay |
| ۱۱ | څ | c | څور(۱۴) | cawar |
| ۱۲ | ح | ĥ | | |
| ۱۳ | خ | x | خات(خت) | xāt |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۴ | د | d | دنت(غاښ) | dant |
| ۱۵ | ډ | ď | براډه(ښه) | brāḍa |
| ۱۶ | ذ | z | | |
| ۱۷ | ر | r | کرپاسته(غوزان) | karpāsta |
| ۱۸ | ړ | ŗ | تړون(انتظام) | taŗon |
| ۱۹ | ز | z | میزي(شوملي) | meze |
| ۲۰ | ژ | ž | | |
| ۲۱ | ږ | ĝ | سپوږمیا(سپوږمۍ ) | spoĝmay |
| ۲۲ | س | s | سپازه(خویندي) | spāza |
| ۲۳ | ش | Š | اتش(اور) | ātaŠ |
| ۲۴ | ښ | ş | | |
| ۲ | ص | ŝ | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | ۵ |
| | | ż | ض | ۲۶ |
| | | ŧ | ط | ۲۷ |
| | | ź | ظ | ۲۸ |
| | | | ع | ۲۹ |
| rāγa | راغه | λ | غ | ۳۰ |
| tarfe | طرفی(خوا ) | f | ف | ۳۱ |
| qadar | قدر(عزت) | q | ق | ۳۲ |
| kāna | کانه(غتې) | k | ک | ۳۳ |
| gumā | گوما(ډوډۍ) | g | گ | ۳۴ |
| limā | لیما (هغه) | L | ل | ۳۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| min | مین(موږ) | m | م | ۳۶ |
| āna | آنه(فلزي پيسه) | n | ن | ۳۷ |
| pāņi | پاڼي(اوبه) | ņ | ڼ | ۳۸ |
| jowār | جوار(جوار) | w | و | ۳۹ |
| hisa | هيسه(برخه) | h | هـ | ۴۰ |
| palyāte[1] | پلياتي(منډې) | e | ی | ۴۱ |

په تيرايي ژبه کې (۷) غږونه خپلواک (واول) دي، چې عبارت دي له: (ā ،a ،ə ،e ، i ، u ،o) او دوه نيمه خپلواک غږونه هم لري، لکه (w او y) پورته واولونه موږ په لاندې کلمو کې ښودلی شو:

ā _ mālā (پلار) ، مالا

a _ adam (سړی) ، ادم

ə _ xŗəpās (ځټل) ، خړپاس

e _ tasen dār (سپرلی) ، تسيندار

---

[1]– په تېرايي ژبه کې د "ی" نور ږولونه هم شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

i_ danti (غابنونه ) ، دنتي

o_ potar (زوی) ، پوتر

u_ manzum (منځ)

او نیمه خپلواک غږونه لکه په لاندې کلمو کې:

w_ alwān (رنګ ) ، الوان

y_ peya (رودل ) ، پیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دتیرایي ژبې پرتلنه له همګروپ ژبو سره:

دمخه تردې، چې دتیرایي ژبې پرتلنه دهمګروپ ژبو سره وکړو، نو پکارده، چې لږ څه پر ددارديژبو د تعریف په اړه، هم څه ناڅه رڼا واچول شي.

(دار) په پشه ژبه کې غر ته وايي، نو پر دې اساس داردیک ژبې دغرنیو ژبو معنا ورکوي.[1]

د(داردي) اصطلاح له(داراده darada) څخه هم اخیستل شوې، چې په سانسکریت ژبه کې دغه اصطلاح ډېره لرغونتیا لري، یعنې هم په جغرافیایي آثارو کې او هم په حماسي نژادي قصایدو کې، دا اصطلاح دهغو ولسونو په برخه کې استعمال شوې، چې هغه وخت دهند دنیمې وچې په شمال لویدیځو سیمو کې اوسېدل، دغه اصطلاح لرغونو مؤرخانو او مؤلفینو هم استعمال کړې ده، همدا شان بطلیموس د دارادري daradria، ستربون د دیردایي derdai، اوپلینوس د داردا darda په شکل سره استعمال کړې ده.

دهندي لرغونو مأخذونو درواياتو له مخې(داردي) ولسونو په تحریف شوې آریايي ژبې خبرې کولې.

ددې روایاتو څخه داسې معلومیږي، چې دوی دآریایي ژبو په کوم ډیالیکټ خبرې کولې، چې وروسته دغه ډیالیکټ په ډیالیکټونو او بیا په ژبو واوښت، له دې څخه داسې معلومیږي چې د (داردي) او هندي ژبو

[1] څېړنیار وجیه الله شپون، دپښتنو او پشه یانو دشفاهي ادبیاتو ځینې ورته بېلګې، ناچاپ اثر، دعلومو اکاډمي، دژبو او ادبیاتو مرکز، ۱۳۸۵ل کال، ۸مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترمنځ څه ښېلتون موجود و ، چې يادونه يې په لرغونو هندي ماخذونو کې شوې ده.

دمؤرخينو په عقيده داباسين دحوزې په مرکزي برخو کې دقبل الميلاد دزرو کلونو په منځ کې هغه ملت يا ملتونه تشکيل شول، چې په (داردي) ژبو يې خبرې کولې.[1]

دځينو مؤرخينو لکه ګريرسن او نورو له خوا د(داردي ) پر ځای ددغه ګروپ ژبو ته د(پيشاچه pishacha ) يا ( پي شا چي pishachi ) اصطلاح منل شوې ده، چې دا هم دلرغونو ژبو په استناد ده. يو شمير خلک دا خيال کوي چې (داديک ) دتاجيک سره سمون لري، مګر دا خبره تاريخي سندونه نه لري، ځکه نو دا نظريه سمه نه ښکاري.

دغه اصطلاح ديوې (پراکاريتي ) ژبې نوم و ، چې دتاريخي فونيټيک له مخې کېدای شي، ديو لړ (داردي ) ژبو (نيا ) وګڼل شي.[2]

مګر دهندي تاريخي ماخذونو له مخې دغه اصطلاح يوه بله معنا هم لري يعنې دهرې غير آريايي محاورې ژبې په مقابل کې استعمالېدله، چې دآريايي ژبو دمنلو تروختـه پورې بـه موجـوده وه او لـه هغـې وروسـته د(داردي ) ولسونو لپاره محققينو ددغې اصطلاح استعمال پرېښود.

يو ناني مـؤرخ هيـرودت د(دارديـک ) دکلمې سره (داردي ) سمون ورکړی، کوم هېواد چې د(ګندهارا ) دشمال په غرونو کې و ، (داديک ) او ګندهاريانو ، اپارتيانو (اپريدو ) او ستا ګيديانو (خټکو يا ستکو ) دقبايلو پـه شـمول دهخامنشـيانو دامپراتـورۍ اووم مالياتي ولايت

---

[1] ښېرنمل دوست محمد دوست ، دافغانستان ژبې او توکمونه ، ۴۰۱ مخ .

[2] ښېرنمل دوست محمد دوست ، دافغانستان ژبې او توکمونه ، پښتو ټولنه ، ۱۳۵۴ل کال ، ۴۰۱ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ساتراپ) تشکیل کړی و، داردیانو (دادیکانو) دګندهاریانو سره دهخامنشیانو په لښکرو کې یو شریک پلټن جوړ کړی و او یو شریک سرلښکر یې درلوده، چې دادیکان له داردیانو څخه عبارت دي، بلـه شاهدي داده، چې دکشمیر او هغه ته څېرمه دغرنیو سیمو اوسېدونکي (دادیکان) وو، چې نن په داردي قبایلو کې شامل دي.

د داردي ژبو مقایسه او پرتلیز پلان:

۱ــ یو معنا لرونکی متن دټولو ژبو په عبارتي قالبونو کې وراچول او مقایسه کول.

۲ــ په ټاکلې ژبه کې دهغې ژبې اصلي فولکلوري اثار وړاندې کول.

۳ــ معیاري لغات او جملې دژبو دواحد په ډول وړاندې کول.

دژبو دپرتلنې په برخه کې دود داسې دی، چې یو تربله خپلوي باید ددوی دفونیټیک، ګرامري ځانګړنو او کلمو دخپلوۍ په رڼا کې موجود وي.

که څه هم دغنوي واولو غږونو موجودیت په ټولو داردي ژبو کې یو شان نه دی، مثلاً په ځینو داردي ژبو کې لکه: (دامیلي، اشکوڼي او ګواري) کې دصایتو دغنې سبب دادی، چې غنه یې دبې غږه کانسونانټ ترمخه واقع وي او په ځینو نورو کې داغنه ډېره کمزورې ده.

غنه معمولاً دکلمو په پای، ډېر لږ دکلمو په منځ په هغو صایتو sayito کې وي، چې تلفظ یې واضح نه وي، لکه: د( شیني، پهالوري او نورو ) په ځینو کې غنوي واول په یو لږ هغو ټاکلو کلمو کې دایماً موجود وي، چې دمعنا لرونکې کلمې دجوړولو خصوصیت لري، یعنې په هغو کلمو کې که واول په غنه سره افاده نه شي، دکلمې معنا اوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه لړغنه په يو لړ هندي ژبو کې هم شته او د پښتو ژبې يوازې په (ڼ) کې موجوده ده.

د(داردي) ژبو دلويديځې څانگې (کشميري، کوهستاني) او د مرکزي گروپ ديو لړ ژبو بل گډ خصوصيت دادی، چې دفونولوژۍ له مخې دځرگندې (ي) او اوږدې (ې) توپير په کې نه ليدل کيږي.

د کانسونانټ او ازونو په باره کې د ترلو مخرجونو دغږونو د دريې (۳) لړيو موجوديت د دغو ژبو يوه خاصه ده. چې د الړۍ دغږونو گونگو تنفسي او گونگو غير تنفسي مخرجونو څخه عبارت دي.

په آريايي بېلابېلو ژبو کې غير له هندي ژبو، کردي، پراچي او دبلوچي دلويديځ ډياليکټ نه پرته، دتنفسي او غير تنفسي دتقابل خاصه نه ده. په دې باره کې نورستاني ژبې (اشکوني، وايگلي، کاتي، پراسوني او پشه يي) ژبې تنفسي غږونه نه لري.

په نورستاني ژبو کې دتنفسي مخرجونو له منځه تلل د(س، خ، هـ) دلرغوني بدلون سره سمون لري، چې په لرغونو زمانو کې په باختري او آرياني ژبو کې ليدل کيږي او دا تاريخي بدلون ددې يوه نښه ده، چې دغه ژبې (نورستاني او پشه يي) له هندي څانگې څخه باختري اوآرياني څانگو ته زياتې نږدې دي.

د(داردي) ژبو يوه لويه خاصه دا ده، چې په دې کې سريبرال (څ، ټ، ڼ، ډ، ړ او نور) بې غږه او غيرسريبرال بې غږه مخرجونه لکه په ټولو هندي او ځينو باختري ژبو (پښتو) کې چې موجود دي.

مگر دځينو سريبرال مخرجونو دتقابل موجوديت په دغو ژبو کې مثلاً (څ، چ، ج، ژ) غږونه دا ژبې دهندي ژبو په نسبت باختري ژبو ته نږدې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنگه د(ځ) غږ په (داردي) او تیرایي ژبه کې موجود دی او په هندي ژبو کې نشته دا یو دلیل دی، چې (داردي) او تیرایي ژبه د هندي ژبو په نسبت مرکزي آریایي (باختري) ژبو ته نږدې کوي.

په (داردي) ژبو کې ددوو واولونو Enter vocalic ترمنځ، همدارنګه د کلمو په پای کې د غږیز دېې غږه کولو قانون چې په منځنیو پېړیو کې په (پایشاچي) ژبه کې موجود و، او نن هم په دغو ژبو کې موجود دی او په هندي ژبو کې نشته او په مرکزي آریایي (باختري) لکه (پښتو) او ځینو آریاني ژبو کې موجود دی.

د (داردي) او تیرایي ژبې یو خصوصیت دا دی، چې (اوږده = ې او ځرګنده =ي) ترمنځ د سر او پای بې غږه توري په فشار سره سخت اداء کیږي، چې دې ته پلاتا لیزسیون paltalization وایي.

دغه خصوصیت او ځانګړنې د باختري په پامیري ژبو کې هم شته او په هندي ګروپ کې نشته.

په تیرایي ژبه کې اصلاً د(ف، ح، ع، ط، ظ، ث، ذ، ص.... ) غږونه نشته، دا غږونه یوازې د نورو ژبو څخه په اخیستل شویو کلمو کې لیدل کیږي.

د(ف، ح ) غږونو په بدل کې اکثره د( پ، پهه ) (ک، کهه ) غږونه اوریدل کیږي.

دلرغونو ژبو (ت، ر) په داردي او تیرایي ژبه کې ساتل شوي، خو په ځینو ژبو کې په (چ) او په ځینو کې په (ش) اوښتي دي او ډېر لږ د(ت) غږ په هندي ژبو کې پاتې دی.

لکه د سانسکرت پوتره potra (زوی) په هندي کې (پوت pote) په وایګلي کې پیوتر pviutar په کلشي او تیرایي کې پوتر potar په کشمیري

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې پوتر pootar په مجهول (و ) سره، په شینئ ژبه کې پوش pooŠ وایي او په مایاني کې په پوچ pooch اوړي.

دگواري، وټه پوري، شوماشتي او باشکاریک ژبو په گروپ کې دکلمو دسر (ت، ر ) په اړخیز (ل ) چې دخولې په یو اړخ کې اداء کیږي، بدل شوی، چې دې ته لاتیرال lateral مخرج وایي، چې دڅېړونکو له خوا (هـ، ل ) ورڅخه تعبیر شوی دی.

لرغوني آریایي تري tre دري(۳ ) په پشه یي کې ثلي θle گواري کې هلي hle په وټه پوري کې (ټا ) یا (هله hla ) په شوماشتي کې هیله hila په ننگلامي کې شلې Šle باشکاریک کې هله hla او په تیرایي ژبه کې تري tre ویل کیږي.

همدارنگه دسانسکرت پوتره potra او دتیرایي پوتر potar په باشکاریک ژبه کې پوهله pohala په پشه یي کې پوثل poθal په وټه پوري کې پوړ pooŗ په شوماشتي او گواري کې پوهل pohal ویل کیږي.[1]

## د داردي ژبو ځینې مورفولوژیکي خصوصیات:

دمورفولوژي په برخه کې د( داردي ) ژبو خصوصیات په دې ډول ښودل شوي دي:

* په اکثرو (داردي) او تیرایي ژبه کې مذکر او مونث دواړه شته، په اسم ذات او صفت کې داردي ژبو دمونث لپاره (څرگنده = ي) نښه لري، چې دا ځانگړنې د داردي ژبو یو له بله سره شریکې اړیکې ثابتوي او له بله پلوه دغه ژبې دهندي گروپ سره نږدې کوي.

[1] څېړنمل دوست محمد دوست ، دافغانستان ژبې او توکمونه ، ۴۱۰ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې ژبو دمفرد او جمع کټګوري دهندي ژبو په شان دګرامري حالت دکټګورۍ سره نږدې والی لري.

په دې لړ ژبو کې د اسم ذات او د مفرد دبېلتون لپاره کومې خاصې ګرامري نښې نشته، جمع او مفرد يې يوازې دقرينې له مخې څرګندېږي.

دمرکزي داردي ژبو ځانګړنې:

دشوماشتي، تيرايي اوګواري ژبو، دغير ذيروحو او اسم ذات داستعمال طريقه په يو خاص ګروپ کې راځي.

دصفت په برخه کې داردي ژبې دمونث لپاره د(څرګنده = ي) روستاړی لري او مذکر په نورو مختاړو او روستاړو سره افاده کوي.

په زياتو داردي ژبو کې صفت هم دجنس (مذکر، مونث) هم دجمع او مفرد او هم نور ګرامري حالتونه لري.

داردي ژبې معمولاً دقيد لپاره خاصې صيغې نه لري، دادنده غالباً صفت او کله کله اسم ذات اجرا کوي.

(داردي) ژبې دشخصي ضميرونو لپاره يوازې دمتکلم، مخاطب، جمع او مفرد ضميرونه لري، غايب ضميرونه يوازې داشاري اسمونو وظيفه اجراء کوي.

اشاري ضميرونه دواټن له مخې تر پنځو درجو پورې لري. په (داردي) ژبو کې (دويدي او منځنيو هندي ژبو په شان ) دمتصلو خپلواکو ضميرونو استعمال ډېر زيات دی.

دشمير په برخه کې دکشميري او په لږ تغيير دتيرايي ژبې نه پرته ټولې داردي ژبې يو شان خصوصيات لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې معنا چې په شمير کې د(شلګونو ) سيستم لري مثلاً د ېرشو (۳۰ ) ته شل او لس وايي، پنځه د ېرشو(۳۵ ) ته شل لس او پنځه وايي، څلوېښتو(۴۰ ) ته دوه شلې، پنځوسو (۵۰ ) ته دوه شلې او لس ويل کيږي. چې دا لړۍ د پورتني فورمول له مخې دوام پيدا کوي.

چې وروسته به يې په تيرايي ژبه کې يادونه راشي.

(داردي ) ژبې د فعل په برخه کې، چې د څېړونکو لپاره زيات په زړه پورې ده هغه د پښتو په شان ايرګاتيف سيستم دی.

په دې معنا چې په داردي ژبو کې متعدي ماضي د مفعول تابع ده نه د فاعل.

مګر دا ايرګاتيف سيستم په ټولو داردي ژبو کې يو شان نه دی او د ګرامري حالت له مخې يو له بله توپير لري.[1]

[1] څېړنمل دوست محمد دوست ، دافغانستان ژبې او توکمونه ، ۴۰۱، ۴۱۳مخونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دتیرايي ژبې ګرامري جوړښت او ځانګړنې:

د پورتني عنوان څخه وړاندې مو د تیرايي ژبې عمومي پرتلنه د(داردي) ژبو سره وکړه، د دغو ژبو مشترک اړخونه او ګډ خصوصیات، مورفولوژیک بدلونونه او ځینو نورو ورته ګرامري ځانګړنو باندې رڼا واچول شوه.

اوس یو ازې د تیرايي ژبې په ګرامري جوړښت او ځانګړنو باندې غږیږو:

د اسم ذات له پلوه تیرايي ژبه جنس(نرینه او ښځینه ) شمیر (مفرد ، جمع) او هم نور ګرامري حالتونه لري.[1]

د جنس توپیر په کې کم لیدل کیږي، چې اساساً د کونټکسټ یا قرینو څخه معلومیږي، په دې معنا چې د صفت په صورت کې او یا د فعل په تصریف کې لیدل کیږي، چې موضوع د(فعل، فاعل ) سره د جنس په لحاظ سمون نه لري.

د مفرد او جمعې صیغې هم په ګرامري حالتونو افاده کیږي، چې په تیرايي ژبه کې دوه ګرامري حالتونه وجود لري:

د شمیر په کلمو کې د جمعې علامه زور دی، لکه: سپاز spāz (خور) سپازه spāza (خویندې )

په ګرامري دویم حالت کې هغه اسمونه چې په و اول پای ته رسیږي، هغه دلومړي حالت سره توپیر نه لري لکه: مالا\mālā \ (پلار) او چې په کانسونانټ تمامیږي، لکه د پوتر\potar\(زوی) کلمه چې هغه هم تغییر نه

---

[1] څرنګه چې دا ژبه له منځه تللې او متروکه ده ، نو ددې ژبې بشپړې ګرامري ځانګړنې به لکه دنورو ژبو په شان یو څه ستونزمن کار وي ، خو په پنځم څپرکي کې دا موضوع ددې ژبې په ترلاسه شوو جملو او کلمو کې څه نا څه څیړل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري، کله ددویم حالت علامه (الف ) ورپوري نښلي، لکه: دام dam (څنۍ یا مزی ). کله کله اوږده (ې ) یا مجهول (و ) ورپورې نښلي، لکه: طرف tarf (خوا ) او (است \ ast ) (لاس ) دکلمو دویم حالت طرفې tarfe او asto استو راځي.

دجمعې علامه یې یان ده.

ادم adam (وګړی ) ادمیان adamian (وګړي ). کله کله هغه مفرد مونث نومونه، چې په اول پای ته رسیدلي وي، دجمع جوړولو په صورت کې دکلمې دپای واول په څرګند واو=u اوړي لکه دي di (لور ) سپازه spaza (خور ) جمع یې دون dun– سپازون spazun (لونې – خویندې )سره جوړیږي.

صفت:

هغه کلمې چې دنوم څرنګوالی بیانوي، صفت ورته وايي.

په تیرايي ژبه کې صفت هم جنس (نرینه، ښځینه ) لري، لکه: سوره sura (وور، وړوکی ) سوري suri (وړه، وړوکې ) ، کانه kāna( غټ ) کانې kāni (لویه، غټه ) او هم شمېر (جمع او مفرد ) لري. لکه: براډه ستره -bərāda satra (ښه ښځه ) او براډي ستري bərādi satri (ښې ښځې ).

څرنګه چې لیدل کیږي په تیرايي ژبه کې دنورو ژبو(پښتو ) په شان صفت ترموصوف دمخه راځي. لکه په پورته ذکر شوې جمله کې چې صفت ترموصوف دمخه راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ضمیر:

په لاندې ډول شخصي ضمیرونه په تیرایي ژبه کې موجود دي:

| | مفرد | لومړی حالت جمع | دویم حالت مفرد | جمع |
|---|---|---|---|---|
| متکلم | او ou (زه) | ما mā (موږ) | مې me (ما) | مین men (موږ) |
| مخاطب | تو tu (ته) | تاو tāw (تاسو) | تې te (تا) | تا ta (تاسو) |

په تیرایي ژبه کې اشاري ضمیر د غایب شخصي ضمیر وظیفه هم اجراء کوي.

د متعدي ماضي فاعل د پښتو په شان په دویم حالت کې راځي، چې دې ته د ژبپوهنې په اصطلاح ایرګاتیف سیستم وایي، لکه:

مې دې ته وا me de ta wā (ما وواهه).

اضافي ضمیرونه:

چې تملیکي او خپلواک ضمیرونه هم ورته وایي، لکه زما، ستا، دده، دهغه، ددوی، دهغې، دا ضمیرونه تر مضاف دمخه راځي لکه، زما کتاب.

په تیرایي ژبه کې اضافي ضمیرونه لکه میانه myāna (زما) د نارینه مضاف لپاره او میانې myāne د ښځینه مضاف لپاره راځي لکه: بې میانې خواخي be mayane xowaxi (دا زما خوابنې ده).

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشاري ضميرونه:

په تيرايي ژبه کې اشاري ضميرونه (لālā، لېle، ليماlimā ) دي، چې دواړه په لحاظ کوم توپير سره نه لري.

اشاري ضميرونه د جنس په لحاظ بدلون نه لري او نه په گرامري حالاتو کې تغيير مومي، دنړدې لپاره بل اشاري ضمير هم موجود دی، چې له (اسېase، ايسه aysa ) (دغه – دا ) څخه عبادت دی.

نور ضميرونه په دې ډول دي (کامه kāma (څوک، چا )، (کیkay، څه، کوم ) (کاميکkāmik دچا )، (تانو tāno خپل ) (لتيک Latik دومره )، (کتيس katis څومره )، چې دې ته مبهم ضميرونه هم وايي.

عدد:

په تيرايي ژبه کې اعداد په لاندې ډول دی:

(ek= يک۱ )، (do= دو ۲ )، (tri= تري ۳ )، (cwar= څور۴ )، (panj= پانس۵ )، (xo= خو۶ )، (sāt= سات ۷ )، (axt= اخت ۸ )، (nab ناب=۹ )، (dah= ده ۱۰ )، (dahekoیاeko=۱۱ ده اېکو )، (buahdo=۱۲بو )، (dahtri یا dahxolā)،(tərə=۱۳ ده تري )، (cwardah=۱۴ څور ده )، (panji=۱۵ پانزي )، (koni=۱۹ =۱۲ خولا )، (sātara= ساترا ۱۷ )، (axṭarā= اختارا ۱۸ )، (koni=۱۹ کونی )، (byāw=۲۰ بياو )، (byāw da =۳۰ بياو ده )، (byāw do=۴۰ دو بياو )(do byāw dah =۵۰ دوبياو ده )( da byāw cwar=۹۰ څور بياو ده )، (panjbi=۱۰۰ پانزبي ).

فعل:

په تيرايي ژبه کې دمصدر علامه د(ن) روستاړی دی، لکه کرنkaran = (کول، کړل)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبیانdabyan=(ډبول)،دبیان برادې نه تې da byan brade nate
=وهل شوی نه دی).[1]

## فعلي تصریف:

لومړی ـ دکومکي فعل تصریف، چې په جملو کې درابطې په حیث وظیفه اجراء کوي او دپښتو دغیر مستعمل (ول) کومکي فعل سره سمون خوري په درې واړو زمانو کې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

حال او مستقبل ماضي

| | مفرد – جمع | مفرد - جمع |
|---|---|---|
| متکلم | تیمtem (یم) تیمه temə یو | وامه wāmə - وامه wāmə |
| مخاطب | تیسtis (یې) – تیزا tezā | وازwāz – مامنه māmənə |
| غایب | تيti مذکر، مؤنث دېde، ده da | واما wāmā – مذکر، وېwe مؤنث |

په تیرایي ژبه کې دحال او مستقبل تغییر دصیغو له مخې نشته، یوازې دپښتو په شان د(به) ادات دمستقبل لپاره راځي.

امر:

[1] آریانا دایرة المعارف ، دویم ټوک ، دافغانستان دعلومو اکاډمي ، دنبراسکا مطبعه ، ۱۳۸۷ل کال ، ۸۷۷مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تیرایي ژبه کې دامر صیغه داسې جوړیږي، لکه بیز biz (کښېنه)، اچیتو ačito (واخله) تری tre (وتړه)، ګړی gaŗi (وایه، وګرېږه).

دجمعې صیغو په پای کې (زور، یا الف) اضافه کیږي.

(انا anā = راوړئ)، (ثیبه ciba واغوندئ).

دلته دتیرایي ژبې یو وړوکی متن د ترانسکرپشن او ترجمې سره وړاندې کوو، د دې لپاره چې ددې متن مقایسوي بڼه دنورو داردي ژبو سره هم شوې وي وګورئ تفصیل یې په وروسته ډول راغلی دی:

ek admas do putra wāna

lema manzum sŭreŕ putra mālā

detānes ay mālā my āna mālā

manjum ki hisa owē la malside

دا متن دایدیملن په حواله دګریرسن له لینګویستیک سروې اف انډیا څخه اخیستل شوی دی.

(ایک ادمس، دو پوترا، وانه، لیمه، منزوم، سوری پوتر مالا، دیتانس، ای، مالا، میانه، ماله، منزوم، کی هیسه، اووی، له ملسی دی.)

ترجمه:

(یو سړي دوه زامن لرل، له دوی څخه کشر زوی پلار ته وویل:

ای پلاره ! زما کومه برخه چې ستا په شتمنۍ کې رسیږي، هغه راته بېله کړه.)

ددې متن تحلیل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

یک (یو ) عدد دی، ادم (سړی ) اسم ذات دی، دو(دوه ) عدد دی، پوتره(زامن ) داسم ذات جمع ده، چې مفرد یې (پوتر= زوی ) دی، وانه(وو ) دکومکي فعل دماضي دجمع صیغه ده. لیمه (ددوی ) اشاري ضمیر دی، منزوم (منځ، منځنی )، سوری (کشر ) صفت دی، مالا (پلار ) اسم ذات دی، دیتانس (ویل هغه ته )، ای (دندا توری ) دی، ماله منزوم (دمال له منځه ) له ماله (ځخه ) کې (چې ) دتابع جملو رابطې ادات، هیسه (برخه، حصه ) اسم ذات، (اوی ) ( کیږي، رسیږي ) دغایب مفرد دحال صیغه ده.

پورتنی متن په څو نورو داردي ژبو کې هم راغلی دی، چې دپرتلې په توگه یې دلته وړاندې کول اړین بولو:

گواري متن:

ای موشو جو ژیژوو استانی هتیان موجی څیرو تاتونی ریستی

ای تات ماتی با شوتان مال ارکی ماتی تاریران دیت.

ay mošo jū žižau wāstāni hateān muji cirō tatoneresti ay tāt māte bāšo tān māl ārki māte tariran dēt.

ترجمه:

یو سړي دوه زامن درلودل، کشر یې پلار ته وویل:

ای پلاره ستا له شتمنۍ څخه ماته برخه راکړه، کومه چې زما رسیږي.

گاتي متن:

ای مانجی دو پیتر ازامی امنو پامیجو کنیشتی توت اوس تو گیجی کړس ایهمه توت اتو لاتری پامیجو بړسته گڅ.

ay mānje du pitar azame āmno pamiju kaņište tot osto giji kaŗas ehama tot āto lātri pamiju bŗista gac

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه:

دیو سړي دوه زامن وو ، کشر يې خپل پلار ته وويل:

ای پلاره د خپلې شتمنۍ څخه زما برخه رابېله کړه.

وايگلي متن:

ایو مانشه به دو پوتراړی دویه کینی کوشتو پوترس تاتیسه کین ماتری: تانی تو به ماله متهی او متهانی اوگری.

ew manašā ba dǜ pūtraṛē dǜyä kēni košto putras tātisa ken mātre tātn e tū ba māla maṭio ū mäṭa ne ogre.

ترجمه:

یو سړي دوه زامن لرل، له دوو څخه یو کشر يې خپل پلار ته وويل:

ای پلاره ته خپله شتمني وويشه او زما برخه راکړه.[1]

---

[1] څېړنمل دوست محمد دوست ، دافغانستان ژبې او توکمونه ، ۴۳۹ – ۴۴۵ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دتیرايي ژبې دمړې کېدلو او متروک کېدلو لاملونه:

ديوې ژوندۍ او طبيعي ژبې زوال، مړینه او بالاخره لـه منځـه تلل داسې یوه پروسه ده، چې بېلا بېل عوامل لري.

هیڅ یو قام او ولس په دې راضي نه دی، چې دخپل ژوند تاریخ او کلتور اساسي پایه او ستن په خپلو لاسو سره ړنګه کړي او خپلـه هسـتي او هویت له لاسه ورکړي.

دبشر په تاریخ کې به داسې یو مثال پیدا نه کړای شي، چې موږتـه داسې یو ولس را په ګوته کړي، چې خپله مورنۍ ژبه یې پـه رضـا اوخوښـه لـه لاسـه ورکړې وي.

موږ یادونه وکړه، چې دیوې ژبې مړینـه اولـه منځـه تلل مختلف علتونـه لري له هغې جملې څخه ځنې علتونه یې په لاندې ډول یادوو:

* کله چې دیوې ژبې دویونکو شمیر داسې حد او مرحلې تـه ورسـیږي، چې نور دورکېدو په حال کې وي، په داسې حال کې دا ژبـه دژونـد یو ژبو لـه کتاره ووځي او کرار کرار خپل نوم او مقام له لاسه ورکوي.

* کله داسې هم کیږي، چـې دځینـو وجوهـاتو لـه املـه یـوه ژبـه دبلې ژبې ځای نیسي.

هغه ژبه چې خپل ځای یې له لاسه ورکړی وي، نور نو دخلکو پـه منـځ کـې دپوهولوراپوهولـو دیـوې وسـیلې پـه توګـه فعـالیت نـه شـي کولای او ولـس نـورد خپـل منځـي اړیکولپـاره یـوه بلـه ژبـه دپوهولـو راپوهولـو دوسـیلې پـه توګه په خپل منـځ کـې اسـتعمالوي، ځکـه یـوه بشـري ټولنـه دژبـې څخـه پرتـه اصلاً ژوند نه شي کولای.داهغه څه دي چې په پخوا وختونوکې پـه مصـرکې شوي اودمصرۍ ژبې ځای عربي ژبې نیولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

* همداشان هغه ولسونه یانظامونه چې دخپلوموخودترلاسه کولو لپاره په نورو ولسونو تیری کوي دنوروډیرو ژبانونوپه څنګ کې یې یو ژبان داوي، چې ددوی ژبه هم کرار کرار له منځه وړي او پر ځای یې خپله ژبه رامنځته کوي.

مړې ژبې هغو ژبو ته وایي، چې څوک یې نه کاروي، نو داسې ویلای شو، چې دولس او قام ژبه هغه وخت مري، چې دوخت جابر او ظالم ځواکونه یې په ستوني او مری چاړه راکاږي.

نو له دې امله دا کمزوری ولس مجبور دی، چې بله ژبه دخپل منځي اړیکو دساتلو لپاره دیوې وسیلې په توګه وکاروي، ځکه بې له ژبې ژوند ګران کار دی. او ټول انسانان دې ته اړ دي، چې دخپل ژوند دپرمخ بیولو او ژوندي پاتې کېدو لپاره حتمي یوه ژبه په واک کې ولري.

ددې خبرې ډیرښه مثال دالجزایرهیواد دی. کوم وخت کې، چې الجزایر فرانسویانو لاندې کړنودنور واک ترڅنګ یې داهم وکړل، چې فرانسوي ژبه یې په کې حاکمه کړه او عربي ژبه یې شاته کړه. دوخت په تیریدو سره په الجزایرکې یوه داسې لویه ستونزه راپیداشوه چې خلک یې په اسانۍ سره په خپله ژبه نه پوهیدل.

مطلب دادی، چې یوه ژبه هسې نه مري اونه داسمان څخه کومه ټکه پرې را غورځي. د ژبې دله منځه تللواو مړینې ټول عوامل او سببونه په ټولنه کې نغښتي دي.

دالجزایر هیواد دازادۍ تراخیستلووروسته دخپلې نیمژواندې ژبې دبیاژوندۍ کیدو تکل وکړاو دنوروعربي هیوادوپه تیره بیا مصرڅخه یې د عربي ژبې دتدریس استادان خپل هیواد ته راوستل ترڅوپه ښوونځیو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعربي ژبې د زده کړې او تدریس چارې پرمخ بوځي او په دې اساس دوی وکړای شول دعربې ژبې دمړینې او دله منځه تللو مخنیوی وکړي.

دژبې دبېرته راژوندي کولو ستونزه ډېر ژر او ګړندی نه شي ترسره کېدای، بلکې دوخت ځواکمن او تیري کوونکي هېوادونه، لکه دمثال په ډول فرانسویانو په الجزایر کې ترسره کړل، که هغوی دا کار نه وای کړی نو هیڅکله به امکان نه و، چې یوه ژبه مړه او له ستونزو سره مخامخ شي. او پر دې اساس به ډېرې ژبې تر اوسه پورې په هماغه پخوانی بڼه خوندي او ژوندۍ پاتې وای.

مونږ داویلای شو، چې په هرډول لاروچارو، چې یوه ژبه دکاراو فعالیت څخه ولوېږي اونور دا توان ونه لري چې دخلکواو ولس په منځ کې د پوهولوراپوهولو په پروسه کې کار ورځنې واخیستل شي اودفکري فعالیت دلاښه انسجام دیوې آلې په ډول خلکواوټولنې ته خدمت وکړي نورنو داژبه ژوندۍ ژبه نه شمیرل کیږي، بلکې خلک یې دمړو ژبو په لیکه کې حسابوي.

په پورتنۍ څرګندونه کې دا ټکی دغور وړ دی، چې کله یو څوک په دې وتوانیږي چې یوه ژبه زده کړي، نو کولای شي په هماغه ژبه دیوې موضوع یا یو شي په باره کې فکر وکړي، نیمګړتیا یې په ګوته کړي، ضرورت یې څرګند کړي او ښې او بدې خواوې یې خلکو ته وښیي.

مونږ کولای شو چې په اوس وخت کې په اروپا، هند او دنړۍ په نورو هېوادونو کې داسې پوهان او څېړونکي پیدا کړو، چې په لاتین او سانسکریټ باندې پوهیږي، ایا دغه پوهان به ددې توان ونه لري، چې په نومړو ژبو فکر وکړي؟ دا منلې او پر ځای خبره ده، چې په داسې ژبو دخلکو په منځ کې افهام او تفهیم نه شي کېدای، ځکه چې دا ژبې نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخلکو او ولسونو په منځ کې شتون نه لري، مړې شوي دي، د دې امکان هم نشته چې معلومات پرې و استول شي، ځکه چې نور د پوهولو راپوهولو وسیله نه ده او ځای یې نورو د اسې ژبو نیولی، چې خلک او ولسونه یې په خپلو منځو کې کاروي او خپلې ستونزې وربانديې حل کوي.[1]

د پورته اوړدې څېړنې په رڼا کې د تیرا یي ژبې د مړه کېدو لاملونه په لاندې توګه په ګوته کوو:

۱. د پیر روښان له خوا په تیرایانو ظلم او زیاتی کول، هغوی له څېرمې وژل او پاتې نور د تیرا څخه شړل او بې ځایه کول.

۲. د وی د شړل کېدلو له امله په وړو وړو اقلیتونو باندې ویشل کېدل.

۳. د دوی په منځ کې د اړیکو نه درلودل، یعنې یو له بله جلا کېدل.

[1] څېړنوال مولا جان تڼیوال، ژبه او ټولنه، دافغانستان دعلومو اکاډمي، شعیب مطبعه، ۱۳۸۸ل کال، ۱۶۱ – ۱۶۵ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## د تیرایي ژبې تر لاسه شوي ویيونه او جملې

تر دې ځایه مو د تیرایي ژبې په گرامري جوړښت او ځانگړتیاوو بحث وکړو، اوس به د دې ژبې یو څو تر لاسه شوي ویيونه د نمونې په ډول د ترانسکریپشن او معنا سره یو ځای دلته وړاندې کړو:

| Ĵorγāt | جورغات | مستې |
|---|---|---|
| mizi | میزي | شوملې |
| Dud | دود | شیدې |
| pāṇi | پاڼي | اوبه |
| gomā | گوما | ډوډۍ |
| ĵəpālay | ځپالی | روټه |
| ĵowār | جوار | جوار |
| xāŗay | خاړی | وریی |
| kokaŗ | کوکړ | چرگه |
| Hā | ها | هگۍ |
| palyāte | پلیاتې | منډې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| مږه یا موږک | تندرک | tandarək |
| ښځه | ستری | satre |
| هلک | بادانه | bādāna |
| سړی | ادم | adam |
| ښه | براډه | brāda |
| کور | تان | Tān |
| کشر | سوري | Suri |
| لور | دي | Di |
| سپی | سانا | sānā |
| وهل | دبیان | dabiān |
| سپرلی | تسیندار | tasindār |
| غوا | باتسا | bātsā |
| دکاندار | بانیبا | bņiyā |

که موږ وغواړو دا لغتونه په جملو کې استعمال کړو، نو کولای شو، چې یو څو یې په لاندې ډول د تیرایي ژبې په جملو کې راوړو:

| | |
|---|---|
| ما مستې وخوړې (ما جورغات دکا ) | mā Ĵorγāt də kā |
| ما شوملې وڅښلې (ما میزي دڅاپین) | mā mizi də capen |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| مـا شـيدې وڅښلې (مـا دود دڅاپين ) | mā dud də capeen |
| مـا ډوډۍ وخـوړه ( مـا گومـا دکا ) | mā gomā də kā |
| مـا روټـه وخـوړه ( مـا ځپـالی دکا )<br>مـا اوبـه وڅښلې(ما پـاني د څاپين )<br>ماوږۍ وخوړ(ما خاړی دکا )<br>ما هگۍ وخوړه (ما ها دکا ) | y də kā<br>mā pāṇi də capeen<br>mā xāṛay də kā<br>mā hā də kā |

په همدې توگه نور لغات هم په جملو کې استعمالولی شو او پر دې اساس تیرايي ژبه يو څه په خپلو پښو دربدلې او پراخېدلی شي.[1]

دتيرايي ژبې ترلاسه شوې جملې:

لومړۍ جمله:

يو کوچنی هلک دخپل ماشوم ورور په باره کې داسې وايي:

مين کره بدنه خدای(ج) پيدا کرتيه، حال دود پيه

Man kara badna xuday paydā kartiyā hal dud peya

---

[1] زکريا ملاتړ، تيرايي ژبه، دزيري کالنۍ، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۵۷ ل کال، ۵۸٦– ٦۰۰ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معنا یې داده، چې موږ کره خدای تعالی ماشوم پیدا کړی دی، چې اوس شیدې روي.

څرنګه چې دمخه هم داسې یادونه شوې وه، چې تیرا یې ژبې ته پر زیاتو پښتو کلمو سربېره دنورو ګاونډیو ژبو کلمو هم لار موندلې ده.

دلومړۍ جملې تجزیه:

Man( مین ) موږ دجمعې متکلم ضمیر دی.

Kara (کره ) دارتباط توری دی.

Badna (بدنه ) ماشوم عام نوم دی.

Xudāy (خدای ) دالله نوم او اسم ذات دی.

Paydā( پیدا )لازمي فعل دی.

Kartiya(کرتیه ) مرستیال فعل دی.

ĥal (حال ) دزماني قید دی.

دویمه جمله:

دوه سړي دغلو او شوکمارو په برخه کې یو بل ته وایي:

ډنګه ډنګه ناتیه تور راغه پناتیه، درزاتیه، غرناتیه، مین خبار ناتیه

danga danga nā teya tor raγə panāteya dərə zāteya γar nā teya

man xabār nā teya

معنا یې داده، چې: نغاره ووهل شوه، غله له تور راغه څخه هم تېر شوي وو، او موږ یې په شور او درزا خبر نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپورتنۍ جملې په متن کې دغله لپاره کومه خاصه کلمه نه ده راغلې، یوازې دجملې دمفهوم پر اساس یې دلته معنا درک کولای شو.

ددې جملې تجزیه:

danga danγa(ډنګه ډنګه ) صوتي نوم دی.

nātiya (ناتیه )(وهل) متعدي فعل دی.

tor ragə (تورراغه ) خاص نوم دی.

panāteya (پناتیه ) پناه کېدل، لازمي مصدر دی.

dorə zatiya (درزاتیه ) صوتي نوم دی.

γar nātiya(غرناتیه ) دا هم لازمي فعل دی.

man ( مین ) دجمعې ضمیر دی.

Xabār (خبار) اسم معنا دی.

دریمه جمله:

په دې جمله کې داسې یو مفهوم پروت دی، چې یو چا له هندو دکاندار څخه سودا رانیولې ده.

سیره، میره، بڼیيا الوان د پګړي بند.

sera mera bṇiya al wān də pagṛi band.

معنا یې داسې ده، چې سودا مودا مو له هغه دکاندار وکړه، چې دالوان پګړۍ یې په سر وه، هندوانو اکثرو پخوا سرې او دالوان پګړۍ تړلې.

ددې جملې تجزیه:

Sera (سیره ) سودا، عام اسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

mera ( میره ) مهمل ترکیب.

bṇiya (بڼییا ) دوکاندار، عام اسم.

alwān (الوان)(رنگ ) اسم صفت دی.

da داضافت توری دی.

pagṛi (پگړي ) عام اسم دی.

band (بند ) دتړلو معنا لري او متعدي فعل دی.

ځلورمه جمله:

یوه ښځه بلې ته وایي:

سناتې اندر پیلی دخړپاس

Sanāte andar pelay da xəṛapas

دا جمله داسې هم اوربدل شوې:

اندر پیلی سناتې د پیخړه پاس

andar pelay sənate da pixṛa pās

معنا یې داده، چې سپي کلپي وخټله.

ددې جملې تجزیه:

sānate (سناتي یا سانا ) سپي ته وایي او عام نوم دی.

andar pelay (اندرپیلي ) کلپي ته وایي او دظرف نوم دی.

pixṛa( پیخړه ) خمیرې ته وایي او خاص نوم دی او پاس د ختلو معنا لري. متعدي فعل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځمه جمله:

مېره خپلې ښځې ته وايي:

ای ستري (اورتنې) تړون د پازو.

ay satre  taṛun da pāzo

معنا يې داسې ده، چې:

ای ښځې د مېلمه لپاره ډوډۍ تياری وکړه.

په پورته جمله کې د مېلمه او ډوډۍ نوم نشته، خو د کنايې په ډول دا جمله د پوره جملې مفهوم افاده کوي، لکه څوک چې خپل مېلمه کور ته رابولي، نو ورته داسې وايي چې (راځئ ډننه) دلته نه د کور نوم اخلي او نه د مېلمه نوم اخلي او جمله په لنډيز سره اداء کوي.

د پورته جملې تجزيه:

ay (ای) د نداء توری دی.

ʕatre (اورتينې) عام نوم دی.

Taṛun (تړون) چې دلته د تياري په معنا دی او متعدي فعل دی.

da (د) د اضافت توری دی.

pāzo (پازو) تياری د امر مرستيال فعل دی.

شپږمه جمله:

په شپږمه او پنځمه جمله کې د معنا له پلوه ډېر توپير نه ليدل کيږي، خو په الفاظو کې يې فرق شته.

دا جمله هم د سړي له خوا ښځې ته ويل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اندلی (انډی) باندې کرو ، اتش ورلاندې کرو ، ملیشن (مېلمه) دتیه.

andalay  bānde karo ateŠ war lānde karo maliŠan da tiya

معنا یې داده، چې:

انگولی باندې کا ، اور ورپسې کا مېلمه دی.

دپورته جملې تجزیه:

andalay (اندلي) کټوی، اسم ظرف دی.

bānde (باندې) دلته وستربل نه بلکې اسم دی.

karo ( کرو ) مرستیال فعل دی.

war (ور) سمتي ضمیر دی.

lānde ( لاندې )وستربل دی.

Karo (کرو ) مرستیال فعل.

ateš (اور) عام نوم دی.

maliŠan (مېلمه ) عام نوم دی.

da (د ) داضافت توری دی.

teia دراغلې معنا لري او لازمي فعل دی.

اوومه جمله:

دا جمله هم دپنځمې او شپږمې جملې په شان ورته معنا لري، خو الفاظ یې دتیرو جملو په ډول نه دي او بدل دي.

په دې جمله کې هم سړی خپلې ښځې ته داسې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کدر ملیشن انداخت تړون کرو

Kadar maliŠan andāxt taŗun karo

معنا يې داده، چې:

د مېلمه دعزت او قدر لپاره تیاری وکړه.

ددې جملې تجزيه:

kadar (قدر) اسم معنا.

maliŠan مېلمه عام نوم دی

andaxt (اچول) اسم مصدر.

taŗun دتیاري په معنا دی، چې متعدي فعل دی.

karo کرو، مرستیال فعل.

اتمه جمله:

دنتی تین بین

danti tin bin

معنا يې ده تېرو ببر غاښونه.

ددې جملې تجزيه:

danti غاښونه، دنتي عام نوم دی.

tin bin پلوي قيد.

نهمه جمله:

بیچیز ما کرپاسته دکا

(c) ketabton.com: The Digital Library

bi čiz mā kar pāsta da kā

معنا یې داده، چې غوږ ونیسه ما غوزان وخوړل.

ددې جملې تجزیه:

bičiz (بچیز) غوږ ونیسه دامر فعل دی.

mā (زه) په تیره زمانه کې په (ما) باندې اوړي. ضمیر دی.

karpāsta غوزان، اسم جنس.

da داضافت توری دی.

kā دخوړلو معنا لري او متعدي مطلق فعل دی.

لسمه جمله:

سترې مشې ته، په تیرایي ژبه کې.

کنه نه بززوایي.

ka na na bazaz

مثلاً که چاته نوم اخلي نو داسې ورته وایي:

Anwar ka na na bazaz

انوره ! سترې مشې.

او که عامه سترې مشې کوي، نو داسې ورته وایي: بد نه کنه نه بزز

bad na ka na na bazaz

ددې جملې تجزیه:

kana دسترې مشې معنا لري او صفت دی.

na یا مه دنفې توری دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

bazaz ، دلته د (شي ) معنا لري او مرستيال فعل دی.

یوولسمه جمله:

لې پکیراسی یک آنه دی

Le pakirasi yak āna de

دې فقير ته يوه آنه ورکړه.

دجملې تجزیه:

Le اشاري ضمير.

Pakirasi "فقير " عام نوم دی.

Yak شمېر نوم دی.

Āna خاص نوم دی.

de مرستيال فعل دی.

دولسمه جمله:

ليما بريجاسي لی بريج کا زاتي.

Lemā brejasi le baej kā zāti

هغه برج له دې برج نه لوړ دی.

تجزيه:

Lemā ليما ، اشاري ضمير لري، د واټن لپاره.

brejasi بريجاسي، دمکان نوم دی.

Le نږدې اشاري ضمير دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

baej برج عام نوم دی.

Kā کا ، ارتباتي توری دی.

Zāti صفت او مرستیال فعل ګډ راغلی دي.

دیارلسمه جمله:

Kāna mālā bredā bātsā koxto

کانه مالا بریډا باتسا کوختو

معنا: ستا پلار ښه غوا حلاله کړه.

تجزیه:

Kāna ستا ، تملیکي ضمیر دی.

Mālā پلار عام اسم دی.

bred ښه، صفت دی.

Batsā غوا ، عام اسم دی.

Koxto حلالول متعدي فعل دی.

څوارلسمه جمله:

Brāda adāmas xabār yote

براډه ادامس خبار یوتې.

معنا: دښو سړیو خبرونه راځي.

تجزیه:

Brāda ښه صفت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Adāmas سړیو ، عام نوم دی.

Xabar خبرونه، معنا لرونکی اسم.

Yote راځي، لازمي فعل.

پنځلسمه جمله:

Li  miyāna putār morāgā wā

لي میانه پوتار موراګا وا.

معنا: دا زما زوی مړ شو.

تجزیه:

Li دا ، اشاري ضمیر.

Miyāna زما ، ملکي ضمیر.

Putār زوی، عام نوم.

morāgā wā مړ شو ، لازمي فعل.

شپاړسمه جمله:

Kānā brāyot ti

کانا برایوت تي.

معنا: ستا ورور راغی.

تجزیه:

Kānā ستا ، تملیکي ضمیر.

Brāyot ورور، عام نوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Ti متعدي فعل.

اوولسمه جمله:

ya ādāmas du putrā wāmā

ایک ادامس دو پوترا واما.

معنا: دیوه سړي دوه زامن وو.

تجزیه:

yak یو ، شمیر نوم.

Ādāmas سړی، عام نوم.

Du دوه، شمیر نوم.

Putrā زامن، دجمعې عام نوم.

Wāmā مرستیال فعل.

اتلسمه جمله:

Miyāna dunsi xāt yoti

میانه دونسي خات یوتي

معنا: زما دلور خط راغی.

تجزیه:

Miyāna زما ، ملکي ضمیر.

Dunsi لور، عام نوم.

Xāt خط، عام نوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Yoti راغی، لازمي متعدي فعل.

نولسمه جمله:

Le kelā yak bāṇiyā mā ačitāti

لي کيلا يک بانی ما اچيتاتي.

معنا: دکلي له دوکاندار نه مې يو شی واخيست.

تجزيه:

Li دلته داضافت کاروركوي.

Kelā کلی، دمکان نوم دی.

yak يو، دشمېر نوم دی.

Bāṇiyā دوکاندار، عام نوم دی.

Mā مې، متصل ملکي ضمير دی.

Ačitāti واخيست، متعدي فعل دی.

شلمه جمله:

Men sāmo tri ādāmo xārāsi da bāzum

مين سامو تري ادامو خاراسی دبازو.

معنا: موږ دريو واړه سړي ښار ته لاړو.

تجزيه:

Men موږ، دجمع ضمير.

Sāmo يوځای، معنا لرونکی نوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Tri درې، شمېر نوم.

Ādāmo سړي، عام نوم.

Xārāse ښار، عام نوم.

Da د ، د اضافت توری.

Bāzum لاړ، لازمی فعل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دتیرایي ژبې نظم:

د تیرایي ژبې هغه نیمګړی نظم، چې زموږ لاس ته راغلی دا نظم څلور بیته لري.

معنا یې پوره نه ده واضح، خو د هندي ژبې د(کمار) او د پښتو ژبې د(سپوږمۍ) په کې راغلی دی:

میکو سپوږمیا کماري meko spoĝme komāri

تا تزابو کماري tā tazābuwā komari

سودا موتي نم sudā motinam

برم نا ترم bṛam na tṛam[1]

---

[1] دتیرایي ژبې دا نیمګړی شعر ما دکوټ دسیمې دیو سپینږیري څخه ، چې نور الرحمان نومید او دهیبت خېلو دکلي اوسېدونکی و ، دلته لیکلی چې دا سپین ږیری اوس وفات شوی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله

تیرایان او ژبه یې ترسرلیک لاندې دا علمي رساله په پنځوو څپرکو کې بشپړه شوې ده.

په دې علمي رساله کې د تیرایانو او تیرایي ژبې د څېړنې په اړه د ساحوي میتود څخه کار اخیستل شوی او بیا د داردي ژبو له ګروپ سره په مقایسوي ډول څېړل شوې ده، ځکه چې تیرایي ژبه د داردي ژبو په ډله کې راځي.

ترسریزې وروسته د موضوع شالید او پسمنظر راغلی دی، تر او سه پورې، چې کومې لیکنې او څېړنې د کورنیو او بهرنیو لیکوالو او پوهانو له خوا په تیرایانو او تیرایي ژبه کې ترسره شوي، په لنډه توګه یې یادونه راغلې ده او همدارنګه د موضوع په اړه زیار ایستل شوی د لومړي لاس ماخذونو څخه استفاده شوې ده.

وروسته تر دې د تیرایانو په نسب او شجرې څېړنه شوې ده، درې تاریخي مشهور کتابونه لکه (حیات افغاني) د محمد حیات خان اثر د ۱۳۷۷ل کال چاپ ۲۷۱ مخ کې او همدارنګه (پښتانه د تاریخ په رڼا کې) د سید بهادرشاه ظفر کاکاخېل په ۱۳۲۲ مخ او د مرحوم میراجان سیال مومند د پښتنو قبیلو شجرې ۲۱۰ – ۲۱۱ مخونو کې تیرایان په کرلاڼي قبایلو کې شمېرل شوي او د نسب سلسله یې اتمان ابن برهان ابن ککي ته رسېدلې ده، د رسالې په همدې برخه کې د تیرایانو پخواني او اوسني مېشت ځایونه هم په ګوته شوي او د مهاجرت او د ژبې متروک کېدلو لاملونه یې هم بیان شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. دپیر روښان له خوا په تیرایانو ظلم او زیاتی کول، دهغوی له څېرمې وژل او پاتې نور دتیرا څخه شړل او بې ځایه کول.

۲. دوی دمهاجر کېدو او شړل کېدلو له امله په نویو استوګن ځایونو کې په وړو وړو اقلیتونو باندې ویشل کېدل.

۳. ددوی په منځ کې داړیکو نه درلودل، یعنې یو له بله جلا کېدل.

څرنګه چې تیرایي ژبه داندو آریایي ژبو په (داردي) ګروپ کې راځي، ټولې داردي ژبې دافغانستان په شمال ختیځو غرنیو سیمو کې، یو څه یې داو سني پښتونخوا ایالت په شمال او دهندوستان په شمال لویدیځو ځینو سیمو کې موجودې دي.

همدا ډول دتیرایي ژبې پرتلنه دهمګروپ ژبو سره هم شوې ده، یعنې دهمګروپ ژبو یو معنا لرونکی متن دټولو داردي ژبو په قالب کې اچول شوی او مقایسه شوی دی.

یا داچې دټاکلو ژبو لغات او جملې دژبو دواحد په ډول وړاندې شوي دي دمثال په ډول د(ځ) غږ چې په داردي ژبو کې موجود دی او په اندوآریایي ګروپ ژبو کې نشته، نو په دې ډول مونږ دا دلیل راوړو، چې (داردي) ژبې داندو آریایي ګروپ ژبو په نسبت ختیځو آریاني (باختري) ژبو ته نږدې دي.

یا دا چې په داردي ژبو کې د(ف، ح، ع، ق) غږونه نشته، دا غږونه یوازې دنورو ژبو څخه په اخیستل شوو کلمو کې لیدل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د داردي ژبو بله لویه فونیتیکي ځانګړنه داده، چې په دې ژبو کې سیریبرال (ځ، ټ، ڼ، ډ، ړ) او نور کانسونانټ او غیر سیریبرال غږونه هم شته، لکه په ټولو هندي او ځینو باختري ژبو لکه (پښتو) کې چې موجود دي نو پر دې اساس (داردي) ژبې د هندي ګروپ ژبو ته نږدې کوي.

همدا شان هغه دلایل چې تیرایي ژبه ولې متروکه او مړه شوه په ځغلنده توګه وړاندې شوي.

د بشر په تاریخ کې به داسې څوک نه وي چې خپله مورنۍ ژبه په خپل لاس او خوښه له لاسه ورکړي، په دې اړه وایو چې کله د یوې ژبې د ویونکو شمېر داسې یو حد ته ورسي، چې نور دوړکېدو په حال کې وي، نو ژبه یې هم د نورو ژبو له کتاره ووځي، دوی مجبور دي، چې یوه بله ژبه د وسیلې په توګه په خپل منځ کې استعمال کړي.

مړې ژبې هغو ژبو ته وایي، چې څوک یې نه کاروي، د یو ولس او قام ژبه هغه وخت مري، چې د وخت ظالم ځواکونه یې په ستوني او مرۍ چاړه راکاږي.

همدا رنګه د رسالې په څلورمو او پنځو څپرکو کې د اریایي ژبو په ډله کې د تیرایي ژبو دریځ، پرتلنه، ګرامري او مورفولوژیکي ځانګړنې په تفصیل سره بیان شوي او هم یې ترلاسه شویو وییونو، نومونو او جملې د معنا او ترانسکرپشن سره څېړل شوي دي.

که یو څوک غواړي، چې داسې یوه مړه او له منځه تللې ژبه زده کړي او یا هم په خپلو څیړنو کې د هغې د ځینو برخو څخه ګټه واخلي په کار ده، چې د نو مورې ژبې موجوده برخې او متن ته مخه وکړي او د خپل توان په اندازه سره هغه ژبه تر یوه حده ثبت کړي، تر څو د نورو خپلوانو ژبو سره د اړیکو ساتلو په برخه کې زموږ سره مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهان په دې باره کې وايي، چې يو انسان کولای شي، چې يوه مړه ژبه زده کړي، خو نه شي کولای په هغه ژبه خبرې وکړي يا فکر پرې وکړي. دا ځکه چې دا ژبه دا توان نه لري، چې له يو ځای څخه بل ځای ته معلومات ولېږدوي.

د ژبپوهانو په نظر ديوې يا د ېرو مړو ژبو څېړنه په هماغه کچه ارزښت لري، چې ژوندۍ ژبه يا ژبې يې لري، په همدې علت ما هم د خپل هېواد ديوې لرغونې (تيرايي ژبې) څېړلو ته ملا وتړله او د خپلو شته امکاناتو څخه په گټې اخيستنې سره مې دا علمي څېړنيز اثر وليکه، خو زه دا نه وايم، چې زما دغه ليکنه به يوه بشپړه ليکنه وي، کېدای شي تر ما وروسته نور ليکوالان دا لړۍ نوره هم پسې وغځوي او په دې برخه کې نورو نويو ماخذونو او منابعو ته لاس رسی ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړاندیزونه

تر هر څه لومړی که دژبو او ادبیاتو علمي مرکز دژبپوهنې دیپارتمنت دا موضوع په پام کې ولري ، چې کوم څېړونکي د دار دي ژبو په برخه کې په علمي پروژو باندې کار کوي، لکه نورستاني، پشه يي، ګواري، وټه پوري، تیرايي او نور، پکار دي، چې دوی په مشترک ډول په دغو ژبو کې علمي کنفرانسونه او ګډې غونډې جوړې کړي، تر څو د دغو ټولو ژبو مشترک ټکي او اړخونه له یو بل سره روښانه شي.

څرنګه چې تیرايي ژبه اوس مړه او له استعمال څخه غورځېدلې ده، نو له دې امله، چې نورې دار دي ژبې لکه ګواري، وټه پوري... هم په دې لار پل وانخلي باید د دې ژبو د لغاتو ذخیره او نورې ګرامري ځانګړتیاوې مخکې له مخکې په نښه او ثبت شي.

په دې علمي رساله کې هغه ټولې تېروتنې، چې د تیرايانو د مېشت ځايونو او وژل کېدو په برخه کې موجودې وې په نښه شوي دي.

همدا ډول د تیرايانو او تیرايي ژبې په برخه کې که له ما څخه کومه تېروتنه شوې وي او یا را څخه کوم ماخذ پاتې وي، نو د ګرانو لوستونکو او څېړونکو څخه هیله مند یم، چې خپلې ګټورې لارښوونې او مشورې تل له ما ونه سپموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ضمیمې

## ۱- کوټ:

کوټ جنګي کلا ته وايي، خو په عامه اصطلاح يو ودان او لوی کلي ته هم کوټ وايي. په آريايي ټولنه کې د(جانا ) يعنې د قام تشکيل د جنګي کلا په مفهوم راغلی دی، يعنې هغه وخت چې د جانا پادا د قبيلو مشر په جنګي کلا کې کښېناست د قوم د قبيلې واحد وزبرېد. چې د غې کلا ته پښتانه کوټ وايي.

په يوناني لرغونې ټولنه کې د(کنفدريسي )* جوړښت په کوټ کې وشو. روميان د روم په ښار کې د(کيوريانو )** مشر يې په کې کښيناوه.

د کوټ کلمه د آريايي دورې څخه راپاتې ده او په پښتو ژبه کې اوس هم ژوندۍ ده، د کوټ مشر تل د لويې جرګې د رابللو صلاحيت لرونکی وي. ([1])

په افغانستان او کوزه پښتونخوا کې ډېرې سيمې د کوټ په نوم ياديږي، چې دلته يې څو نمونه د مثال په ډول راوړو ؛ لکه کوټ، بالاکوټ، وچ کوټ، بټي کوټ، سري کوټ، تني کوټ، پکتيا کوټ، ترين کوټ لنګر کوټ، سخا کوټ، بريکوټ او نور....

---

* کنفدريسي په يوناني ټولنه کې دقبيلو اتحاديه وه .

** کيوريان په رومي ټولنه کې دقبيلو اتحاديه وه .

[1] محمد ابراهيم عطايي ، دپښتني قبيلو اصطلاحي قاموس ، (حقوقي ، جزايي ، تعاملي ) دعلوموا کاډمي ، دپښتو څېړنو نړيوال مرکز ، ۱۳۵۷ل کال ،۲۱۷ – ۲۱۸ مخونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو په دې ليکنه کې زموږ مراد د هغه کوټ څخه دی، چې د ننګرهار ولايت په اداري تشکيل کې يوه ولسوالي ده. د کوټ په اړه په دې رساله کې د اسې نظريات راغلي، چې د تيرا څخه ورته د تيرا يانو کوچ شوی دی.

د کوټ ولسوالي د جلال آباد ښار جنوب خوا ته په شل کيلو متره کې واقع ده. دا ولسوالی پخوا د روداتو ولسوالی جزوه. په ۱۳۷۳ ل کال د ننګرهار ولايت په اداری تشکيل کې مستقله ولسوالی شوه. د بحر له سطحې څخه ۷۵۰ متره ارتفاع لری. مساحت يې ۳۲۲ کيلومتره مربع دی د ختيځ طول البلد په ۷۰ درجې ۳۰ د قيقي او ۲۴ ثانيه او شمالی عرض البلد په ۳۴ درجو ۱۴ د قيقو او ۴۷ ثانيو کې موقيعت لری. د دې ولسوالی شرق خوا ته بټيکوټ ولسوالی، غرب خوا ته هسکې مينی ولسوالی، شمال ته د روداتو ولسوالی او جنوب ته د اچين ولسوالی موقيعت لری. پښتو لبسی او دری صيحی کلينکو نه لري. آب هوا په اوړی ګرمه او په ژمی معتدله ده. عمده حاصلات يې غنم، جوار، اوربشی، وريجې او پمبه دي.

## ۲- چوره:

د تيرا په شمال ختيځه برخه کې او د زخه خيلو بازار جنوب ختيځ اړخ ته موقعيت لري، د جم خوړ د تخته بيګ د څلور لارې څخه تقريباً لس کيلومتره ليرې لويديځ خواته پرته ده. د دې سيمې اکثره او سيدونکي اپريدي دي، خو په خاص ډول د ملک دين خيلو او زخه خيلو قام په کې زيات استوګن دی بازار ته د باړې لار هم د چورې پر کنډو او ښتې ده.

په چوره کې د مغولو او پير روښان د لښکرو له خوا يو تاريخي جنګ شوی، په دې جنګ کې د پير روښان لښکرو او مريدانو، چې اورکزي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

اپريدي او تيراي په کې شامل وو د چورې د کلکو د رمو څخه په استفادې سره مغولو ته ماتې ورکړې ده.[1]

## ۳- اورکزي:

اورکزي د پښتنو مشهوره قبيله ده، چې تو کم پوهان يې کرلاڼيو ته منسوبوي. ددې قبيلې زياته برخه د کوهاټ په غرونو او ځينې يې د سپين غره په ختيځ او د تيرا په جنوبي واديو کې مېشت دي. د بنگښو قام څه د پاسه څلورسوه کاله د مخه د کوهاټ سيمه د اورکزيو څخه ونيوله، خو بيا هم د دوی ترمنځ د دې سيمې پر سر جگړې روانې وې. داسې وايي چې د جگړې پر مهال ديو چا سترگې پر داسې سړي ولگېدې، چې په آس سپور و، دواړو خواوو پرېکړه وکړه چې د دغه سپاره سړي خبره به مني او د جگړې د بندولو په اړه به د دغه سړي پرېکړه عملي کوي، نوموړی سړی( دايي ) نوميده او د شعر په ژبه يې داسې پرېکړه وکړه:

دايي خو داسې وايي
چې سمه د بنگښ غر د اورکزي

تر دې وروسته سړی په خپله لار روان شو، که څه هم اورکزو د دغه سړي دوژلو تکل وکړ، خو په سيمه کې يې بنگښو مخه ونيوله، دا عجيبه او لنډه پرېکړه عملي شوه، خو بيا هم د دوی ترمنځ دښمني ورکه نه شوه. په اورکزيو کې دولتزي او مموزي زيات دي او بيا په دولتزيو کې د ممو خيلو او محمد

---

[1] دحبيب الله اپريدي دوينا څخه مې پورته مطلب تيار کړی دی، نوموړی يو وخت دافغانستان دعلومو اکاډمي علمي غړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیلو شمېر خورا زیات دی. په دوی کې دمحمد خیلو له څانګې پرته نورې ټولې څانګې سني مذهبه دي او یوازې محمد خیل په کې شعیه ګان دي.

دغه ټول قام د(سمل) او (کاړه) په ګوندونو ویشل کیږي، ددوی دود او دستور اپریدیو ته ورته دی او په خپلو منځو کې ښې اړیکې نه لري، ددغه ښاخ سره چې نور ښاخونه او څانګې په ګټه او زیان کې شریکې دي، هغوی په اصل کې اورکزي نه دي خو ددوی سره یوځای په اورکزیو کې شمېرل کیږي. دغه څانګې عبارت دي له ابراهیم خیلو، سوکړی، اختان، سورا، کنده تلی او دمېشتي ښاخ، چې له هغو څخه ماما زي، حیدر خیل او داد خیل راوتلي دي.

اورکزي زیاتره دوسلې سره مینه لري او تقریباً هر یو یې وسله لري، دوی ښه تکړه جنګیالي او خوځنده زیارکښ خلک دي، دکرنې او مالدارۍ په چارو بوخت دي، ځمکې یې حاصل خېزې دي. وریجې، وربشې، غنم او جوار یې ښه پیداور دي. دقومي مشرانو او عالمانو واک په دغه سیمو کې زیات دی، خلک یې ښهٔ مېلمه پال دي، څرنګه چې داپریدو په ګاونډ کې پراته دي، نو زیاتره کړنې، دود او دستور یې دهغوی په شان دی.

داورکزیو دوې مشهورې څانګې دولتزي او مستوره دي، انګرېزانو دخپلې استعماري واکمنۍ پرمهال هڅه کوله چې ددوی سیمې تر خپلې ولکې لاندې راولي، خو پر دې کار بریالي نه شول. څرنګه چې داورکزیو په ټولو څانګو کې دولتزي او مموزي خورا زیات دي، چې زیاتره یې په کرمه او نور یې په اورکزي ایجنسۍ کې مېشت دي. (1)

---

1 آریانا دایرة المعارف، لومړی ټوک، دعلوموا کاډمي، دنبراسکا مطبعه، ١٣٨٦ ل کال، ٧۴٦ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴- اپریدي:

اپریدي چې ټول نهه خېلونه دي، لکه ادم خیل، اکاخیل، سه پای، قمر خیل، ملک دین خیل، قمبر خیل، ذخه خیل، کوکي خیل او ستوري خیل. ددغه خیلونو څخه یوازې ستوري خیل په اورکزی ایجنسۍ کې مېشت دي.

اپریدي دککي بن کرلاڼ دڅلورو زامنو (برهان، خوږیانی، سلیمان او شیتک ) یعنې د برهان لومړی زوی عثمان نومیده او په اپریدي سره مشهور شو.

عثمان دا پریدي قبیلي مورث اعلی دی، چې وجهه تسمیه یې په دې ډول بیان شوی ده:

یوه ورځ څو تنه بې وزله مېلمانه دعثمان کور ته ورغلل، چې دډېرې یخنۍ له امله یو بل ته نږدې کښېنا ستل، کله چې عثمان راغی، مېلمنو پوښتنه وکړه، چې دا څوک دی، عثمان په پښتو ژبه ځواب ورکړ چې دا خدای افریده دی، تر دې وروسته دده اولاد په افریده او وروسته په اپریدي شهرت وموند.

اپریدي په خیبر دره، اخور دره، کوهاټ او تیرا کې اوسیږي، چې ختیځه پوله یې دختکو سره برید لري، جنوب لور ته یې بنګښ او د سپین غره څمکني پراته دي، دبنګښو سره اورکزي هم اوسیږي. لویدیځ لور ته یې شینواري او شمال لور ته یې دمومندو سیمه ده. دپېښور په سیمه کې دکچه ګړۍ څخه بیا تر ننګرهار ولایت پورې ددوی په جنوب لویدیځو سیمو ولکه ده او دتیرا سیمه هم ددوی په لاس کې ده.

خو ددې قبیلې اصلي مرکز دتیرا دغرونو هغه سیمې دي، چې ډېرې ښې اوبهٔ او ښه هوا لري او دباغ مېله په همدغه ځای کې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سې ويل کيږي، چې دوی د څوارلسمې ميلادي پېړۍ راهيسې په دې سيمه کې او سيدلي دي.

د خيبر درې اپريدي ډېر زړور او توريالي خلک دي، د سکندر اعظم د پوځ کومه برخه چې په هند باندې ديرغل په نيت له دې سيمې (خيبر) نه تېرېدله، له دوی سره لاس او گريوان شوي او ددوی د سخت مقاومت سره مخامخ شوي دي. د خيبر دره چې د تاريخ په اوږدو کې ډېره مشهوره دره گڼل شوې ده، زياتره او سيدونکي يې اپريدي، شينواري، ملاگوري او شلماني دي، چې اپريدي په کې له نورو زيات دي، د باغ جماعت د دې خلکو د سياسي او مذهبي چارو مهم مرکز دی.

کوکي خيل دراجگل په کڅ او د بازار په وادي دلاله چيني او بيا له جمرود څخه نيولې تر علي مسجد پورې پراته دي، چې د ژمي په موسم کې کجورۍ ته راځي، د زخه خيلو قوم جغرافيوي موقعيت زيات ارزښت لري، چې پېښور او جلال اباد ته تللې لار (خيبر) څخه يوه بله لار هم د زخه خيلو څخه تېرېږي.

قمبر خيل د باړې په لويديځ او د سه پای د بآزار په کڅنۍ کې او سيږي، د ژمي په موسم کې دوی هم کجورۍ ته راځي. دوی د علم گودر په سيمه کې دوسلو کارخانې لري، چې هر ډول وسلې په کې جوړيږي.

اکاخيل د باړې جنوب ختيځ ته پراته دي او ادم خيل د کوهاټ شمال لور ته په دره کې او سيږي، دا پريدو ځينې کورنۍ په د کن، پاني پت، کشمير او وزيرستان کې هم او سيږي، ددوی د کرهنې وړ سيمه ډېره لږه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی له غرونو څخه د سونګ لرګي پېښور ته راوړي او خپله ګوزاره وربانديې کوي او هر کله خپل منځی شخړې د جرګو له لارې فیصله کوي. ([1])

## ۵- خېل:

په پښتني قبیلو کې خیل یو اتنوګرافیک واحد دی، چې د قبیلې محور ګڼل کیږي، خیل د صلاحیت د واک مرجع ده، چې تصمیمونه یې په جرګه پورې اړه لري او جرګه هم د ټاکلو غړو څخه جوړیږي، لکه د پښنو د مجموعې او لویو تصمیمونو لپاره چې مرجع ده، د خیل چوکاټ او موقف تر هر څه وړاندې د جرګې په صلاحیت کې پوره معلومیږي، د خیل جرګه د پښې تر جرګې په لوی صلاحیت جوړیږي.

همدا رنګه د ټبر په جرګه کې بیا خیل د یوه غړي په حیث رایه لري.

د خېل قبیلوي جوړښت په آریایي ټولنه کې چې د پښتني قبیلې مور بلل کیږي په جرګه کې پوره څرګند و.

د خیلونو نماینده ګانو به چې په جرګه کې ګډون کاوه او د تصمیمونو په نیولو کې یې ثابتې رایې درلودې، خو د (کاسټ ) سیستم چې کله وزبږېدی نو قبیلوي اشرافیت د (کاسټ) تابع شو، په کاسټ کې هم د (برهمن، کشتري او ویسا ) ترمنځ رابطه وه او تصمیمونه یې په ګډه نیول، یوازې څلورمه طبقه (شودرا ) د صلاحیت څخه خارج او د مال په جمله کې وبلل شوه.

---

[1] آریانا دایرة المعارف، لومړی ټوک، دعلوموا کاډمي، دنبراسکا مطبعه، ۱۳۸۶ل کال، ۱۸۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتني ننني قبيله کې خېل د قبيلې يو درست واحد دی، چې د عزيز گلوئ (kinship) بنا پر ولاړه ده.

خېل د (زي) سره يو مفهوم لري، خو دغه نومونه په عامه مکالمه کې د (پښتو) او قوم لپاره هم استعمالېږي، ولې د اتنوگرافيک واحد په حيث خېل د (زي) سره مساوي ځای لري.

د جنوبي سيمو په قبيلو کې د (خېل) کلمه او په لويديځو قبيلو کې د (زي) کلمه د دغه قبلوي واحد د اصلي نامه په ضميمه کې راځي.

په هغو قبيلو کې چې د قبيلې د نامه په ضميمه يې (خېل) او (زي) نه وي راغلي د هغه په لانديني کړيو کې (پښتو) کې د خېل او زي لاحقه راغلې وي.

همدا رنگه د خېل په لاندې پښو کې د (پښې) د اصلي نامه په ضميمه (زی) هم راځي.

د لويديځې خوا د قبيلو د (زي) دواحد په (پښتو) کې د (خېل) د کلمې لاحقه ډېره ليدل کيږي.

دا د خيل صلاحيت دی چې يو مجرم سړی د قبيلې څخه ورتې (وشړي) او دا هم د خيل صلاحيت دی، چې د بلې قبيلې سړی په خپل خيل کې ونه مني. دا کار د خيل د جرگې په تصميم عملي کيږي. د خيل قبيلوي موقف موږ ته تر هر څه د مخه د هغه د جرگې په صلاحيت کې راڅرگنديږي. ([1])

---

[1] محمد ابراهيم عطايي، د پښتني قبيلو اصطلاحي قاموس، (حقوقي، جزايي، تعاملي) د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو نړيوال مرکز، ۱۳۵۷ل کال، ۱۰۵ – ۱۰۷ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲- اتنوګرافي(ethnography):

دا یوه لاتیني اصطلاح ده چې د دوو کلیمو یا جزونو څخه جوړه شوې ده، چې لومړی جز یې (اتنو) د خلکو، قوم، قبیلې او توکم په معنا او دوهم جز (ګرافي) یې د لیکنې مفهوم افاده کوي، د(اتنو) کلمه د جمعې په حالت کې د(s) توري په زیاتولو د قبایلو، نژادونو او د خلکو هغه ګروپ او ډلې لپاره پکارول کیږي، چې تراوسه د لیکلو او لوستلو پړاو ته نه وي داخل شوي.

په همدې توګه د ګرافي کلمه چې یوناني بڼه یې (graphain) د to write یا لیکنې په مفهوم استعمالیږي.

په بل عبارت اتنوګرافي د انسان پېژندنې د علم یوه څانګه ده او په ځانګړې توګه د فرهنګي انسان پېژندنه ده، چې په عمومي ډول د بېلابېلو ټولنو او قومونو په فرهنګ لیکلو کار کوي، د قوم لیکنې او خلک لیکنې باندې هم نوموړ شوې ده، همدارنګه اتنوګرافي د توکمونو د شرح کولو په مفهوم هم کارېدلې ده.

د اتنوګرافي د تعریف او مفهوم په اړه د پورتنیو ویناوو په پام کې نیولو سره دې پایلې ته رسیږو، چې اتنوګرافي هغه پوهه ده، چې اساساً د خلکو (اتنوسونو) ترمنځ ورته والی لري، توپیرونه او هغه بدلونونه چې د وخت په تېرېدو سره د دوی په خصوصیاتو او مشخصاتو په اتنیکي بهیر کې رامنځته کیږي، مطالعه کوي.

یا په بل عبارت اتنوګرافي هغه علم دی، چې د ټولنیزو سازمانونو دژوندانه، عرف، عاداتو او دودونو طرز او د خلکو د خپلوی اړیکې له نږدې څخه څېړي او مشاهده کوي، په حقیقت کې اتنوګرافي د فرهنګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان پېژندنې په اړانه کې دعمومي انسان پېژندنې او انترو پولوژي دعلم یوه څانگه ده.

یا په بله ژبه کله چې دانسان پېژندنې په څېړنو کې دانسانانو فرهنگ مطالعه کیږي، دمطالعې دا برخه په اتنوگرافي پورې اړه لري.

اتنوگرافي دیو قوم دفرهنگي خصوصیاتو دپېژندگلوئ لومړنې مواد راټولوي او دفرهنگ انسان پېژندنې بلې څانگې ته یې چې داتنولوژي په نوم یادیږي ورکوي. دعلم دا څانگه یو تر بله بشپړه اړیکه سره لري او یو دبل سره مرسته کوي.

دبشر دقومي او قبیلوي ژوند په پړاو کې دبشر ټول لاسي شیان او آثار مطالعه کوي، له همدې امله په بېلابېلو قومونو پورې داړونده انسانانو داستفادې وړ جوړ شوي شیان او آثار راټولوي او له هغو څخه اتنوگرافي موزیمونه جوړوي. له بلې خوا داتنوگرافۍ او اتنولوژۍ دنده داتنکي کتلو دفرهنگي تکامل او انکشاف دمبداء او منشاء مطالعه او څېړنه ده او ددې مطالعې او څېړنې له لارې روښانه کیږي، چې اوسنیو انسانانو چې دانکشاف کوم پړاوونه وهلي او ددوی ددې اوږده تکامل په بهیر کې پخوا څه ډول عقاید درلودل او دژوندانه دپرمختگ لپاره یې دڅه ډول وسایلو او افزارو څخه استفاده کړې ده، ددې لپاره چې داتنوگرافۍ دعلم څېړونکي وکړای شي دخپل څېړنیز کار او فعالیت په بهیر کې لازم او ضروري معلومات ترلاسه کړي، پکار ده چې دټولنیزو علومو دبېلابېلو څانگو داساساتو سره اشنایي ولري او له هغې څخه مرسته وغواړي. ([1])

---

[1] آریانا دایرة المعارف، لومړی ټوک، دعلومو اکاډمي، دنبراسکا مطبعه، ۱۳۸٦ل کال، ۲۰۹ – ۲۱۰ مخونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷- ترانسکرپشن یا ترانویسي Transcription:

چې غږ ثبت لیکنه او اواز لیکنه هم ورته ویل کیږي له لاتیني کلمې trascripto څخه اخیستل شوې، چې یو لیک دود په بل لیک دود باندې داړوونکي معنا لري. په منظمه او ثابته توګه دودیز غږونه دلیکنې طریقې ته script او transcript ویل کیږي.

په غږ ثبتونه کې phonetic transcription کې دغږونو نښاني کول دهغوی دتلفظ یا اورېدنې دهویت پر بنسټ دي.

یعني غږ لیکنه دهغه اوازونو کښل او ثبتول دي، چې زموږ غوږونه یې اوري.

غږ لیکنه هغه عمل دي، چې دبهرنیو ژبو په تدریس، زده کړه او دقاموسونو په تدوین کې ترسره کیږي. ([1])

## ۸- تاریخ مرصع:

دتاریخ مرصع لیکوال افضل خان خټک چې دخوشال خان خټک لمسی دی. دا تاریخ دپښتنو دهغو ګوتو په شمېر تاریخونو څخه دی، چې په پښتو لیکل شوی او بشپړ متن یې موږ په لاس کې لرو، دا تاریخ دپښتنو په باب روایات راسپړي او تاریخي پېښې دمؤلف تر وخته پورې بیانوي. ددې تاریخ اساسي بحث دپښتنو داصل او نسب په باب دی. دریم باب یې دخالد بن ولید په اړه دی، چې په اسلامي دوره کې دپښتنو مشر باله شي. دپښتنو واکمنانو خبرې دلودیانو څخه راپیل کوي. په سلطان بهلول،

---

[1] پورتنی اثر، ۲۶۴مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطان سکندر او ابراهیم لودي غړیږي، بیا دخوشال خان خټک پر وخت دتاراګهړ په یو مهم خبرې کوي، بیا بېرته شاته ځي او پېښور ته له کندهاره، غوري، خښي او کرلاڼي پښتنو دراتللو په پېښو غړیږي، بیا دخټکو او خپلې کورنۍ احوال بیانوي.

دپیر روښان او دده دکورنۍ پېښې راا خلي، دمیرویس خان غلجي دواکمنۍ بحث راوړي، په پېښور کې دجمال خان غمیزه بیانوي، دبنګښو سره دجنګ احوال راوړي، بیا دخپل وخت پېښې چې مؤلف په کې خپل ځان دخیل بولي، بیانوي.

بیا دخوشال بابا په وفات او نورو موضوعاتو خبرې کوي.

دکتاب بله برخه دپښتنو اولیاؤ تذکره ده، چې بېټني، غرغښتي او کرلاڼي ستانه، عارفان او صوفیان په کې راپېژني.

دکتاب په وروستۍ برخه کې دپښتنو شجرې او نسب نامې راغلي دي.

افضل خان خټک په دې تاریخ کې دتېرې زمانې پېښې له زړو تاریخونو څخه او دخپل وخت پېښې یې په خپله په دقت سره څارلي او بیان کړي دي، دتاریخ مرصع دلویو ماخذونو څخه یو هم دخواجه نعمت الله هروي (مخزن افغاني) دی چې دپښتنو اصل او نسب یې ترې نېغ په نېغه ژباړلی دی او دپښتنو داولیاؤ په برخه کې یې ترې ډېر څه راخیستي دي.

دوه نور مهم ماخذونه یې یو مخزن الاسلام او بل تذکرة الابرار والاشرار داخون درویزه مهم تالیفات دي.

او پاتي دوه نور ماخذونه یو دجمیل بیګ (مناقب شیخ رحمکار) او بل دخوشال خان خټک یادښتونه چې په ګڼو بیاضونو کې لیکل شوي وو او افضل خان خټک دموضوع داړتیا په صورت کې ترې اقتباسات کړي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ځای پر ځای يې لاسوهنه هم په کې کړې ده، داسې ويل کيږي چې دتاريخ مرصع په ليکلو په خپله خوشال خان ختهک کار پيل کړی و، افضل خان ختهک دخپل نيکه په جوړ شوي چوکاټ کار کړی او نور مطالب يې وربانديې زيات کړي دي.

په نتيجه کې ويلای شو چې دتاريخ مرصع متن ښيي، څنگه چې دخوشال بابا يادښتونه خواره واره وو او ديو منظم کتاب بڼۀ يې نه وه غوره کړې، همدا راز افضل خان هم دا راز يادښتونه راغونډ او دکتاب لپاره يې ترې فصلونه جوړ کړي دي، دا فصلونه منظم نه ښکاري، واقعات دپېښېدو له مخې وړانديې وروسته دي، دتاريخ مرصع وروستی چاپ په ۲۰۰۶م کال کې تر سره شوی او دمخونو شمير يې **۱۳۴۲** پورې رسيږي. ([1])

[1] آريانا دايرة المعارف، دويم ټوک، دعلوموا کاډمي، دنبراسکا مطبعه، ۱۳۸۷ل کال، ۵۸۹ – ۵۹۰ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه


۱. آریانا دایرة المعارف، دویم ټوک، دافغانستان دعلومو اکاډمي، دنبراسکا مطبعه، ۱۳۸۷ل کال.
۲. افغاني، محمد حیات خان: حیات افغاني،دویم چاپ، دویم ټوک، ۱۳۷۰ل کال.
۳. تڼیوال،څېړنوال مولا جان. ژبه او ټولنه، دافغانستان دعلومو اکاډمي، کابل، شعیب مطبعه، ۱۳۸۸ل کال.
۴. حبیبي، عبدالحی. دپښتو ادبیاتو تاریخ دوهم ټوک، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۴۲ل کال، ۲۸۵مخ.
۵. خادم،قیام الدین.بایزید روښان، پښتو ټولنه،دولتي مطبعه، ۱۳۲۳ل کال ۲۳-۲۴مخونه.
۶. خټک ،افضل خان. تاریخ مرصع، مقابله وتصحیح او نوټونه، دوست محمد خان کامل مومند ، یونیورستي بک ایجنسي، پېښور.
۷. دوست، څېړنمل دوست محمد. دافغانستان ژبې او توکمونه، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۵۴ل کال.
۸. رښتین،پوهاند صدیق الله. دننگرهار ننداره، یونیورستي بک ایجنسي،پېښور، ۱۳۷۴ل کال.
۹. شپون، څېړنیار وجیه الله. دپښتنو او پشه یانو دشفاهي ادبیاتو ځینې ورته بېلگې، دافغانستان دعلومو اکاډمي، دژبو او ادبیاتو مرکز، ۱۳۸۹ل کال.
۱۰. ننگرهاری، اخوند دروېزه. تذکرة الابرار والاشرار، چاپ اداره اشاعت سرحد ، پیشاور.
۱۱. ننگرهاری، اخوند دروېزه. مخزن الاسلام،پښتو اکاډیمي پېښور یونیورستي، دسید تقویم الحق کاکا خېل مقدمه، ۱۹۶۹م کال.
۱۲. مخلص،کندهاری علي محمد: حالنامه میاروښان، لومړی چاپ وزارت اطلاعات وفرهنگ، ۱۳۸۸ل کال.
۱۳. ملاتړ،زکریا: تیرايي ژبه، دزیري کالنۍ،پښتو ټولنه، دولتي مطبعه،۱۳۵۷ل کال.
۱۴. G.A.Grirson , ISILS , Vool ۱ , calautta , ۱۹۲۷ .
۱۴. G Morgen Stierne Report on a Linguistic Mission to afganistan. Oslo , ۱۹۲۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تیرایان او ژبه یې

زکریا ملاتړ

۱۳۹۴ ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: تیرایان او ژبه یې

لیکـــوال: زکریا ملاتړ

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنگي څانگه

وېـبپـانـه: www.melitahrik.com

ډیزاینـگر: ضیاء ساپی

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۴۵)

یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

**سرلیک** **مخ**


دلاربنود استاد په توګه نظر ........................................ ۱
تقریظ: ........................................ ۸
تقریظ: ........................................ ۱۴
سریزه........................................ ۱۸

لومړۍ څپرکی

د موضوع شالید........................................ ۲۳

دویم څپرکی

د تیرایانو نسب او شجره........................................ ۲۹
د تیرایانو میشت ځایونه........................................ ۳۲
روښانیان او تیرایان........................................ ۳۴

دریم څپرکی

د تیرایانو او ژبې په برخه کې د پوهانو نظریات........................................ ۳۸
الف ـ د کورنیو پوهانواو څیړونکو نظریات........................................ ۳۸
ب ـ د بهرنیو پوهانو او څیړونکو نظریات........................................ ۴۶

څلورم څپرکی

د اندوآریایې ژبو په ډله کې د تیرایې ژبې دریځ........................................ ۶۶
له همګروپ ژبو سره د تیرایې ژبې پرتلنه........................................ ۷۷
د تیرایې ژبې ګرامري جوړښت او ځانګړنې ........................................ ۸۵
د تیرایې ژبې د مړې کیدلو او متروک کیدلو لاملونه ........................................ ۹۳

پنځم څپرکی

د تیرایې ژبې تر لاسه شوي وییونه او جملې (ترانسکرپ او تجزیه) ........................................ ۹۷
د تیرایې ژبې نظم........................................ ۱۱۳
پایله........................................ ۱۱۴
وړاندیزونه........................................ ۱۱۸
ضمیمې........................................ ۱۱۹
ماخذونه........................................ ۱۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحريک د هېواد پال او فرهنګپال شخصيت ښاغلي (احسان الله کاموال) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته يې اوږه ورکړه. ملي تحريک وياړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ يې پيل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هيله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

يو ځل بيا د دې اثر له ليکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د ليکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مينه

د افغانستان ملي تحريک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تیر ایان او ژبه یي



د خپرونو لړ: ۴۵

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**